بسم الله الرحمن الرحيم

Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ځانمرګی

لیکوال: احمد فهیم کوهدامنی
ژباړن: زردشت همراز

نشر پرواز

(c) ketabton.com: The Digital Library

**ځانمرګی**
لیکوال: احمد فهیم کوهدامني
ژباړن: زردشت همراز
اډیټ او کتنه: سلام افغان
دیزاین: شکیب جسور
ټوکه: ۱۰۰۰ جلد
بیه: ۱۰۰ افغانۍ
خپرندوی: نشر پرواز
بریښنالیک:parvaz.G2017@gmil.com
فسبوک: www.facebook.com,nashreparbaz
د اړیکې شمېره: ۰۷۰۷۴۸۸۶۲۰او ۰۷۹۰۹۴۰۰۰۵

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ترهګري

ترهګري په سالمي ټولنه کي د يوه پليت ميکروب غوندې وده کړې چې په حيله او مکر سره د مسلمانانو په منځ کې ناخبره او تند مزاجه وګړي په ننبه کوي، وېرونکي او خطرناک جرمونه ور باندي کوي.

تر يوه ترهګر مخکي يو ترهګر فکر موجود وي، چې هر څه د خپلو شيطاني غوښتنو قرباني کوي، خو لويه ستونزه داده چې د تروريزم دا خطرناک ميکروب په خپله ظاهري اسالمي څېره سربازګيري کوي. تاسې په دې داستان کې لولئ چې ځنګه ځوانان په خپلو وعدو بې الرې او د مرګ کومې ته ورټېل وهي.

دا کيسه د هغو کړنو ټولګه ده چې وګړو ته د هغه نجس ميکروب پر وړاندي پوهاوی ورکوي؛ کوم چې له بده مرغه هر وخت زموږ ټولنې ته زيان رسوي.

همدارنګه قدرمنې کورنۍ دې ته متوجه کوي چې د خپلو اوالدونو زده کړو ته پوره پاملرنه وکړي تر څو د تروريستي شبکو په دام کې ونه لوېږي.

د دې تر څنګ تاسي په دې کيسه کې لولئ، چې ترهګر روزونکي ځايونه نه يوائې په ښکاره ديني رنګ لري بلکې په د ننه کې يې داسي کړنې تر سره کېږي چې له دين، فرهنګ او انسانيت سره تړاو نه لري.

احمد فهيم کوهدامني

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

# سريزه

جګړه د يوه تاريخي ميراث په توګه د بشر په مختلفو تاريخي دورو کې په بېلابېلو ډولونو موجوده وه او تر اوسه لا دوام لري. اوسنۍ جګړه ګڼ او پېچلي اړخونه لري. په دې جګړه کي يوازي مقصد په فزيکي توګه د يوې موخې په نښه کول نه دي، بلکه هڅه کېږي چې په دې سربېره فزيکي او ايډيالوژيکي له منځه وړل هم تر سره کېږي. ښکېلې ډلې او جريانونه په بېلابېلو ډولونو دخپلو فکري نسخو د غوره والي په لټه کي دي او هڅه کوي چې خپل روايت مطلوب ځای ته ورسوي.

دلته دي چې ښکېل اړخونه د خپلو رواني عملياتو پروسې ته چټکتيا وربښي تر څو وکولای شي چې د سرباز ګيري کچه وربانديي لوړه کړي.

دا طيبعي ده چې هر لوری د خپلې جبهه نيونې د حقانيت لپاره خپل فکر لري او د خپل ځان برحق ګڼلو لپاره له مختلفو لاروچارو ګټه اخلي، تر څو خپل قيام ته په ټو له کي حقانيت ورپه برخه کړي. په دې برخه کي بيا افراطي ډلې دخپلو مبارزاتي نقشو دتر سيم لپاره (دين) وسيله ګرځوي او دا تګلاره د دوو دلايلو پر بنسټ د دوی د خوښې وړ ده:

١-د مسلمان جمعيت په منځ کې د ديني ارشاداتو مقبوليت.

٢-د مشروع غوښتنو پر بنسټ د قضيې د ظاهري څېرې برابرول (مسلمانانو ژغورل او دظلم په مقابل کي د مسلمانانو دريدل)

(c) ketabton.com: The Digital Library



له دې ډلو څخه یوه یې چې دین د خپلو پرېکړو دتوجیه لپاره وسیله ګرځوي، طالبان دي. پر دې اساس چې د دې ډلې ماهیت او اصالت ټولو ته د لمر په څېر روښانه دی. خو په ښکاره بیا دې ټولو تیاره فکرونه د دین په جامه پوښلي، کومه ټولګه چې ستاسې په لاس کې ده؛ د طالبانو په دام او ترورېستۍ ځاله کې د یوه تنکي ځوان د لوېدلو ترخه کیسه ده. دا ښکاره ده چې طالبان د یوې پروژې په عنوان د استخباراتي سازمانو له لوري رامنځته شوي دي او نږدې دوې لسیزې کېږي چې په بېلابېلو لارو سرباز ګېري کوي او له عادي لارو چارو کار اخلي

لکه:

- په دین او ارشاداتو یې استناد
- مغز وینځل
- په افکارو لوبې کول
- دوکه او بېلارې کول
- دوېرې او وحشت خپرول

د دې ډلو هر یو یې زموږ په ټولنه کې ګڼې بېلګې لري، له دې جملې یې مغز وینځل د دې ترورېستي ډلې اړوندو مدرسو او پټنځایونو له تر ټولو معمولې طریقې ګڼل کېږي. که دې ډلې د سربازګېري غوښتنو او حوزو ته ځېرشئ نو په اسانۍ سره به درته جوته شي چې د ټولنې تر ټولو بې سواده او لوېدلي خلک د دوی په دام کې لوېږي. ځکه نو جوته ده چې لوستي او شعوري خلک د دې جریانونو خوراک نه کېږي. طالبان په هغو کلیو کې چې لېږ خلک یې لوستي دي، سرباز ګېري کوي او هغه کسان چې په فکري سرګردانۍ او ابهام اخته وي د مغزوینځلو مرحلې ته داخلېږي او وروسته دیوه عقده یې، تاریک فکره او وروسته پاتې موجود په توګه جنګي جبهو ته ځي او یا هم ترورېستي مانورو، لکه چاودنو، ځانمرګو، او د بې ګناه خلکو وژلو ته لاس اچوي. د یادونې ده چې د لېږ سواد لرونکي جمعیت له منځه استخدام هم له

(c) ketabton.com: The Digital Library



مالي او معنوي پلوه اسانه وي، ځکه جګړه په تاکتیکي کچه نه وي او ډېریو جګړه مارو یې فرېب خوړلی دی.

د مغز وینځلو په مرحله کې جګړه ماران هڅه کوي چې خپل فکر او کړنلاره د نورو په مغز کې ځای کړي. دا پروسه ډېرې مرحلې لري. دوی هڅه کوي چې خلک په ډېر مجبوریت کې را ونیسي او د فرد اراده د انتخاب لپاره  له هغه سلب کړي چې بېرته نه شي راګرځېدای او باید دوام ورکړي. وروسته نویو پړاوونو ته ننوځي چې پایله یې د هویت بحران دی.  بالاخره یې د تصمیم نیونې قدرت او اراده فلج کېږي او ټولو هغو غوښتنو ته غاړه ږدي چې د مغز وینځلو په پروسه کې ترې غوښتل شوې دي. په دې دستګاه کې تولید شوي افراد د پخوا په پرتله ډېر بد فکر لري. د دې کسانو ځانګړتیا ظلم ، بدګماني، عقده یي،ارماني، په ټولو ارزښتونو باندي پښه اېښودل، افراطي او په رواني اختلال اخته کېدل دي.

دا وګړي ډېر کله خپلې هیلې ته د رسېدلو په پار خپله کورنۍ د وسیلې په توګه کاروي او لومړی تاوان  یې هغوی ته رسېږي، وروسته ټولنې ته راځي. دا ټولګه چې ستاسې په لاس کې ده، د یوه نوي ځوان له احساساتو سره د لوبې یوه  تر خه کیسه ده، چې عملاً د مغز وینځلو د دستګا، فرېب او دوکې خوراک کېږي. لیکوال هڅه کړې، چې د داسې ځوان ژوند په لیکلې بڼه ولیکلي، چې د یو ې ترورستي ډلې د رواني عملیاتو قرباني شوی او په پای کې په خپل کړي کار باندي پښېمان هم دی. لازمه ده چې د دې ټولګې له لیکواله مننه او ستاینه وکړو او ټو لو هغو ځوانانو په ځانګړې توګه هغو نویو او تنکي ځوانانو ته چې په بېلابېلو ځایونو په تېره بیا دیني مرکزونو کې په زده کړو بوخت دي د دې کتاب د لوستلو وړاندیز کوم.

حارث جبران

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځمکه  په سپینو واورو پوښلې وه، د حیوانانو غړونه له لرې اورېدل کېدل. د خلیفه بادام ګل کوچنی کاکل شوی کور ډېر سوړ هم نه وو. د خلیفه بادام ګل اولادونه په پخلنځي کې سره راټول وو او په سهارنی یې د غوا شیدې څښلې، چې  د دروازې ټک ټک یې تر غوږ شو، د خلیفه بادام ګل مشر زوی عبادالله دروازې ته ورغی.

خلیفه بادام ګل:  ګوره که جنت میر کاکا دي وو، ورته ووایه چې شیدې تیاري دي.

عبادالله: په دواړو ستر ګو بابا جانه.

عباد الله دروازه پرانیسته، ګوري چې له مدرسې ځوځوانان راغلي او نور ځوانان د مدرسې ژمني درسونو ته رابولي.

د مدرسې د چړیانو استازی عباد الله ته وایي تاسي ځوانان اوس له ښوونځي رخصت شوي یاست، ښه ده چې د نورو دیني زده کړو لپاره زموږ مدرسې ته چې بیخي په کلي پسي نښتې ده راشئ، تر څو د عصري علومو ترڅنګ له دیني علومو هم خبر شئ.

عباد الله:  اوس د سهار د چای وخت دی، راځئ لومړی له ماسره چای وڅښئ، وروسته به بیا په دې اړه خبرې کوو.

چړیانو یو بل ته وکتل او د عبادالله د سهار د چای لپاره بلنه یې ومنله.

عبادالله غږ کوي: تور سرې (ښځې) خوبه نه وي، چې مېلمانه راسره دي، مولوي

(c) ketabton.com: The Digital Library



صاحبان دي.

د مدرسې طالبان له عبادالله سره کور ته ننوځي، له خلیفه بادام ګل او ماشومانو سره له روغبړ وروسته چای ته کښني او عبادالله خپلې مور ته ورځي.

عباد الله: ببوجانې د مدرسې شاګرانو ته هګۍ پخې کړه.

دعبادالله مور: د مدرسې شاګر دان ځوک دي، طالبان نه وي؟

عباد الله: نه ببو جانې، طالبان خو ټوپکي لري اوجګړې کوي. دوی خو يوائحي سبکان وايي.

د عباد الله مور: هغه طالبان چې ټوپکونه لري هم اول د ملايانو شاګردان و، وروسته يې يو شمېر چې لايقه و، ملايان شول او ټمبلانو يې ټوپکې واخيستې او خلکو ته بلاوې شوې.

عبادالله: ادې جانې، دوی د ښوونځي د رخصتيو په وخت کې هلکان درسو ته هڅو ترڅو په ژمي کې وکړای شي قرانکريم په تجويد او ژباړه زده کړي.

دعبادالله مور: څه خبره يم، نه پوهېږمه، تاسي خپله پرېکړه وکړئ، پام کوئ چې ځوک دوکه درنه کړي او بدې لارې ته مو کش نه کړي.

دعبادالله مور څو دانې هګۍ په کړايي کې چې په نغرې ايښې ده او غوړې يې هم ښه سره شوي دي اچوي تر څو پخې شي او مېلمانه چړيان يې وخوري.

وروسته له څو دقيقو عبادالله له پطنوس سره صالون ته راداخلېږي او هګۍ د مدرسې د چړيانو مخ ته ږدي.

عبادالله: مهرباني وکړئ مولوي صاحبانو، د زراعتي چرګانو هګۍ نه دي، د وطني چرګانوهګۍ دي.

چړيانو چې د ډوډۍ د خوراک په وخت کي يې خبرې کولې خليفه بادام ګل ته وويل: خليفه صاحب، مورږ او تاسي مسلمانان بايد د خپلو اولادو زده کړو ته پام

(c) ketabton.com: The Digital Library



وکړو چې په ښوونځي کې دنيايې درسونه وايي او له ديني درسونو لرې پاتې کېږي. د ښوونځي د رخصتيانو په وخت کې خپل اولادونه زموږ مدرسوته راولېږئ چې هم شرعي درسونه ووايي او هم مبارزاتي.

خليفه بادام ګل: ستاسې دا استاد څه کاره او څوک دی؟

وفي الله سيفي: مولوي سيف الرحمن، کامل او شامل استاد دی چې زياته ديني او دنيوي پوهه لري اوپه ګڼو اسلامي ښارونو کې يې ډېرى تلاميذ په دعوت الى الحق او د کفارو په خلاف مبارزې مصروف دي.

خليفه بادام ګل: چړي ګله، زه ستاسي په دا غټو غټو خبرو نه پوهېږم، لنډه دا چې زموږ راولادو ته هم سبق مبق ورزده کړئ او کوښښ وکړئ چې دخدای او رسول په لاره يې روان کړئ، نه په کومه بله لار.

وفي الله سيفي: خليفه کاکا بيخي بې غمه اوسه، په توکل د خدای زموږ لاره سيخه او مستقيمه ده.

ناشته خلاصه شوه او چړيانو د تلو تابيا وکړه.

وفي الله سيفي: خليفه صاحب، که ستاسې اجازه وي عباد الله به له موږ سره مدرسې ته ولاړ شي، ليږ تر ليږه له درسي حلقو سره خو به اشنا شي.

خليفه بادام: له پيره تر فقيره اجازه ده، درسره بويې زئ او ډېر کوښښ ورسره وکړئ، چې ښه سبقان زده کړي، البته قرائت او حفظ هم ورباندي وکړئ چې په يوه مړي او ژوندي کې يې د قرانکريم تلاوت ته ضرورت احساسېږي.

چړيان دخليفه بادام ګل له کوره ووتل، عباد الله له پلار، مور، ورونو او خويندو خدای پاماني را اخلي، مور يې هغه په ژړا رخصتوي او دا ټينګار ورباندي کوي: زويه له بې بندوباره هلکانو سره ونه ګرځې، سبقونه دي ښه سم ووايه، ګوره زوی جانه چې د مکتب له شروع کېدو مخکې بېرته راشې، فکر دي وي چې موږ په قوم کې مو سرټيټې نه کړې، بايد په هسک سر وګرځو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



عباد الله په داسي حال کي له کوره راووت چي سترګې يې له اوښکو ډکې وې او له نورو چړيانو سره د مدرسې خوا ته روان شو. د لارې په اوږدو کې چړيانو عباد الله ته د درسي حلقو او په ځانګړې توګه د هغو شپو خوږې کيسې کولې، چې په کې د سيف الرحمن ځانګړی استازی هم په بالفعل ډول حضور لري. د خوراکونو او د چړيانو د جامو په هکله يې هم عبادالله ته ډېرې کيسې وکړې.

کله چې مدرسې ته نږدې کېږي د عباد الله سترګې په يوه لوحه لګېږي چې پرې ليکل شوي دي (دسيف الاسلام اسامه عالي مدرسه). د مدرسې نوم او د لوحې په شاوخوا رنګه ليکل شوې حاشيې د عباد الله تو جه ورجلبوي او په پرله پسې ډول يې لولي.

وفي الله د مدرسې په انګړ کې ګڼ شمېر کوټې عبادالله ته د ګوتو په اشاره ورښيي او ځيني کلمې هم تکراروي. دوی د خپلې کوټې خوا ته چې په کې وفي الله او ملګري يې ويده کېږي، روانېږي. د چړيانو کوټې ته د ننوتلو په وخت کې د عباد الله سترګې په ډېرو نويو شيانو لګېږي لکه: رنګارنګ لونګۍ، د کاليو کڅوړې، جالب جالب کتابونه او ... .

لومړۍ ورځ دا ډول پای ته رسېږي او د شپې له نورو چړيانو سره درسي حلقې ته ورځي.

وفي الله هغه ته يوه لونګۍ ورکوي، چې په سر يې کړي، د ماخستن له لمانځه وروسته چړيان د درسي حلقې لپاره تر ملا صيب ګرد چاپېره کېني او درس پيلوي. دا درسونه لېر لېر د عباد الله په عقيده اغېزه کوي. عباد الله دخپلې کوټې له ملګرو سره دکوټې خواته د ويده کېدلو لپاره ځي. ګوري چې په کوټه کي يې يو د پاخه عمر سړی هم ويده دی او مخ يې په ځادر پټ کړی دی. چړيان ټول په خپلو خپلو ځايونو کې ويده کېږي، يوڅه وخت وروسته د سهار اذان واورېدل شو. عباد الله له خوبه جګېږي او داوداسه لپاره د اوداسه ځای ته ځي تر څو له ګڼه ګوڼې مخکي اودس

(c) ketabton.com: The Digital Library



وکړي، خوتر اوسه د اوداسه په ځای کي هیڅوک نه لېدل کېږي.

له اوداسه وروسته مسجد ته ځي، په لاره کي ګوري چې د مسجد ملا تازه له خوبه را پاڅېدلی او د اوداسه دځای خوا ته روان دی.

عبادالله: السلام علیکم ورحمت الله جناب مولوي صاحب محترم.

مولوي ګلبدین: وعلیکم، څه حال دي دی چړي جانه؟

عباد الله: الحمدالله ښه یم.

مولوي ګلبدین: ته نوی په نظر راځې، تازه شامل شوی یې؟

عبادالله: هو، زه تازه راغلی یم تر څو د ژمي په رخصتیو کې دیني کتابونه ولولم.

مولوي ګلبدین: د څه شي رخصتي؟ کوم بل ځای دي هم درس وایه؟

عبادالله: هو د (دِه نو) کلي په لېسه کي درس وایم.

مولوي ګلبدین: ښه نو مکتبي یې؟ فکر دي وي چې د مکتب خبرې دې د چړیانو په حلقو کې ونه کړې.

عباد الله حیرانېږي او سر د اطاعت په اشاره ښوروي. خو د ملا په دې خبرو سره په چورت کې ډوبېږي چې ولې باید د ښوونځي خبرې په مدرسه کې ونه شي!

عبادالله مسجد ته ننوځي، ګوري چې تر اوسه هیڅوک نه دي راغلي او دشپنیو درسو د شور او غوغا هیڅ اثر نه لیدل کېږي. دوه رکعته سنت لمونځ کوي او کله کله خو له ډېر شوق او علاقې ځیني ایاتونه په یو څه لوړ غږ ووایي، ځکه په مسجد کې هیڅوک نشته چې په ده باندې نیوکه وکړي.

له دوه رکعته سنت لمانځه اداکولو وروسته مسجد له الماری څخه قران کریم وراخلي، محراب ته مخامخ ستنې ته تکیه کوي او د انفال سورت په تلاوت شروع کوي.

نږدې لس دقیقې چې تېرېږي نو ملا او د مدرسې یو بل استاد مسجد ته راننوځي

(c) ketabton.com: The Digital Library



او سنت لمونځ کوي. د لمانځه او دعا له ختمېدو وروسته حيرانېږي چې دا خلک د شپې د درس په جريان کې له ديني جذبې غرېدل، نو د سهار د لمانځه په وخت کې چېرته و؟

عباد الله خپلې دخوب کوټې ته ځي، ګوري چې ټول ويده دي او تر اوسه لا څوک نه دي پاڅېدلي، چې لمونځ وکړي او يا سهارني درسونه شروع کړي. دی هم د دې لپاره چې نورو ته مزاحمت ونه کړي، په خپل ځای کې پرېوزي. د مدرسې د ناظم وېرونکی غږ دوی ټول راويښوي: راويښ شئ سره غرمه ده.

عبادالله سترګې خلاصوي، ګوري چې ټول په مدرسه کې ښکته پورته روان دي. د ده د کوټې ملګري هم راويښ شوي دي او يو يو د تشناب خوا ته روان دي.

عباد الله: وفي الله وفي، بيخي غرمه ده تر اوسه مو د سهار چا ی لا نه دی څښلی، خو غرمه شوې ده. وفي الله هم را ويښېږي او دواړه د مخ او لاس وينځلو لپاره د تشنابونو خواته ځي. د مدرسې په هر ګوښه ځای کې څو چړيان ليدل کېږي چې د مولوي سيف الرحمن د فعاليتو او مبارزو تودې کيسې کوي.

عبادالله وفي الله ته: ولې د سهار لمانځه ته نه شوې راويښ؟

وفي الله: په خوب کې ډېر نارام وم او د شپې مې تر ډېرو درس وايه.

عبادالله: سمه ده، خو لمونځ فرض دی!

وفي الله: ته تر اوسه نه پوهېږې، چې يو څه وخت لا زموږ په درسي حلقو کې تېر کړې او زړه دي پاک کړې بيا خپله پوهېږې. ځيني وخت موږ ته د مولو ي سيف الرحمن له لوري اجازه راکړل شوې ده، ځکه چې موږ د خپلو درسو تر څنګ، د خپل مسلمه امت د عزت احيا کولو لپاره مبارزه کوو.

عبادالله: خو ماته مې پلار ويلي دي چې که لمونځ ونه کړې نه دي ښښم.

وفي الله: خير دی د پلار خبرې دي سمې دي، خو مذهب دځينو ځانګړو خلکو لپاره استثنايي احکام هم لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



څو شپې او ورځې تېرې شوې او يوازې د ورځې له دوو تر دريو ساعتو  فقهي کتابونه لولي او نور وخت بيا د جنګ په هکله د وعظ په حلقو کې بوخت وي. عبادالله لېږ لېږ له محيط سره عادت کېږي او ځينې کارونه يې د تفريح او ساعت تېري په توګه خوښېږي.

يوه شپه واوره ورېږي، ساړه هم دي، د چړيانو په کوټو کې د ډبرو د سکرو بخارۍ اېښې دي. د دوی په کوټه کې هم هماغه بخارۍ چې ده او د اوبو سطل(باټلۍ) يې هم  پر سر اېښې ده. عبادالله په خواړه خوب ويده دی، چې يو دم يې سخت ټکان وخوړ، ګوري چې بدن يې نيمايي لوڅ دی او يو کس په ده پسې ځان موښي.

عباد الله: څوک يې؟ څه کوې؟ لرې شه!

خو په خوله يې ټينګ لاس نيول کېږي او په زور تېری ورباندې کېږي. له څو دقيقو لنډې لنډې ساه اچولو وروسته ټوله کوټه سکوت شوه او عبادالله متوجه کېږي چې مولوي ګلبدين په هغه تېری کړی دی.

(ديو شمېر نېکو مولوي صاحبانو مقام ته د احترام له کبله له دې وروسته په دې کيسه کې د ګلبدين نوم د مولوي له مختاړي پرته ليکم)

سترګې يې دګلبدين په څېره لکه مېخ داسې خښې سوې او په ډېره حيرانتيا هغه ته ګوري!

حيرانېږي؛ يوازينی کس چې تر ټولو ډېر د ټولو د چلند او حرکاتو ساتونکی وي، ولې پر هغوی تېری وکړي.

عباد الله: ولې دې دا کار وکړ؟

ګلبدين: ته ښه هلک يې، ستاچلند او کړه وړه مې خوښ شول، ومې غوښتل چې د دې کار په کولو سره تا له دې ټولو ځانګړتياوو سره په خپله ډله کې شامل کړم. ما بده اراده نه درلوده، بلکې غوښتل مې چې له تا سره په  نيږدې والي سره له تاسره يوه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ډېره صميمانه او نيږدې اړيکه جوړه کړم.

عباد الله: بد دي وکړل بې شرفه اوس پلمې کوې.

دواړه په جنګ او دعوه شروع کوي چې په دې وخت کې يې غږ لوړېږي او نور چړيان له خوبه را ويښېږي. ټول ګوري چې د عبادالله حالت خراب دی.

وفي الله: ولې څه خبره ده؟ خلک خوب ته نه پرېږدئ!

عباد الله: ستر ګې يې له اوښکو ډکې، ستونی يې وچ او تريخ تريخ کېږي، غواړي چې څه ووايي، خو ګلبدين يې په خوله ټينګ لاس ږدي او په زور يې له کوټې د باندې باسي.

ټول چړيان په حيرانونکي انداز يوه بل ته ګوري، د هر يوه په ذهن کې دا پوښتنه ورګرځي چې څه خبره به وه؟ او دوه کسه بيا په خپلو موبايلونو فلم ډکوي.

ګلبدين له کوټې د باندې خپله توپانچه د عباد الله پر سر ورنيسي او وايي: که دې چاته ووېل تا او کورنۍ دې کفارو ته دجاسوسي او مبارزو علماوو ته د توطيې په جرم مرداروم. له دې پرته بيا له ماسره همکار اوسه. همېشه شفقت در باندې کوم او هر څه ستا په واک کې درکوم.

عباد الله چې ډېر وېرېدلی و او تر ټولو ډېر بيا هغه خطر ته چې ګواکې کورنۍ به يې له منځه يوسي متوجه دی، ځان کنټرولوي او ګلبدين يې له ځان سره د مدرسې دفتر ته بيايي.

په دفتر کې يې پر سر ګل پاشان ور اچوي او ټول چړيان را بولي.

عبادالله چې ډېر وېرېدلی و او ژبه يې بنده بنده کېده؛ حيران وو چې څه نوري بلاوې به يې لا سر ور وخوري.

له ټولو کوټو ګڼ شمېر چړيان او د مدرسې يو شمېر استادان له پنجرې د کوټې منځ ته ورګوري چې څه خبره ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ګلبدین: ګرانو علماوو او چړیانو، عباد الله ستاسي د کوټې نوي ملګري په خوب کي د کفارو له لوري په کلیوالو باندي د ظلم وحشتناکې صحنې لیدلې دي او هغه په خوب کي لیدلي دي چې څنګه کفارو د مسلمانانو پر ښځو او ماشومانو تېری کوي. هغه یو ډېر رشید او زړور ځوان دی چې ښایې خدای پاک د یوه ډېر مهم کار لپاره غوره کړی وي.

اوس نو تاسي ټول په خپلو کارو پسي ولاړ شئ زه له عبادالله سره د مدرسې په دفتر کې خبرې کوم. عباد الله په الوتي رنګ او ډک زړه د ګلبدین دې ډرامې ته کتل.

ګلبدین: عباد الله خانه، ودي لیدل چې د ټولو هلکانو خولې مي ور وتړلې چې په تا پسي بې ځایه تور ونه وایي، ځکه ته زموږ له لوري غوره شوې او ستا مقام د مدرسې تر نورو ټولو چړیانو لوړ شو. د ګلبدین په دې جادویي خبرو سره عباد الله تشویشي شو، لکه چې د ګلبدین خبرې سمي دي او دی یې په وړاندي ناسم فکر لري.

عباد الله: نو دا لواطت دي ولې وکړ؟

ګلبدین: و هلکه ته تر اوسه نه پوهېږې، ما یوازي غوښتل چې په تا شفقت وکړم او په تا کي داسي خواص پیدا کړم چې په هر حالت کې زما د راز ساتونکی واوسې. تا په خوب کې خبرې کولې او له خولې دي د سیف شهید اسامه بن لا دن غږونه راوتل. لومړی مې فکر کاوه چې هغه ژوندی شوی دی، خو کله چې ځیر شوم ومې لیدل چې تا خبرې کولې، خو غږ د حضرت شهید اسامه و. ستا نور ټول بدن نوراني شوی وو، خو یوازي دي د پرتوګ لیږ ځای ناپاک و؛ هغه پرښتو ستا له بدنه وایست تر څو د حضرت صیب اسامه دروح د نا ارامۍ سبب ونه ګرځي. ته لړزېدې زه په تا سربېره پرېوتم تر څو دي د لړزې شدت راکم شي. د ګلبدین په دې خبرو سره د عباد الله غوسه ورو ورو کمېده، حیران وو چې څه وکړي!

عباد الله: مولوي صیب زه یو بل احساس لرم او ته بیخي بېل څه بیانوې. ما فکر

(c) ketabton.com: The Digital Library



وکړ چې تا له ما سره لواطت وکړ.

ګلبدین: احتیاط کوه، دا د شیطان وسوسه ده چې تا ته فریب درکوي. تا حضرت اسامه په خوب ولید او لوړ مقام ته ورسېدې. اوس نو انسي او جني شیاطین تا ته د وسوسې در اچولو کوښښ کوي. را څه چې یو ځای غټ اودس وکړو، څکه ته لوړ مقام ته رسېدلی یې او شیطان غواړي چې تا ته فریب در کړي او خدای مکړه له دې شیانو دې منکر کړي.

عباد الله: اودس خو اودس دی، غټ او دس یې بیا څه شی دی؟

ګلبدین: غسل باید وکړې، عطر ووهې او وروسته بیا له دې سپینو لونګیو نه یوه پر سر کړې.

عباد الله ته داسې خبرې ډېرې نااشنا وې او نه پوهېده چې د دې کیسې پایله به څه وي. البته هم اندېښمن وو، چې هر ډول مخالفت به یې د ځان او کورنی د له منځه تلو سبب وګرځي او هم هیله من وو چې ښایې ګلبدین سم وایي.

دوی دواړو په تشناب کې غسلونه وکړل، سپین کالي یې واغوستل او عطر یې هم ووهل. له دفتره د باندی را ووتل. ګلبدین خپل ساعت ته وکتل ګوري چې د شپې دوې نیمې بجې دي. هوا هم ډېره سړه وه، په سپینو واورو ټوله سیمه روښانه ښکارېده. د مسجد خوا ته ولاړل او مسجد ته ننوتل. د مسجد هوا لیږ ګرمه سوې وه. ټول چریان دهیاهو په ویلو سره له خپلو ځایونو راجګ سول او ټولو د تکبیر نارې شرو ع کړې. د عباد الله پر سر یې ګل پاشان وشیندل، ځینو خو لا بیا د ګلبدین او عباد الله لاسونه ور مچول. د مسجد فضا بیخي بل ډول شوې وه. دځینو چریانو په تندیو په تورو ټوکرانو لیکل شوي ډول ډول شعارونه نښلول شوي و.

په دې شپه تر سهاره ګرمې تر انې او ویناوې وویل شوې. په اخېر کي موذن اذان وکړ. ځیني ولاړل چې اودسونه تازه کړي او ځیني بیا دخوب د کوټو خواته ولاړل. یو شمېر چریانو د عباد الله په ګډون اودسونه لرل. په دې ورځ د لمونځ کوونکو شمېر

(c) ketabton.com: The Digital Library



ډېر زيات و او ټولو دا تصور کاوه چې د شپې ډېره مهمه پېښه شوې ده. لمونځ يې په ډېر شوق د ګلبدين په امامت وکړ او ګلبدين د لمانځه ادا کولو وروسته د څو دقيقو لپاره د عباد الله د شخصيت او مقام په هکله خبرې وکړې.

ټول خپلو کوټو ته ولاړل. ګلبدين له عباد الله سره د مدرسې په انګړ کې ورو ورو قدم وهل شروع کړل.

عباد الله: مولوي صاحب زه هغې پېښې ته چې د شپې پېښه شوه اوس هم حيران يم او زه د خدای پاک دې رحمت ته هيله من يم، ښايي دا يې پر ماځانګړې پېرزوينه کړې وي.

ګلبدين: عباد الله خانه، زموږ لاره او طريقه کله کله ډېر کړېچونه هم پيداکوي او په دې لارو کې يوازې صبر کوونکي او با ايمانه کسان کولای شي په دوامداره ډول مخکې ولاړ شي. ځينو ته بيا خدای پاک ډېر ژر مقام او مرتبه ورپه برخه کوي او ته يو له هغوکسانو يې چې ښايي ډېر ژر وده وکړې حتی امکان لري چې له چړيتوبه او درسي حالته هم لوړ سې او مبارز مقام تر لاسه کړې. ته کولای شې چې د نورو مسلمانانو لپاره يوه ډېره ښايسته او غوره نمونه و اوسې.

عباد الله: هغه ځای او مقام ته درسېدو په خاطر بايد څه وکړم؟

ګلبدين: دا چې ته تازه زموږ دې ډلې ته راغلی يې، خو د قايد المجاهدين لطف ستا په حق کې ډېر زيات دی، او دا د دې سبب شو چې تا ته په يوه شپه کې تر ټولو ډېر لوی مقام او منزلت در په برخه کړي. ته کولای شې چې د خراسان د امير تر مقام ورسېږې خو په دې شرط چې ته دې لوړ مقام ته د رسېدو په خاطر زما خبرو ته په ډېر غور غوږ ونيسې او عمل ورباندې وکړې.

عباد الله: زه مو په خد مت کې يم جناب مولوي صاحب. هر ډول لارښوونه او دستور چې را کوئ په دواړو سترګو عمل ورباندې کوم، خو ګوره مولوي صاحب هيله کوم چې کوم استادانه شفقت چې مو تېره شپه راباندې وکړ، د خلکو په مخ کې

(c) ketabton.com: The Digital Library



یې مه راباندي کوئ، چې بیا خلک بد فکر کوي.

ګلبدین: عوام ناپوهان دي په هر چا باندي بد ګومان کوي. دوی د خدای پاک په پیغمبرانو پسې لا تومتونه ویلي دي مور خوعاجزه بنده ګان یو. ته اندېښنه مه کوه د دوی ډېری کسان چې لیږ هم لوړ مقام ته رسېدلي دي زما یا د دې مدرسې د نورو استادانو له دغه ډول شفقتونو ضرور برخمن شوي دي.

په بدو کارو داخته کېدو د مخنیوي لپاره، دغه ډول شفقت ته د دواړو لوریو ضرورت دی چې یوازي په ځانګړو حالاتو کي خاصو افرادو ته په نورو د داسي شفقت کولو اجازه شته.

د ژمي شپې او ورځې یو په بل پسې همداسي تېرېږي، د دوی ځانګړې درسي برنامې او شپني اذکار هم ادامه لري. د حوت میاشتې په شپو او ورځو کې یوه شپه ګلبدین له عبادالله وغوښتل چې له وطنه د باندې ورسره ولاړ شي.

عبادالله له هیواده د بهر سفر لپاره اماده ګي نه لري او باید له خپل پلار سره مشوره وکړي او اجازه واخلي. ګلبدین زیاته هڅه کوي چې دی خپل کور ته له تګ او له خپل پلار سره له مشورې را وګرځوي، خو عباد الله بې اندازې ټینګار وکړ چې باید خپل پلار ته ورشي.

ګلبدین: نو چې پلار ته دي ورځې، ډېر احتیاط به کوې چې دې مقام ته له رسېدو څه ورته ونه وایې، ځکه هغوی خو عوام دي، داسي نه چې دې کوچنۍ معجزې ته یې د کفر الفاظ په خوله راشي.

عباد الله: سمه ده نه ورته وایم، نو د تلو دلایل کوم ورته ووایم؟

ګلبدین: هغه ته مه وایه چې کوم ښار ته ځې، یوازي دا ورته ووایه چې له یو شمېر چړیانو او علمای کرامو سره یو ځای د شعر ویلو او نعت شریف محفل ته مشرقي ته ځم.

عباد الله خپلو والدینو ته د ورتګ چمتو والی نیسي، نیږدې مازدیګر تر اذان

(c) ketabton.com: The Digital Library



مخکي د کور په لور حرکت کوي.

د مازدیګر لمونځ د لارې په اوږدو کې کوي او د ماښام له اذان سره سم د کور دروازې ته رسېږي. دروازه څو واره ټکوي د دروازې له شا یې د مور غږ ډېر په ټیټ انداز غوږو ته رسېږي چې وایي: څوک یې؟

عباد الله: زه یم ادې جانې، عباد الله.

مور یې دروازه ورته خلاصوي او زوی په خپله غېږه کې ټینګ نیسي او په مخ یې ښکول کوي. ګوري چې زوی یې سپینه لنګوټه پر سر کړې ده.

مور یې: زوی مې مولوي شو له خیره سره. ما ویل چې زوی مې په سبقو کې لایق دی، خو بابا دي زما خبره نه منله.

کور ته ننوزي ورونه او خوېندي یې ټول پرې را ټولېږي د احوال پوښتنه یې کوي او په ډېره خوشحالي د عباد الله مخ او لنګۍ ته ګوري. عبادالله د کور په هغه لویه کوټه کې له نورو سره یو ځای کېني او د مدرسې او ملګرو کیسې ورته کوي او هم د کلي د وضعیت په هکله هغوی پوښتي.

خلیفه بادام: زویه په کلي داسي خاص خبرې نشته ستا په څېر ځوانان چې له تا سره په عمر برابر و، وسله یې پورته کولی شوه، طالبانو غرو ته بوتلل تر څو یا د دولت په خلاف جګړه وکړي او یا دا چې پلرونه یې بل چا ته پنځلس زره افغانۍ ورکړي چې د زوی پر ځای یې جګړې ته ولاړ شي او وسله پورته کړي. هغه هلکان چې له طالبانو سره تللي هیڅ احوال نه ترې لرو. اوازه داده چې د ملنګ کاکا زوی چې یو کال یې لا د واده نه کېږي پر ولسوالي د برید په ترج کې سخت ټپي شوی او ښنه یې هم پرې شوې ده؛ خو مور او پلار یې نه دي خبر. د برېټو ابراهیم ماما هغه چرسي زوی چې د فرید په کلي یې جنګ کړی و او د کاکا زوی یې په چا قو وهلی وو؛ له کوره پټ له طالبانو سره تللی و او د ماین جوړولو د تخنیک دنده یې مخکي وړه، په خپل ماین چې د سرک په غاړه کې یې ښود ټپي شوی دی، دواړه لاسونه یې پرې

(c) ketabton.com: The Digital Library



شوي دي او يوه سترګه يې ړنده ده.

اوس يې خداى شرمولى كلي ته راوړى دى. ښه شو چې ته سبق ويلو ته ولاړې او له دې خبرو او شره خلاص شوو كه نه اوس يې ته هم جنګ ته بېولې.

عبادالله: زموږ په مدرسه كي داسې پرېكړه شوې ده چې د څو ورځو لپاره مشرقي ته ځو، البته د څو ولايتونو علما هلته راټولېږي.

خليفه بادام ګل:زويه په تا باور لرو خو چې په سبقو كې شاته پاتې نه شې؟

عباد الله: نه، شاته نه پاتې كېږم. زموږ استادان هم ځي په هر فرصت كې موږ ته سبق وايي. له ما سره د مدرسې د استادانو اړيكه ډېره ښه ده.

خليفه بادام ګل: نو چې ولاړې، دجلال اباد دغټ كارېز په سيمه كي دي دعظيم الله خان كاكا كور دى، چې زموږ دمهاجرت ددورې ملګرى و. ضرور به يو ځل ورځې. كورنى يې زموږله كورنى سره ډېري نيږدې اړيكې لرلې. مور يې ماته په زوى ويلي و. مور به دي يو څه توت هم دركړي چې دعظيم الله خان كاكا ښځې ته دې يوسې.

عبادالله: په ستر ګو اغا جانه، ضرور مي دعظيم الله خان كاكا كور ته ورځم.

دعبادالله مور يو كالى فاطمې ته وركوي تر څو يې په هغه غټه كوټه كې هوار كړي او ټول ډوډۍ يو ځاى ورباندي وخوري. په دې وخت كي دحوېلۍ دروازه ټكېږي. خليفه بادام په حيرانتيا ټولو ته ګوري او له عبادالله پوښتنه كوي: زويه كوم ملګر خو به دي نه وي؟

عباد الله: نه اغا جانه، زما ملګرى په دې نا وختي كي څه شى كوي؟

خليفه بادام ګل: زبيره، زويه ورسه دروازه خلاصه كړه ويې ګوره چي څوک دى؟

زبير دحويلۍ ددروازې خواته ځي او ددرو ازې له شا پوښتنه كوي څوک يې؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



ددروازې له شا غږ راځي: زه یم ماما دي، دروازه خلاصه کړه مامادي ځار شي.

زبیر دروازه خلاصوي او له ماما سره سلام او پوښتنه کوي. ماما یې پوښتنه کوي: زبیر جانه خبر شوم چې عباد الله له مدرسې په رخصتي راغلی دی، لیدوته یې راغلی یم چې ډېر ورپسي خپه شوی یم.

زبیر: هو ماما جانه عبادالله پخیر راغلی دی. داسي لوکسه لونګۍ یې پرخولې(ترلې) ده چې حیران به پاتي شې. راځه چې ځو کورته.

زبیر او ماماېې کورته ننوزي، دکورنۍ ټول غړي دزبیر له ماما سره په ډېره مینه او خوشحالي پوښتنه کوي.

خلیفه بادام ګل: جنت میر خانه ښه شو چې راغلې، خوریی دي هم راغلی دی.

جنت میر: سلامت اوسې اوښی جانه، زه هم دخپل خوریی له راتګ څخه خبر شوم، ځکه خو مو دژمي په دې سړه شپه کي مزاحم شوم. البته دکلي وضعیت هم ښه نه دی. خصوصاً دشپې خو سړی لوچ دروي. ټولو کوڅه ډبو چې ټوپکونه اخیستي دي، وړې شوي دي او هر کار ته لاس اچوي. ښه شو چې عباد الله مو مدرسې ته ولېږه، او په ژمي کي مو له کلي لري کړ. تر پسر لي خدای مهربان دی ګوندي وضعیت دخلکو په ګټه تغیر وکړي.

خلیفه بادام ګل: سمه ده چې عبادالله سبق ته ولاړ، خو دکال په لومړیو کي بایدبېرته دمکتب درسونه شروع کړي. کلي ته په پسر لي کي دده تر راتګ پوري ښایي جنګ ته دځوانانو دبیولو او یا طالبانو ته دپیسو دورکولو لپاره دخلکو کوروته دطالبانو تګ راتګ هم کم شوی وي. دعبادالله ادې ډوډۍ ژر راوړه چې لالا دي وږی شوی دی.

دعبادالله مور له خپلو لوښو(لورانو) سره دتناره(تنور) خواته ځي دېګ له تناره را کاږي او له ځان سره یې دکوټې منځ ته راوړي.

خلیفه بادام ګل: د عباد الله ادې لالا ته دي ونه ویل چې دغوښو بوټۍ(قطرې)

(c) ketabton.com: The Digital Library



دي پخ کړې دي؟

دعبادالله مور: نه، له ډېري خوشحالي مي له یاده ووتل چې له ماما سره مي کیسې وکړم، حتی دمېرمنې او اولادو پوښتنه مې لا نه وکړه.

جنت میر: پروانه لري خورجانې. تاسي مصروفه واست ښه شو چي عباد الله جان مي په خیر ولید. ماشاءالله په دې لنګۍ کي خو بیخي غټ ملا معلومېږي.

عباد الله ته خو له دې ښایسته لنګۍ سره ددې ځای چړیان بیخي هیڅ معلومېږي. که عباد الله له دې لنګۍ سره ووینې نور نو زما خواته بیخي کاږه هم نه شي راکتلی!

خلیفه بادام ګل: جنت میر خانه په حلوا ویلو خوله نه خوږېږي(شېرینېږي). دا طالبان چي مي لیدل ډېر خطر ناک دي. مورې او تاسي په زړه کي ډېر بد اېسوي. خواوس نه غواړي چې په کلي کي ډېر خلک دځان مخالف کړي.

دعبادالله مور ددېګ سر خلاصوي او دغوښي خوندور بوی ټوله کوټه معطره کوي. عبادالله چي داډېر وخت کېږي دلاندي غوښه یې نه ده خوړلې، منتظر دی دمور په لاس پخ شوې خوندوره شوروا وخوري. دعبادالله مور په خپل لاس پخ کړې شوروا په چیمچه په کاسه کي اچوي او زبیر هره کاسه ددوو کسو مخ ته ږدي.

خلیفه بادام ګل: دعباد جان ماما وخوره شوروا چي زمورې شوروا په ټول کلي کي نوم لري. ټول دعبادالله دمور په لاس پخ شوې شوروا تعریف کوي.

جنت میر: اخېرخو زما خور ده نو. خوندوره شوروایې زما له خدای بښلې مور څخه زده کړې ده. زما خوارکي دحال پوښتنه وکړه چې زما داولادوو مور په وطني کتغوکي ډېره نه ده لایقه. هغه په کابل کي لویه شوې ده او دښار دخلکو په څېر ښاري ډوډۍ پخوي. حتی زه کله کله له ښاره څو پاکټه مکروني راغواړم چې لیږ تر لیږه په میاشت کي دوه ځلي مکروني وخوري.

خلیفه بادام ګل: دارو دي شه جنت میر خانه چي په کلي کي مکروني خورې خلک پیاز او کچالونه لري اوته بیا دډګروال دوست محمد خان دلور له برکته ښاري

(c) ketabton.com: The Digital Library



ډوډۍ خوري!

جنت مير: که رښتيا ووايم والله زما داولادو مور ډېره ښه ښځه ده، ژوند مي ډېر بهتر والی پيداکړی دی. زموږ دکلي انجونوته درسونه هم وايي او ټولي انجوني دې ته منتظري دي چې يو وخت به زموږ په کلي کي دانجونو مکتب پرانيستل شي، ترڅومي مېرمن په مکتب کي استاده شي او دکلي ټولو انجونو ته درس ورکړي.

دعباد الله مور: لالاجانه، ورېندار جاني ته مي ووايه چې يوه يوه ورځ زموږ کور ته هم راشي چي زموږاو دګاونډيانو انجونو ته مو هم سبق ووايي. زموږ دګاونډي لورانې تل زما دورېنداري پوښتنه کوي.

عبادالله: په کيسه سره ګرم شوو، له ياده مو ووتل چې ماما ته مو سلاته کړې واى. ماما خومي ځانته خوراکونه خوري، هر وخت يې په کور کي له شوروا سره سلاته هم وي.

خليفه بادام ګل: رښتيا وايې زويه دادې دي بيخي له ياده ووتل.

جنت مير: پروانه لري، په دې ژمي کي نو رومي بانجان له کومه شي؟

دعباد الله مور: لالاجانه، موږ دکور په کاهدانه کي شنه بانجان ساتلي دي چې ليږ ليږ په سره کېدو دي او زه يې هم دېګ ته وراچوم او هم سلاته ځني کوم.

رښتيا لالا جانه دازموږ عبادالله خو هم نام خدا ځوان شوی دی. هغه ستا دخسر دمشر ورور لور زما زوی ته وکړه. ډېره ښه انجلۍ ده. هم يې پلار دنامه ښتن دی او هم دا دښکلي صورت ښتنه ده.

جنت مير: زر واري(زرځلي)، ولي نه، خو دهغې واک له خپل پلار او خپلې مورسره دی له ماسره نه. يوه ورځ سهار له خليفه بادام ګل سره يو ځای زموږ کور ته را شئ، زموږ کره به چای تر لمر ختو مخکي وڅښو بيا به زه او زما داولادو مور دواړه کابل ښار ته دهغوی کره په مرکه درسره ولاړ شو. خدای مهربان دی ګوندي نصيب يې سره شوی وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



خلیفه بادام ګل: ښه خبره دې وکړه. ددغې جمعې په سهار وختي تیار شئ چې دجنت میر خان لالا کره دې ولاړشو. عبادالله ددې خبرې په اورېدوله کوټې دباندې ووت، په هغه بله کوټه کې یې له خویندو سره کښېناست اوددوی دکړېو وړو تماشه یې کوله.

پرې ګله دعباد الله کوچنۍ خور: لالا جانه واده وکړه په خیر چې ما ته مې ادې جانه دستورو کالې واخلي او لاسونه مې په نکریزو سره کړم.

عبادالله: اې پرې ګلې پټه خوله شه، ریشخند مه وهه. زه تر اوسه لا په مدرسه کې درس وایم، او هم نوی دوولسم ټولګي ته تللی یم.

پرې ګله: لالا جانه، ما واورېدل چې دوی په هغه بله کوټه کې څه ویل. ادې جانه مې دډګروال کاکا لور تاته غواړي.

دعباد الله مور: زویه راسه چې مامادې روانېږي. ځې چې دماما ښځه او اولادونه یې په کور کې یوازې پاتې دي.

عبادالله او خوېندې یې غټې کوټې ته راځي.

خلیفه بادام ګل: وهلکه وشرمېدې؟ په ځواني کې نو دا خبرې راځي. هر ځوان باید ښځه وکړي.

جنت میر: اوښی جانه زه ځم چې ناوخته دی ستاسي په اجازه.

ټول له خپلو ځایونو پورته کېږي او دحوېلۍ دمخې خواته ځي. ددروازې مخته جنت میر له خپلې خور، خوریانو او خورځې ګانو څخه خدای په اماني اخلي، خو خلیفه بادام ګل او عبادالله له دروازې دباندې وزي او له جنت میر سره دکوڅې تر پایه پوري ځي.

جنت میر: نور تر دې ځایه بس دی. مخکې مه راسره ځئ چې هوا سړه ده او تاسې ګرم کالي نه دي اغوستي. مالا بالا پوش او یو پنډه پټو اغوستي دي. ځئ په خیر.

(c) ketabton.com: The Digital Library



خلیفه بادام ګل ټینګار کوي چې مخکې ورسره ولاړ شي خو جنت میر اجازه نه ورکوي. خلیفه بادام ګل او عباد الله حویلۍ ته ننوزي ګوري چې دعباد الله مور ددروازې شاته په انتظار ولاړه ده.

خلیفه بادام ګل: دعباد الله مورې ولاړه شه ویده شه چې ناوخته دی. زماځای له عباد الله سره دغتې کوټې په تاو خانه واچوه چې ګرم یو.

دعباد الله مور: سمه ده. پلار او زوی دې خپلې کیسې وکړي. زه مې له خپلو نورو اولادو سره په صندلۍ کې ویده کېږمه.

دعبادالله مور ځایونه هواروي، دعبادالله پلار او زبیر دعبادالله په امامت دماخستن لمونځ ادا کوي بیا دخوب دبسترو په لور ځي او ویدېږي. دسهار داذان غږ عبادالله له خوبه راویښوي او له غټ تانګ کښلو وروسته جګېږي چې تشناب ته ولاړشي او او دس وکړي. ګوري چې مور او پلار يې راویښ شوي، اودسونه يې کړي دي او دعبادالله او نورو لپاره يې ګرمې داوداسه اوبه ایښې دي.

عباد الله: السلام علیکم. تاسې له خوبه راویښ شوي یاست؟

دعبادالله مور: زویه ډېر وختي لا راویښ شوي یو. پلار دې هم ماراویښ کړ چې له تاسره یوځای مسجد ته ولاړشي.

خلیفه بادام ګل: زویه ژر اودس وکړه چې ولاړ شو مسجد ته.

عبادالله په لندو لاسو او مخ له تشنابه راوزي او له مور څخه روی مال اخلي او لاس او مخ پرې وچوي.

عبادالله: اغا جانه، راځه چې ځو مسجد ته په خیر.

دواړه له حویلۍ کوڅې ته راوزي چې په کوڅه کې له مامور شفیق او زامنو سره يې مخ کېږي چې هغوی هم دمسجد په لور روان دي.

مامور شفیق: ستړی مه شې خلیفه بادامه. ستر ګې دې روښانه عبادالله خان خو

(c) ketabton.com: The Digital Library



په خير راغلی دی. عبادالله جانه زويه راشه چې يوه دغېږي پوښتنه خو سره وکړو چې زيات درپسې ديق شوی يم.

خليفه بادام ګل: سلامت اوسې ستاسي دوستانو ستر ګې دي روښانه وي.

عبادالله: کاکا جانه ښنګه يې؟ زه هم درپسي ديق شوی يم.

ټول له يوه او بل سره پوښتنه کوي او يو بل په غېږک نيسي. دمامور شفيق زامن هم عبادالله په غېږ کي نيسي او دسبقانو په هکله پوښتنه ورنه کوي.

عبادالله: زمونږ سبقان ښه دي ما او نور ملګري دسبقانو تر څنګ تربيتي حلقې هم لرو.

مامور شفيق: کاکا دي جار شي دا تر بيتي حلقې مو بيا څه شی دي؟

عبادالله: دشپې دويناوو او درسو ځانګړې حلقې جوړېږی او چړيان دشپې تر ډېر ناوخته اذکار هم کوي.

مامور شفيق: ډېره ښه ده کا کا دي جار شي. مونږ هم چي په کابل کي درس وايه کله کله به داذکارو حلقو ته تلو، نعت ويونکو به هغه شعرونه ويل چې دخورږ نبي(ص) صفات به پکښې بيان شوي و. عجبې ښې دورې وې هيڅ چا به له چاسره کار نه درلود.

په دې کيسو سره تر مسجد پوري راورسېدل او هر يوه په دوه رکعته سنت لمانځه شروع وکړه. دسنت لمانځه له ادا کولو وروسته چا دقرانکريم په تلاوت شروع وکړه او چا بيا يا په ګوتو يا تسبېح باندي ذکر. تقريباً لس دقيقې همداسي تېري شوې چې يوه کس غږ وکړ: نن ملا صاحب نشته. هغه طالبانو دتاقيق لپاره وړی دی. ويل يې چې داملا خاين دی ځکه چې خپله لور يې دکلي په مکتب کې شامله کړې ده. او اوس يې لور اتم صنف ته تللې ده. خو ملا هيڅ ځان نه پوهاوه او ځان يې غلی نيولی و. که کوم بل څوک کولی شي مخته دي شي چې لمونځ ورپسې وکړو.

مامور شفيق: دادی دخليفه بادام ګل زوی عبادالله خان، دی دمدرسې بر حاله

(c) ketabton.com: The Digital Library



چړي دی تازه په رخصتي راغلی دی، دی به جماعت راکړي.

ټول خلک دمسجد له هر کونج نه عبادالله ته متوجه کېږي او له عبادالله سره پوښتنې شروع کوي او هم يې په اشاره داسې پوهوي چې دلمانځه دامامت لپاره مخکې شي. مامور شفيق په تکبير تحريمه شروع کوي او دلاس په اشاره عبادالله محراب ته رهنمايي کوي.

عبادالله: الله اکبر

ټول لاسونه غوږو ته پورته کوي او په عبادالله پسې په اقتدا فرض لمونځ شروع کوي. عبادالله په خپل فصيح او ښکلي غږ دفاتحې او اقراء سورتونه وايي او وروسته رکوع ته ځي، په دوهم رکعت کي هم سورت فاتحه او اخلاص وايي او بيا رکوع ته ځي، له التحيات وروسته کوچنی دعا کوي او جګېږي. دکلي سپين ږيري هر يو دعبادالله په صفتو او تعريف باندي شروع کوي او دی تشويقي چې په مدرسه کې خپلو سبقو ته ادامه ورکړي.

عبادالله او پلار يې دکور په لور ځي، په لاره کي يې پلار ته عبادالله وايي: اغا جانه زه بايد نن خپلي مدرسې ته ولاړ شم چي علمای کرامو دسفر پرېکړه کړې ده.

خليفه بادام ګل: زويه ولاړ شه رب دي مل او ملګری شه. زه او مور دي تل دعاګانې درته کوو، ښه دی چې يو څه وخت له دې کلي لري يې ځکه وضعيت ښه نه دی.

پلار او زوی دحوېلۍ تر دروازې پوري کيسې کوي چې، دګاونډيانودماشومانو سنګېډا او ژړايې توجه ورجلبوي. ماشومانو قرانکريمونه او دپنځو سورتونو واړه واړه(کوچني کوچني) ديني کتابونه په لاسو کي نيولي دي او په کوڅه کي دمسجد په لوري روان دي. تر څو په مسجد کي يو دوه ټکي سبق ووايي.

خليفه بادام ګل: زامنو، ببرته کوروته ولاړ شئ چې نن مولوي صيب په مسجد

(c) ketabton.com: The Digital Library



کي نشته، هغه طالبانو بندي کړی دی. تر هغوچې مورې کوم بل ملا پیداکوو تاسي رخصت یاست.

ماشومان په ډېره حیرانتیا کوروته روان شول.

خلیفه بادام او عبادالله کورته ننوزي له لرې دعبادالله دمور غږ اوري چې وایي: راځئ په خیر چې شېدې مي ګرمي کړې دي. ښه ده چې زوی مي زمورږ دغواشیدې وخوري په مدرسه کي یې شیدې نشته.

خلیفه بادام او عبادالله غټې کوټې ته ځي چې په کوټه کې ټول ماشومان په انتظار ورته ناست دي. دعبادالله مور کوټې ته له شیدو سره راځي او دهر یوه په پیاله کي لومړی بوره بیا شیدې اچوي. دعبادالله مور عباد الله ته په یوه کوچني نعلبکي(بشقاب) کې لیږ کوچ هم هم راوړي دي او ورته وایي: درواخله زویه، په کوچو بوره درواچوه او ویې خوره چې دماغ دې تازه شي. کوچ مي په خپلو لاسو درته رااخیستي دي.

دسهار دچای له خوړلو او دلوښیوله ټولولو وروسته، عبادالله خپلې مور ته مخ وراړوي او ورته وایي: ادې جانې زما کالي راواخله چې ځم.

دعبادالله مور: زویه، کالي دي په غوټ ککی کي(پنډه یا کوچنۍ غوټه) کي تیار ایښي دي. درې جوړې کالي، دستمال، خولۍ، زېرپراهني او جورابې مي ټول په غوټه کي محکم نغښتي او غوټه مي دي دپلار په هغه بکس کي چې له نایرانه یې راوړی دی درته ایښې ده. یوه خلطه توت مي دي هم دکاکا لپاره درته ایښي دي چې هر وخت ((غټ کارېز)) ته ورسېدې هغه به دي دکاکادوی کره ور وړې.

عباد الله: نوزه سوکه سوکه حر کت کوم له خیره!

دعبادالله مور: خدای پاک دي مل او ملګری شه زویه ځه پخیر چي نا وخته نه شي!

عبادالله له خپلې مور، پلار، خویندو، اوورونېوسره خدای پاماني کوي. دعبادالله

(c) ketabton.com: The Digital Library



مور یوه کاسه اوبه په عبادالله پسې له شا شیندي. د یچې ډېر لرې هم ځي شاته دکورنۍ غړو ته ګوري او دلاس په ښورولو له هغوی سره خدای پاماني کوي.

دغرمې ددولسو بجو په شاوخوا کي عبادالله مدرسې ته رسېږي. ګورئ چې وفي الله سیفي دحوېلۍ مخته له مولوي ګلبدین سره ولاړ دی او خبري و سره کوي.

عبادالله: السلام علیکم ورحمت الله. اشتاد څه حال مودی؟

ګلبدین: وعلیکم السلام ورحمت الله. ستړس خومه شې، پخیر راغلې، به کور کي مو څه حال و، واړه او زاړه ټول ښه و؟

عبادالله: سلامت اوسې استاد محترم. ټولو زیات سلامونه اوښکي هیلې تاسي او ټولو همصنفیانو ته تقد یمول.

وفي الله سیفي: وروره ښه شو چې پخیر راغلې ډېر درپسې دیق شوی وم.

ګلبدین: نو کالي ادي په مدیریت کي کښېږده چې دمازدیګر له لمانځه وروسته سفردی.

عبادالله: په ستر ګو استاد.

ګلبدین: ورشه نو دکوټې دروازه خلاصه ده.

وفي الله سیفي: سفر؟ چېرته؟؟

ګلبدین: عبادالله مرکزي مدرسې ته چې ډېر مبارک استادان پکي درس وایې، ځي.

ده ته په خوب کي دمولانا سیف الاسلام اسامه له لوري امت دنجات د زېري له ورکولو وروسته دده مقام او ځایګوټی دمدرسې له ټولو استادانو لوړ شو. خدای پاک ده ته لدني(فطري) علم ورکړی دی.

وفي الله سیفي: لدني علم بیا څه شی دی؟

ګلبدین: لدني علم هغه علم دی چې یو شخص پرته له دې چې یو جاته دزده

(c) ketabton.com: The Digital Library



کړې په موخه کښېني، دخدای تعالی په امر دهغه هر شی زده کېږي. او داعلم په ټولو ځانګو کې اړتیاوړ معلوماتن حاصلوي.

وفي الله سیفي: نو اوس عبادالله په ډېرو شیانو پوهېږي او ملاشوی دی؟

ګلبدین: هو هغه پوهېږي خوداچې دی دې لوړ مقام ته رسېدلی دی نو دوېشي(فقر، بې طرفي) یې اختیار کړې ده.

او ځان خلکو ته ډېرنه ورښيې.

وفي الله سیفي: اممم دوادې شي.

ګلبدین عبادالله ت هلاس ورککوي او دمدرسې دمدیریت په لوري ځي تر څو له عبادالله سره نوري خبرې هم وکړي. خو وفي الله په دوی دواړو شکمن شوی دی. وفي الله دوی ته ګوري او په سوچونو کي ډوبېږي. وفي اللهه چ ېکله له دوی لرې کېږي نو له ځنان سره وايي: دهلک کار خودي ورخراب کړی دی، هغه لوده هم نه پوهېږي چې په څه بلا سر شوی دی. ماهم ستاسي لوچ فلم ډک کړی دی؛ اوس دي بیا دا افسانه جوړه کړې ده چ ېلدني علم لري.

ګلبدین دفتر ته ننوزي، ګوري چې دمدرسې خدمه عبادالله ته څه شی نه دي راوړي.

ګلبدین: دغرمې دډوډۍ وخت دی چای له ډوډۍ وروسته خورو. اوس ډوډۍ راوړي؟

عبادالله: سمه ده ،هر شی چې تاسی لازم بولئ.

ګلبدین: برات کاکا، برات کاکا ډوډۍ ر راوده چې موږ وږي شي یو.

له څو دقیقو وروسته یې د ډوډۍ پطنوس را رسېږي، چې یوه کاسه شوروا له یوه بشقاب وطني سلاتې او ګرمي ډوډۍ چې دمدرسې اړخ ته نانوايې کي پخېږي، پکي ایښې دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ګلبدین: عبادالله خانه، ځان دي ښه اماده کړه چې زه او ته حرکت کوو چې دژوندنور ډېر غټ غټ کارونه موپه مخکې دي.

عبادالله: په ستر ګو استاد، کاملاُ په خدمت کې یم.

ګلبدین: تېره شپه مي خوب لیده چې دیوې ونې لاندي سیوري ته ځوتنه علماء کرام راټول شوي، خضزت سیق االسلام په یوه تخت ناست یې او ملا محمدعمر اخن په بل تخت ناست یې او دجنت حورې یې خد مت کوي. یوځل مي پرسر سیورى راغی چ بېورته مي وکتتل په ونه کې دسپین یونوري په څېر سپینې اونارکي جوري ناستي وي. داحوري دونه ښا یسته وې چې حتی امیر المومنین لهم ددوی ښایست ته حیران پا تي و. امیر المومنین له هغوی یوپوښتل چې تاسي څوک یاست؟

یوې ځواب ورکړ چې موږ دعباد الله ابن خلیله نبادام ګل مېرمنې یو. ستا په حال ډېره خوشحالي په کار ده چې داسې ښایسته حورې دي نصیب شوې دي.

دغرمې دډوډۍله خوړلو وروسته اذان وشو دوی هم ټول جګېږي تر څو اودسونه وکړي او دلماانځه لپاره چمتو والی ونیسي.

ګلبدین: زه خو اودس لرم. ته په دې تشناب ک یاودس وکړه په عمومي تشنابو کې له نورو خلکو سره ستا اودس ښه نه دي.

عبادالله اودس کوي او لاسونه او مخ یې وچوي. او یو ځای دمسجد په لوري خې په مسجر کې هربو خپل څلور رکعته سنت لمونځ پیلوي. دسنت لمانځه له اداکولو وروسته ګلدین تکبیر تحریمه په ډېر لوړ غږ وایې او عبادالله ته اشاره کوي چې امامت ورکړي.

دمدرسې ټول جریان حیرانېږي چې څنګه عبادالله دونه پرمختګ وکړ او دټولو په زړونو کې یې ځای ونیو. خو وف وفي الله له ځان سره څه وایې چ یوازي بنګېدا یط دنورو غوږوته رسېږی خوپه خبرېې څوک نه شي پوهېدلای چې څه وایې.

عبادالله: الله اکبر.

(c) ketabton.com: The Digital Library



څلور رکعته فرض لمونځ اداکوي او وروسته بیا هر یو جلا جلا په دووه رکعته سنتت لمانځه دربېږي. دسنت لمانځه له اداکولو وروسته عبادالله لنډه دغا وایې ځکه تر اوسهه یې لا اوږدې دعاګانې نه دي حفظ کړې.

ګلبدین: چړیانو له عبادالله سره خدای پاماني وکړئ چې هغه مرکري مدریې ته زموږ نورو استادانو ته ورځي چې دیوځه وخت لپاره هلته اساسي درسونه ووایې. اوس دهغه مقام او منزلت زموږ په مسلک ک یدمدرسې له ټولو اشاتیذو لوړ دی او زموږ هغه ته دتدریس ورکولو توان نه لرو. یوازي بایددهغه ساتنه او ملتیا وکړو.

عبادالله ځان تلو ته چمتو کوي او ګلبدین هم بو بیک له ځان سره اخلي او دواړه له کوټې وزي، دمدرسې په انګړ ک یچ ېکوم چړیان ولاړ دي هغوی هم له دوی څخه خدای په اماني اخلي. دوی دواړه دموټرو دهډې خواته روان دي چې دګلبدین دوراره موټر یې ترڅنګ ته دربېږي، موټروان یې راښکته کېږي له خپل کاکا ګلبدین سره پوښتنه کوي، او پوښتي یې چې خیر خو دی کاکا جانه؟ چېري روان یاست؟ په دې وخت کې.

ګلبدین: کاکادي جار شي زه او عبادالله خان تر دانېږدې سرحده ځو، تر هغه ځایه دموټر یو ساعت لاره ده، که موږ ورسوې نو ډېره به ښه شي. دموټر دتېلو پیسې هم درکوم.

ننګیالی: پیسې څه شی دي کاکا جانه، هېل موټر دي دی. یوازې امر کوه. هر چېرته چې ځې له انډیوال سره یوځای په موټر کي کښېنه چې ومورسوم.

ګلبدی: خیر یوسې وراره ګله په ځاني دي برکت شه.

دواړه دننګیالي په موټر کي کښېني، اوموټر دپاکستان دسرحد په لوري حرکت کوي. دلاري په اوږدو کي ننګیالی دطالبانو یوه نوې ترانه ورته چالانوي چې وایې وري.

ننګیالی: دادی کاکا چي بیا ونه وایې چ ېپه موټر کي دي دطالبانو ترانه نشته.

(c) ketabton.com: The Digital Library



وراره دي هم ماجات لري هم خرابات.

ګلبدین: سلامت دي يې بچيه.

دیوه ساعت مسافې له طی کولو وروسته دپاکستان مرز ته رسېږي چې هغې غاړې ته پاکستانی عسکر له یوه ټوپک سره ولاړدی.

ګلبدین: ننګیالبه زویه دادرې زره کلداري درواخله او موټر ته دي تېل ورواچوه او کورته چي ورسېدې په واټساپ کي میسیج راته وکړه. عبادالله خانه ته هم خپل بکس اوړې ته واچوه، زما بکس همم ددرسره واخله چې زه دا افغانی روپۍ په کلدارو بدلې کړم. ګلبدین یو بنډل افغانی له چېبه راکاږي او دصراف په لوري ځي، خو له چنو وهلو وروسته نه سره جوړېږي. ځونوروصرافانو ته هم ورځي، خو بلاخره له یوه صرافه کلداري اخلي او افغانۍ ورکوي. ګلدین او عبادالله له زنجیر نه تېرېږي او له څو قیقو پیاده مزل وروسته دمیرامشاه دموټرو هډې ته رسېږي. دموټرو کلېنډران نارې وهي چې: ژر شئ چي موټر روان دی، ژر شئ یواځي دوه کسان کم دي.

ګلبدین او عبادالله موټر ته خېژي او دواړه دموټر وان دځنګ په چوکۍ کې ځنګ په ځنګ کښېني. په لارهـ ک یکله کله ګلبدین ځان په عبادالله پسي ټینګ نښلوي او لاس یې په اوږو وراچوي.

عبادالله له ځان سره فکر کوي. کله فکر کوي چې ګلبدین له ده جنسي لذت اخلي هماغه شپه یې هم له ده سر هلواطت کړی دی او کله کله چې بیاده ته وګوري شیطان ولا حوله کوي او له ځان سره وايي چې داد شیطان وسوسه ده. څنګه کېدای شي چې هغه دي داکار وکړي؟ هغه یوازي دیوه دوست په څېر شفقت رابانديي کوي. شاید د ډېري دوستي له کبله یې په ما پسي ځان نښلولی وي.

کله چې موټر دمسرانشاه مدرسې ته نیږدې رسېږي، ګلبدین موټروان ته وايي: استاده موړ همدلته ښکته کېږو، مدرسې ته روان یو.

موټرموټر دروي، ګلبدین له جبه روپۍ راکاږي او دموټر کرایه ورکوي دوی

(c) ketabton.com: The Digital Library



دواړه خپل بکسونه دموټر له شا نه رااخلي او دمدرسې په لور حرکت کوي. دمدرسې مخته ناست دمدرسې ساتونکس دوی دروي او پو ښتنه ځني کي: له چا شره مو کار دی؟

ګلبدین: موږ له غزهي ښخه راغلي یو او له مولوي صاحب نور محمد ثاقب سره وینو.

ددروازې ساتونکی: یو څو دقیقې ودرېږئ چې خبر ورکړم.

ګلبدین: سمه ده.

تقریباً لس دقیقې وروستهیو ځوان چې سپینه خولۍ یې پر سر ده راځي او وایې: دثاقب صاحب مېلماانه څوک دي؟

ګلبدین: موږ یو، چړي جانه.

لعل ګل: زه ملا لعل ګل یم، دثاقب ثیب سکرټر یم، په ماپسې راشئ.

ګلبدین او عبادالله په ملا لعل ګل پسې له شا روانېږي او دمدرسې پ داخل کي ی پېه یوه ډېره لوړه ودانۍ سترګې لګېږي. عبادالله چې د لومړي ځل لپاره داسي ځای ویني په حیرانتیا هر لوري ته ګوري. حیران و او له ځان سره یې ویل چې داسي یو چاپېریال خو دمدرسې لپاره ډېر غټ دی، په همدې فکر او سوچ کي وه چې لعل وویل: وسېدو له خیره دمولوي صاحب ثاقب دفتر ته.

لعل ګل دروازه خلاصه کړه او ویې ویل: مېلمانه راسره راغلل.

مولوي ثاقب:راشئ دننه راځئ.

لعل ګل دروازه غټه حلاصه کړه او ګلبدین او عبادالله ته یې په لاس اشاره وکړه چې مهربني وکړئ.

دوی دواړه دفتر ته ننوتل او مولوي ثاقب له خپله ځابه ولاړ شو. له دوی دواړو سره یې ښه ګرم پوښتنه وکړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ګلبدین ته یې ویل: ته خو م یدډېرو سختو ورځو اندېوال یې خواوس بیخي زموږ پوښتنه نه کوې. دملا یانو اخلاقو خو به تاثیر نه وي دربانديي کړیی که څنګه؟ پخوا خو داسي نه وې.

ګلبدین: نه باور وکړه چې دپخوا په څېر یم خو په داخل کي مصروفیتونه ډېر زیات دي. پوهېږې چې دولت او ناټو زموږ په خلاف ډېر تېز کار روان کړی دی.

یو شمېر و چې میدان یې پرېښود او تسلیم شول او ځینوبیا ځانمرګي وکړل!

لعل کل: مشرانو ډوډۍ تیاره ده، زاځئ هغه بلې کوټې ته.

درې سره ولاړ شول، ددروازې په خوله کي چلمچی او کوزه ایښي و. لعل ګل د دو بیه لاسو اوبه ور واچولې لاسونه یې پرې منځل او ډوډۍ ته کښېناستل. په دریو نسبتاً لویو لوښو کي، قابلي، سبزي، او لوبیا ایښې وو. دوی له هر یوه نه په خپل نعلبکي کي لیږ لیږ ورواچول او په خوراک یې شروع وکړه. قابلي یې ډېره خوندوره وه. عبادالله خو دووهم ځل لا قابلي په خپل نعلبکي کي ور واچوله.

مولوي ثاقب: څه خبري وې په داخل کي؟

ګلبدین: جنګونه روان و. زموږ په ساحه کي ددولت قوي شوی و، خو په زمي ک ییبیا زموږ هم ډېر کار سم و. یوه اندازه روپۍ مخابراتي شرکتو راکړې چې په پایو ک ییې ماینونه کښې نه ږدو. یوه اندازه روپۍ موله خلکو دعشر او زکات په نامه راټولي کړې. څوکسهه چې زموږ ستاسي له دوستانو د دولت په غټو منصبو کتر کوي اوښې روپۍ هم لري هغوی هم روپۍ راولېږلې. دمدرسې خرڅه مي هم له حاجي جمیل نه واخیسته.

دحاجي جمیل تر یاکو هم سږ کال ښه حاصل ورکړل. او په ښه نرخ یې وپلورل. زموږ غر یې هم بې ګټې ونه باله شپږسوه منه وریجې او پنځوس دوهمنۍ وشکې عوړي یې مدرسې ته واخیستل. او هم ی ېدبازار قصاب ته وویلل چې هره ورځ لس کیلو غوښه غرمه او لس کیلو غوښه ماښام موږ ته حواله کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



مولوي ثاقب: نواوس ستړي او ستو مانه یاست، نور مونه مزاحم کېږم. ویده شئ سهار به له خیره سره وینو او له دې مبارز او ښایسته ځوان سره هم ډېري خبري کوم.

ګلبدین: سمه ده صاحبه.

مولوي ثاقب: لعل ګل خانه دوی ته هماغه لوسه کوټه ورکړه چې دشپې په ارامه ویده شي.

لعل ګل: سمه ده مولوي صیب.

ګلبدین او عبادالله له مولوي ثاقب نه خدای پماني را اخلي او له له لعل ګل سره دخوب دکوټې په لور روانېږي.

لعل ګل دمدرسې په لوړه طبقه کي یوه ښیسته دخوب کوټه دوی ته ورښیي او دوی ته دکوټې کلي ورکوي ا ورته ورته وایي: دغه کوټه دمولوي صیب دخاصو کسانو لپاره ده، هر څه لري. تاسي کوټې ته ننوزئ او ښه شپه درته غواړم.

ګلبدین کلي قلف ته وراچوي او دروازه خلاصوي او دوی دواړه کوټې ته ننوزي. په کوټه کي دپنځه ستوریز هوټل په څېر دوه کسیز دخوب تحت، لوکس کوچ، یخچال، تلویزیون او.... موجود دي. دوی بکسونه په الماریۍ کي ږدي، لونګۍ او واسکټونه کاږي او په تخت دراز غزېږي.

عبادالله: استاد ته په تخت ویده شه زه په هغې غټه څوکۍ کې ویده کېږم.

ګلبدین: نه داسي خونه کیږي. که دي نه وي خوښه نو بیا زه په څوکۍ کي ویده کېږم؟

عبادالله پټه خوله کېږي او په سکوت سره داښیي چې باید لرې سره ویده شي.

ګلبدین له تخت نه ښکته کېږي اوو تشناب ته ځي، وروسته له څودقیقو په لندو لاسو او لانده مخ له تشنابه راوزي او عبادالله ته وایي: اودس نه کوې؟ اوبه ګرمي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



عبادالله: ښه شو چې راپه یاد دي کړل، هو تراوسه مي دماخستن لمونځ لا نه دی کړی. دا دی ځم او دس کوم. عبادالله هم تشناب ته داوداسه لپاره ننوزي ګلبدین په بیړه دجنسي تحریک نځو ګولۍ(ټابلېټ) له جېبه را کاږي او دیخچال په جک کې یې اچوي په کراره جک بېرته په یخچال کې ږدي. وروسته له څو دقیقو عبادالله ه تشنابه راوزي، ګوري چې ګلبدین تراوسه لمونځ نه دی کړی.

ګلبدین: راځه چې جماعت وکړو ځکه دجماعت لمونځ له انفرادي لمانځه بهتره دی.

عبادالله تکبیر تحریمه شروع کوي تر څو ګلبدین امامت ورکړي. ګلبدین هم تر عبادالله لیږ مخکې درېږي او لاسونه پورته غوږو ته وړي او الله اکبر وايي.

دماخستن څلور رکعته فرض لمونځ کوي، وروسته سنت لمونځ اووتر لمونځ هم کوي او په اخېره کې دلمانځه دعا هم کوي.

ګلبدین په کوچ کې دراز غزېږي او عبادالله ته وايې: زه لیږ ستړی شوی یم، دسهار لمانځه ته بیا ماهم راویښ کړه.

عبادالله: زمان هم بدن داسي شخ شوی دی په لاري یخ و بدن مي درد کوي.

ګلبدین: نو ماته هم یوه پیاله اوبه راکړه چې یوه ګولۍ وخورم زما بدن هم درد کوي.

عبادالله له یخچاله داویو جک راباسي او پیاله له اوبو ډکوي او ګلبدین ته وايي: یوه ګولۍ ماته هم راکړه چې زمان بدن هم درد کوي. ګلبدین له جېبه یو بوتل راکاږي او یوه رنګه ګولۍ عبادالله ته ورکوي او یوه سپین رنګې ګولۍ چې عبادالله ګولیو ته متوجه نه و خپله خوري. عبادالله هم ګولۍ خوري او په تخت پرېوزي.

له نیم ساعت وروسته ګلبدین ولاړېږي اوغوږ نیسي خویوازي په خوب کې ساه کښل یې تر غو کېږي او بس.

عبادالله غرق ویده دی اوکرار کرار تنفس کوي. ګولیو هم ډېر تاثیر ورباندي

(c) ketabton.com: The Digital Library



کړی دی. ګلبدین ورور دروازه خلاصوي او له دهلېزه دباندی وزي. ګوري چې یو کس ورته منتظر دی.

ګلبدین: ولي جانه ویښ یې؟

ولي: هو بلې، ویښ یم او تاسي ته منتظر وم. او س نو ووایه چې ستا له دې ښکار سره څه وکړم.

ګلبدین: غواړم چې دکوټې کېمرې فعالي کړ ې او صافي ویډیو ګاني له لري ځایه وکړې.

ولي: په ستر ګو مشره، زه خو دي عسکر یم د مسلک استاذ مي یې.

دواړه دکنټرول کوټې ته ځي او ولي دبرق سویچونه روښانه کوي او مانیټورونه چالانوي. دکېمرو ریکارډ بټنې کښېکاږي، ګوري چې عبادالله دځواني په خو غرق ویده دی.

ولیی: مولوي صاحب ګلبدین خانه ، څه پخیر عملیات شروع کړه. خو چې قکر دي ویي چې زه هم دلته مجرد یم زما حق را ضایع نه ککړې چې هلک هم ښکلی دی او هم ما ډېر خوښ شوی دی.

ګلبدین: شوخي مه کوه وهلکه. زه له شوقه دا کار نه کوم بلکه وظیفه ده نو.

ګلبدین دکنټرول له کوټې راوزي او دخپلې کوټط په لوري ځي. دکوټط دروازه په کراره خلاصوي. ګوري چې د عبادالله دسا اخیستلو له غږه پرته بل هیڅ غږ هم نشته. دروازه قلف کوي او کالي کاږي. په ارامه له عبادالله سره په تخت دهغه څنګ ته پرېوزي.

کمپله دعبادالله له مخه لرې کوي او ورو ورو له عبادالله کالي باسي او له عبادالله سره دلواطت شنېع عمل شروع کوي خو عبادالله غږ کوي: څوک یې؟ په ما سربېر هڅه شی دي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



ګلبدین څو ځله دعبادالله مخ دکېمرې خواته اړوي چې په ویډیو کې سم صحیح راشي. دلواطت له تر سره کولو ورووسته دکېمرې دملینز په لور اشاره کوي چې ولي هم داخل ته راشي. ولي ته دروازه ورخلاصوی. ولي ژر ژر کالي کاږي، له ګلبدینه غوښتنه کوي چې له کوټې ووزي ګلبدین هم له کوټې وزي او دکنټرول دکوټې په لوري ځي.

دکنرول له کوټط دعبادالله او ولي سیل کوي. ولي په عبادالله بر سېره پرېوزي او له عبادالله سره په لواطت شروع کوي.

عبادالله چې نیمايې ویښ دی خو په ځان پوره نه دی پوه چې څه روان دي؟

ولي يې هم څو ځأي مخ دکېمرې خواته اړوي تر څو په کېمره کې سم معلومم شي. عبادالله لیږ لیږ متوجه کېږي چې څوک تېری وربادي کوي. په لوړ غږ چیغه کوي: څوک يې؟ څه کوې بې شرفه؟

ولي: هیڅ خوښ مي شوې لیږ ناز مي در کاوه ګرانه.

عبادالله ولي له ځانه لرې کوي او له هغه سره په جنګ اخته کېږي.

عبادالله: مولوي صاحب چېرته يې؟ چېرته يې؟ دې بې شرفانو له ماسره څه وکړل؟ زه ددط لپاره راغلی وم چ بدیني درس زه کړم نه داچې بې عزته شم.

مولوي ګلدین له څو دقیقو وروسته کوټې ته راځي ګوري چې تر اوسه لا دعبادالله او ولي جنګ او اخ وډب دوام لري.

مولوي ګلبدین: څه خبره ده وهلکانو؟ زه ولاړم چ باودس وکړم تسي جه غالمغال جوړ کړی دی؟

ولي: هیڅ خبره نشته مولوي صیب. زه له دهلېز سره تېرېدم چې ستاملګري ناريې وهلې. زه کوټې ته راننوتم چې ومي کتل ده کالي کښلي دي او نارې وهي مایوازي کراراوه ، ده ما ته په ښکنځلو شروع وکړه. نه پوهېږم چې ولي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



ګلبدین: عباادالله بچیه، ارام اوسه. جنګ مه کوه حتمي دي بیا کوم خوب لیدلی دی.

عبادالله: نه استاذ کوم خوب؟ دې کس په ما تېری وکړ.

ګلبدین یې په خوله لاس ور ږدي او وایې: فکر دي دی؟ ته څه وایې؟ په خپل ځان پسې تهمت مه وایه دلته دیني مدرسه ده.

عبادالل: استاذ سم وایم. پرتوګ یې لیږ مخکي واغوست!

ګلبدین: غلي شئ. وهلکهه ولي ولاړ سه کوټې ته دي چې په تا یې شک کړی دی. زخ خپله خبري ورسره کوم.

ولي له کوټې دباندي راوزي اوعبادالله په زړه پیل کوي. دژړه په حال کي پوښتنه کوي: څه خبرهه ده استاد؟

داکس مي خپله ولید چې لواطت یې راسره وکړ. لیږ مي سر درد کوي، خو دهغه دا بد کار مي ولید. ماته هیڅ ابرو نه شوه پاتي. که مي پلار خبر شي ما وژني.

ګلبدین: خیر دی اوس جپ سه یهار به یې تعقیب کړو چې څه پېښ شوي اوس دي کلمه ووایه او ویده شه. که تږی یې یو ګیلاس اوبه وڅښه.

عبادالله: تږی یم، حلق مي وچ  کلک دی. دا څه جنجال دی چې زما په سر راغلی دی؟

ګلبدین له ځایه راولاړېږي، درب یخچال خلاصوي، داوبو هماغه جګ رااخلي او دعبادالله پیاله له اوبو ور ډکوي.

عبادالله: مننه مولوي صایب. خیر یوسې.

عبادالله پیاله په سر راپورته کوي اوډکه پیاله اوبه په یوه سا څښي. دنورو اوبو لپاره بیا لاس ور اوږدوي ګلبدین بیا هم دعبادالله په پیاله کي اوبه ور اچوي او وایي: ډېر تږی شوی یې؟ ډېري مه څښه چي بدن دي شخ نه شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



عبادالله: مولوي صاحب، دا اوبه څونه خوندورې دي. یوه بله پیاله هم راکړه چې جک هم خالي شي. دریمه پیاله اوبه هم ورکوي عبادالله هغه هم څښي داچې دا اوبه ډېرې خوندورې او زورورې دي، له دریمې پیالې سره عباد الله قهقه خندا شروع کوي. دګلبدین لاس نیسي او وایې: راځه چې مولوي صاحب بازار ته ولاړ شو. راځګ سه چې ځو. عبادالله له عادي حالته وتلی او پرته پرته غږېږي، کله کله خو ګلبدین دځان خواته کشوي.

ګلبدین: وهلکه ویده شه چې بیا به غوسه کېږې.

عبادالله: راسه ملاګله چې په تخت ویده شو. یوازې خوب نه راځي. مولوي صاحب ډېرنازونه مه کوه.

دعبادالله ټینګار زیاتېږي، ګلبدین په دې وخت کې ډېر په اسانۍ ا خوشحالۍ یو هدجنسي قوت ګولۍ خوري او په تخت له عبادالله سره ویدېږي. ګلبدین ورو ورو له عبادالله سره دناز ګېږې شروع کوي، په مخ یې لاس ورتېروي او ورو ورو یې پ غېږ کې نیسي او بلاخره په بدو کارو شروع سره کوي.

ګلبدین نیږدې تر سهاره له عبادالله سره لاطت کوي او ورو ورو دواړه خوب وړي او ویده کېږي. دعبادالله په مخ دلمر تېزه ړا لګېږ ، عبادالله ورو خپلې سترګ پخلاصوي. لیږ ویښېږي ګوري چې دی او ګلبدین دواړه لوچ لغړ پراته دي. ژر ژر یې کالی اغوندي ګلبدین راویښوي او پوښتنه ځنې کوي: په ما او تا څه شوي دي؟

ګلبدن په حیرانتیا خپل ځان ته ګور چ پلوچ دی، خو عبادالله کالي اغوستي دي. عبادالله ته په خندا وایې زه له تا سره داسې ټوکه لرم چې کالي دې رانه کښلي دي؟

عبادالله: مادي کالي نه دي درنه کښلي. زما کالي هم رانه کښل شوي و. سر مي هم لیږ لیږ درد کوي. زما لیږ لیږ په ذهن کې دي چې دشپې یو څوک زموږ کوټې ته راغی او زما په بدن یې لاس راواهه. څو ځلې مې له ځانه ټېله کړ خو بیا هم نه پوهېږم چې څه شوي دي؟ زما او ستاکالي یې کښلي دي!

(c) ketabton.com: The Digital Library



ګلبدین: ستاسو نویو ځوانانو خو سل او زر چلونه زده دي چې مور ته په پېړو(پوهېږو).

عبادالله: نه په خدای که مي هیڅ چل زده وي. زه هم حیران یم چې څه خبره ده؟

ګلبدین خپل لاسي ساعت ګوري چې یوولس بجې شوې دي. خپل ساعت عبادالله ته ورښيي.

عبادالله: مولوي صاحب ډېر ناوخته شوی دی. جګ سه چې یو ځل دباندې ووزو.

ګلبدین: ښه نو ولاړ سه تشناب ته، په بدن دي لیږ تاتوبه تېري کړه. چې بیا زه هم په بدن لیږ اوبه تېروم چې نن شپه ډېر زیات خولې شوي و. دکوټې بخارۍ یې ډېره ګرمه وه. ویې لیدو چې له سرې سیمي راغلي یو برقي بخارۍ یې چالانې پرې ایښې وې چې داژمنی یخ مو له بدنه ووزي.

عبادالله تشناب ته چې شاور هم لري ننوزي، کالي کترې داوبوشاور چالانوي په سر شامپو وهي، او دڅو دقیقو لپاره تر شاور لاندي ملایمو اوبو ته کښېني. دعبادالله په ژوند کي لومړی ځل دی چ ېعبادالله دشاور په اوو لمبېږي؛ او ډېر خوندځني اخلي.

ګلبدین: وهلکه ژرکوه چې مولوي صاحب ثاقب مور ته په تمه ناست دی.

عبادالله داوبو نل بندوي. به ځانپاک چې په مېخ رتاځړېږي ځان وچوي، کالي اغوندي او له تشنابه راوځي.

عبادالله: دادی استاذ زما کار خلاص شو. ته راشه پخپر حمام دي وکړه. اوبه ډېري ښې دحمام لپاره برابرې دي.

ګلبدین حمام ته ننوزي. دلسو دقیقو په شاوخوا کې خپل ځاان ښه پتک پرېمنځي، وروسته له لسو دقیقو له حماممه راوځي، ګوري چې په ساعت کي یې څه کم دوولس بجې دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ګلبدین: رتځه چې دباندي ولاړ شو او دمولوي صيب ثاقب حال واخلو.

دوی دواړه له کوټې راوزي اود مولوي صيب ثاقب ددفتر په لوري روانېږي. دمولوي ثاقب د دفتر د دروازې شاته

ګڼ شمېر طالبان ليدل کېږي چې دځينو يې ورقې په لاس کي دي او دځيني غواړي چې له مولوي صيب ثاقب سره ووينې.

د طالبانو په منځ کې دافغانستان دمختلفو ولايتونو، ازبکستان او تاجکستان طالبان هم لېدل کېږي چې د دروازې شاته ولاړ دي.

ګلبدين دمولوي ثاقب د درواازې پهره دار ته وايي: مولوي صاحب ته ووايه چې مولوي ګلبدين او مېلمانه يې راغلي دي. پهره دار د زنګ تنۍ کښېکاږي او وروسته له څو دقيقو دمولوي ثاقب سکرتر راوزي له ګلبدين او عبادالله سره پوښتنه کوي اودواړه له ځان سره دمدرسې داخل ته بيايي.

لعل ګل: شپه مو په خير تېره شوه؟

ګلبدين: مننه، سلامت اوسئ، هو په خير تېره شوه.

لعل ګل: تاسي افغانان هم ډېر عجب خلک ياست. وګوره طلبای کرام په تش لاس دناټو په مقابل کي جهاد کوي او اوس مهال امريکايان حاضر شوی دي چې له افغانستانه تېښته وکړي خو دځان لپاره يوه پلمه لټوي.

ګلبدين: افغانستان ډېر غيرتمن ځوانان لري. زموږ خلک د خپل دين او قام لپاره سر ورکوي. په تاريخ کې ثابته سوې ده، چې افغانان خارجيان نه مني.

څو کسه دمولوي ثاقب له دفتره راوزي او د دفتر دزنګ غږ يې تر غوږو کېږي. لعل ګل دفتر ته ننوزي او دوې دقيقې وروسته راوزي او ګلبدين ته مخ وراړوي: مهرباني وکړئ، مولوي صيب منتظر دی.

ګلبدين او عبادالله دمولوي ثاقب دفتر ته داخلېږي او سلام اچوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



مولوي ثاقب: وعلیکم السلام قهرمانانو.شپه موپه خیر تېره شوه؟

ګلبدین: سلامت او سې جنال مولوي صاحب. مورږ ډېر سترې ستوککمتنه وو. نن شپه مو ډېر ښه خوب وکړ.

مولوي ثاقب: ته خو په ځواني کې لیږ شوخ وې، خدای دي وکړي چې شپه به موپه خیر تېره شوې وي؟

نو راځئ چې ځو نوري خبرې به په دستر خوان سره کوو. دازمورږ مېلمه ښنګه دی؟ دشپې راحت و؟

عبادالله: سامت اوسئ مولوي صیب زه هم ښه یم.

خو دکنایې په ویلو سره دعبادالله رنګ لیږ سور غوندي شو.

مولوي ثاقب له مخأو دوو مېلمنو سره یوځای دډوډۍ خوړځي ته ځي. دخوړنځي ددروازې له خولې سره د یوه ځوانکي په لاس کي بدنۍ او چلمچی دی. ټولو خپل لاسونه پرېمنځل او کوټې ته ننوتل. په کوټه کي د دستر خوان مخ ډول ډو ل غذا ګانو نیولی دی.

ګلبدین: مولوي صایب ډېر زحمت مو کړی دی. ستا سي په زحمت روادار نه وو.

مولوي ثاقب: نهدڅهه شي زحمت تاس یپه مورږ ډېر حق لرئ، تاسي خو دهیواد داخلي مبارزین یاست. خدای په تاسي زیاته مهرباني کړې ده. حتی له ځینو فرایض یې لا کله کله معاف کړې یاست. که چېي دضرورت په وخت کي ځینو هغو کاروته لاس واچوئ چې دنورو لپاره ګناه ګڼل کېږي، ستاسي لپاره روا او په نېکیو کې مو شمارل کېږي. داټول دخدای پاک لطف او مهرباني ده چې په تاسي مبارزو علماوو یې کړې ده. ځکه؛ تاسې یاست چې دکفارو په زړونوو کي مو وېره او وحشت وراچولی دی. که نه وو داملت تباه شوی و.

ګلبدین: ستاس یفدرمو مشرانوبلاخص دامیر المومنین لطف او کرم دی چ ېمورږ رهبري کوئ او دشفقت لاس مو تل زمورږ په سر دی. که نه وو په تش لاس ښنګه

(c) ketabton.com: The Digital Library



امکان لري چې له ناتړو سره وجنګېږو.

مولوي ثاقب: دعبادالله خان په هکله باید څه ډول پرېکړه وکړو؟

ګلبدین: عبادالله ډېر زړور او مومن ځوان دی چې تر ډېرو زیاتو ازموینو راتېر شوی دی او دراز ساتونکی دی. ضرت سیف الاسلام هم ه خول کي ورته راغلی و. دده نورانیت ددې ښکارندو یي کوې چې دی هم دجنتي ځووانانو له ډلي څخه دی.

زه په دې باوري یم چ بېدی له داسلامي امت بېرغ لوړ وساتي.

مولوي ثاقب: عبادالله وروره ته ولي خبرې نه کوې؟ کرار ناست یې.

لکه چې زیات دي له دنیا زړه تور دی او په جنت پسې زړه تنګی یې؟

عبادالله: زړه تنګی خو یم او جنت خو دهر مسلمان هیله ده، کاشکې خو دمحشر په ورځ دمسلمه امت ډېر کو چنی سرتېری وګڼل شم. له دې ټولو ګناهونو او مخ توري سره له مي خدای پاک وبښي که نه؟

مولوي ثاقب: موږټول ګناکار یو او تر ټولو ستره ګناه بیاداده چې هیوادمو دکفارو له لور اشغال شوی دی. او موږ کرار ناست یو هیڅ اعتراض هم نه کوو.

عبادالله: بلې هومولوي صاحب، هیواد مو بهرنیانو نیولی دی. د دوی په مقابل کي څه کول په کار دي؟

مولوي ثاقب: د دوی په مقابل کي اقدام کول په کتردي. هر کس باید دخپل وس او توان مطابق مبارزه وکړي.

ملاوعظ وکړي. معلم لارښوونه وکړي. نظامیان وسلې ولېږي او راپور ورکړي، ښځې او ماشومتتان دعاګانې وکړي. سرمایه لرونکې باید مالي ملاتړ وکړي او ځوانان، ځوانان بایدکفار له منځه یوسي. ځکه دځوانانو همت او غیرت ترټولو زیات دی. دځواننو یوځایګوټې په دې مبارزه کي ځانګړی دی او امتیازات یې هم خاص الخاص دي. پروردګار عالم استشهادي ځوانانو ته په خپل بلاکیف لاس باندي ثوابونه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورکوي. دويني هر ځاځکي ته يې رب متعل ډېري بدلې او اجرونه ورکوي. چې داهل دنيا ژبې دفدايې دهر ځاځکی ويني دامتيازاتو له بيانولو عاجزې دي.

ګلبدين: مولوي صاحب په کيسو ډېر ګرم راغلي يو. راځئ چې دباندي ووزو او لیږ قدم ووهو.

مولوي ثاقب: دباندي يخ دی. ناروغان نه شئ؟

ګلبدين: نه بابا موږ افغانيتان له سړو هواوو راغل ييو. زموږ په سيمه کي تر ځنګانه واوري وې. داستاسي دا دسړو هواوو موسم زموږ لاره لکه دپسرلي داسي دی.

مولوي ثاقب: نوته ولاړشه خپل ملګري به دي هم ووينې. ځوان له ماسره پرېږده چې په مدرسه کي يې لیږ وګرځوم او د درسو او مبارزوپه اړه ورسره خبري وکړم.

ګلبدين: سمه ده زه کومه خبره نه لرم. دی خپله څه نظر لري؟

عبادالله: زه موافق يم تاسي ولاړشئ خپل دوستان ووينئ، ما او مولوي صاحب صنفونه هم ګورو تاو خبرې هم کوو.

ګلبدين: ستاسي په اجازه، نو زه دمېجر صاحب رياض تر کوره ځم او ابو ليث هم وينم.

مولوي ثاقب: سمه ده. په مخه دي ژېړي ګلونه. في امان الله.

ګلبدين له ځايه ولاړېږي او مولوي ثاقب او عبادالله هم ورسره راولاړېږي. خدای په اماني سره کوي اړ ګلبدين مولوي ثاقب ته وايي: ستاسي يوه نېږدې انډيوال يوه پټه خبره راته کړي ده څه وخت يې درته وکړم؟

مولوي ثاقب: همدااوس يې ووايه. له دې ځوانه خدای پاماني واخله زه د دروازې تر مخي درسره ځم بيا به هغه پټه خبره راته وکړې.

عبادالله: مولوي صايب، که دي زما پلار وليد ورته ووايه چې دمکتب تر شروع کېدو وخت ته درځم که خير و.

(c) ketabton.com: The Digital Library



او زما د کوژدې په هکله کهم پوښتنه څنې وکړه. کوژده يې راته کوله. زما دماما دمشر خسر کاکا لور يې راته کوله.

ګلبدين: له عبادالله سره خدای پاماني کوي او مولوي ثاقب ته وايې: زما تر راتلو پوري به ددي په عبادالله خان باندي ډېرپام وي.

مولوي ثاقب: بيخي بېغمه اوسه. دی خو مي خپل سړی دی. دايې خپل ځای دی.

ګلبدين او مولوي ثاقب دباندي راوزي چې له کوټې لیږ رالرې کېږي ګلبدين شاته ګوط چې څوک خو نه دي ورپسې. خو هيڅوک نه معلومېږي.

ګلبدين: داهلک ډېر ښه ښکار دی. ښارته ښه راحت تګ راتګ کولای شي خپلوان يې هم په کابل کي دي او دهغوی کره ښه بلد هم دی. دشپې مي دابل کار هم ورسره وکړ، ا و فلم مي څني ډک کړ چې بيا رازهم افشا نه شي کړای.

اوس ته پوهېږې چې څه ډول يې استعمالوې.

مولوي ثاقب: سمه ده. زه به يې هم تشويقوم او هم به په ډوډۍ کې هغه دارو چې ملګرو راته لېږلي دي ليږ ليږ ورکوم. رښتيا فلم يې سم راغلی دی؟

ګلبدين: نه پوهېږم له هاه مسول کس سره دی. بيا يې يو ځل خپله وګوره او هغه برخې چې زه پکې راغلی يم ډيليټ کړئ.

مولوی ثاقب: نوش جان دي شه مولوي ګلبدين خانه، هم دې په هلک خوندونه واخيستل او هم دې دا ثوال وکوټ چ طيو استشهادي دې راوست تر څو سم جانانه عمليات ورباندیسرته ورسوو.

ګلبدی: ولا مولوي صاحب څه ووايم؟ واقعاً ماته يې هم خوند راکړ.

ممولوي ثاقب: زه تاپېژنم چې ليږ شوقي هم يې. هغه وخت چې ته تازه ضابط شوی وې او کودتا مو وکړه چې بيا ناکام شوو. او پاکستان ته موهجرت وکړ. تابه کله

(c) ketabton.com: The Digital Library



کله ښايسته هلکان هم کوټې ته راوستل.

ګلبدين: دځواني خبرې نور مه راپه يادوه. هغه مدرسې ته نه وم تللی او داولياوو خدمت مي نه و کړی. له کومي ورځې جبې دانصارو مجاهدينو په ډلهه کې شاتمل شوی يم، بيا دخرابو کارو خواته بيخي ورنيږدې شوی لاهم نه يم. داځل مي هم زموږ اوستاسې ددې ستر مصلحت په خاطر داکار وکړ چې راز افشا نه شي.

مولوی ثاقب: پوهېږم ټوکه مې درسره وکړه چې له سفره نمخکي دي لېږ طبيعت سم شي!

ګلبدين: نوزه ځم په خير دوطن خواته،خو چې دې هلک ته ونه وايې چ بېېرتهه وطن ته ولاړم. ورته ووايه چې پېښور ته خپلو ملګرو ته ورغی.

مولوي ثاقب: په ماهيڅ حساب نه کوې ګلبدين خانه. هغه وخت چې ته ضابط وې زه دکشف تورن وم. احېر خوزه هم ددې مسلک استاد يم. بيخي ډاډه زړه ګرځه. ته څه په خير دا ناچيزه ډالۍ هم ستا انصار ملګرو تاته په نظر کې نيولې ده.

ګلبدين: مننه سلامت اوسې وروره. داستا ځانګړې پاملرنه ده  که نه و زه او دونه ډېري پيسې خو بيخي سره لېږي يو.

مولوي ثاقب: درې سل ډالرس بستې چط درې زره ډالر کېږي ګلبدين ته ورکوي.

مولوي ثاقب: له دې پيسو هم دمدرسې خرڅ پرې کړه او دايو بنډل دي بيا دورنۍ لپاره دي. ورېنداري او اولادوته دي يې ورکړه چې دکور خرڅ ور څخه پوره کړي.

ګلبدين: خير يوسې مولوي صاحب چې زموږ پهه فکر کي ياست. په داخل ک پېيسو ته ډېره اړتيا لرو. که څه هم ملګري او دوستان مو همکاري کوي او موږ هم عشر او ذکات اخلو خو دفعاليت دساحې دپراخېدو لپاره موپيسوته ډېره اړتياوي.

بکس مي دخوب په کوټه کي ايښی چې عبادالله مي وطن ته له بېرته راګرځېدو خبر نه شي  هر څوک چې داځل ته راتلل وريې کړئ چې رايې وړي.

کولوي ثاقب: نو ته حرکت وکړه پخېرچې ناوختته شو. ښايې په لاره کي پاتي

(c) ketabton.com: The Digital Library



شي. دواړه له يوه اوبل سره خدای پاماني کوي او ګلبدين دلسن په موټر کي چې دسر حد په لوري رواندي سپر ېږي.

مولوي ثاقب هم بېرته دمدرسې دداخل په لوري ځي کله چې ددفتر مخې ته رسېږي ګورې چې عبادالله د=له کوټې دباندي راوتلی دی او غواړي چې د ماسپښين دلمانځه لپاره اودس وکړي.

مولوي ثاقب هم اودس کوي ياو دمسجد خنواته ځي په مسجد کي ټول مولوي ثاقب ته منتظر دي او خلکو سنت لمنځونه کړي دي. يوازي عبادالله دلمانځه په حال کي دی. مولوي ثاقب هم په سنت لمانځه شروع کوي. وروسته له دې چچې دمولوي ثاقب لمونځ خلاصېږي. موذن په اقامت يلو شروع کوي او خلک په صفو کي منظم درېږي. مولوي ثاقب لاسونه دغوږو نرميو ته ودرړي او دالله اکبر په ويلو سره په خفيه لمانځه شروع کوي. څلور رکعته فرض لمونځ خلاصوي او بژرته ټول خلک په منظم ډول صفونه پرېږدي او په انفرادي توګه دوه دوه رکعته سنتت لمانځه درېږي. وروسته له دې چ ېمولوي ثاقب دوه رکعته سنت لمونځ خلاضوي مخ نيمايې دمقتديانو خوا ته وراړوي اوپه تسبېح ويلو شروع کوي. وروسته له څودقيقو تسبېح ويلو لاسونه پورته کوي تو دلمتتنځه دختمېدو دعاکوي. وروسته دممقتدييانو له منځه يوکس دمحراب څنګ ته په يوه ګوښه کي درېږي او د اشتشهاد دبهتري په هکله دنيمم ساعت لپاره مفصلې خبرې کوي چ ېدقتديانو په ژړايې ښه استقبال کېږي مولوي ثاقب بيا هم ددعا لاس پورته کوي. او دټولو طالبانو بلاخص فدايانوپه حق کې دعاکوي. خلک يو يو له مسجده وزي او عبادالله ته دمولوي ثاقب خواته ورنيږدې کېږي او يو ځای له مسجد څخه راوزي.

عبادالله: مولوي صاحب کېدای شي چې درسي صنفونه وګورو؟

مولوي ثاقب: ولي نه خو صنقونه ليې له دې ځايه لېري دي . دلته يواري دمدرسې مديريتي دفاتر دي اوددې ترڅنګ مبارزاتي فعاليتونه هم له دې ځايه رهبري کوو. ته

(c) ketabton.com: The Digital Library



درس ويلو لپاره ښه فرصت لرې. هغې ارزيابي ته په کتو چې موږ ستا له استعداده او توانايي څخه ترلاسه کړې. زموږ رهبري دې نتيجې ته رسېدلې ده چې تا او ځينو نورو کسانو تهيو ځانګړی صنف جوړ کړو چ طديوه کال درسونه په درې مياشتي کي ووايايست. اوددط تر څنګ ستا دمعنوي او جسمي توانمندي موږ هيله من کوي چې ته به وکړای شې دخپل ولايت چارې دامارت دوالي په توګه ښې مخکي يوسې. او ټولي چارې به ستاپه رهبري ښې مخکي ولاړي شي.

موږ خبر يو چې طالبانو ستاسي په ولايت کې دخلکو په مقابل کې ځينې ناوړه کړنې هم سرته رسولې دي خو ته به هغه ټولي نيمګړتياوې ژر ترژره اصلاح کړې او په خپل ولايت کي به دخلکو دخدمت جوګه وګرځې. له دې مقامه به ته وکولای شې چې هم دخدای رضا حاصله کړي او هم دې مقام نور هم لوړ کړې.

دمولوي ثاقب په دې خبرو عبادالله لېږ شکمن او په سوچ کي کېږي او هم لسږ نور د دې تمايل پيداکو يچې داډول خبرې نوري هم واوري البته په ځواني کي داډول خبرې په ډېو کسانو تاثير کوي خو دمولو ثاقب داخبرې عبادالله ډېر زيات حيرانوي.

مولوي ثاقب: راځه چې هغه خاص تربيوي مرکز ته ولاړ شو. هلته به له نورو ملګرو سره هم اشناشې. دوی هم درس وايي او هم رزمي ورزشونه کوي تر څو دوسلو چل زده کړي.په دې سربېره درهبري چاري هم ورزده کوو.

عبادالل: په ستر ګو صايب. زه مو په خدمت کي يم.

مولوي ثاقب: نوکوټې ته دي ولاړ شه او دابکس درسره اخله چې يو څو جوړې نوي کالي دي پکي. زادهه هشييان دي هيڅ شی هم مه درسره را اخله . بوټونه، ساعت، موبايل ټول شيان دلته پرېږده ددې هر يوه شي نوی عوض درکوي.

عبادالله خپلې کوټې ته ځي او خپل بکس را اخلي بېرته راوزي چې دباندې مولوي ثاقب ورته منتظر دی. دوی دواړه دمولوي ثاقب په سوزوکي موټر کې سپرېږ ياو له مدرسې راوزي. تقريباً دموټر دشلو دقيقو لاره طی کوي، يوې کروندې ته

(c) ketabton.com: The Digital Library



نیږدې رسېږي او له موټره راښکته کېږي. عبادالل هم خپل بکس رااخلي او دیوه ښایسته ساختمان واته روانېږي.

له هماغه ساختمانه لیږ لرې یوې ګوښې ته یوه بګۍ ولاړه ده. چې د دوی دواړو په وررسېدو سره دبګۍ په اس سپور شړی غږ کوي: په خیر راغلې مشره.

مولوي ثاقب: سلامت اوسې جمال خان ماما.

دوی بګۍ ته ور خېژي او دیوه کلي په لور ځي. دوی په کلیو کي ډېره لاره طی کوي خو بلاخره یوې ډېري عادي حوېلۍ ته چې کلینیک لوحه یې په دېوال لګول شوې ده رسېږي.

بګۍ والا مولوي ثاقب ته مخ وراړوي او ورته وایې: ستړي مههه شئ مشره، زما کار تر همدې ځایه وه، اوس تاسي خپله ورشئ داخل ته.

مولوي ثاقب او عبادالله له بګۍ راښکته کېږي یاو پنځو س کلداري دبګۍ والا ته ور کوي او له هغه سره خدای پاماني کوي او دکلینیک د دروازې زنګ کنبېکاږي. دروازه خلاصېږي او یو دتېر ععمر لرونکی سړی پوښتنه ځني کوي: له چاسره مو کار دی؟

مولوي ثاقب: موږ دمیرانشاه څخه راغلي یو او مېلمانه یو.

دروازه ورخلاصېږي او همدا سپین ږیری سړی دوی ته وپه خورا دقت ګوري او وایې: ټیک ده بابو صیب، همدا ستاسو عکسونه یې راته ښودلي وو، مهرباني وکړئ....

دواړه حوېلۍ ته ننوزي. مولوي ثاقب بلد دی اصلي کوټې ته لاره پیداکوي.

مولوي ثاقب: عبادالله خانه، دلته دانصار به ملګرو سره وینو چې وروسته بیا تعلیمي مرکز ته ځو.

عبادالله: سمه ده مولوي صیب.

(c) ketabton.com: The Digital Library



مولوي ثاقب دسر په ښورولو سره دعبادالله خبر ې تايدوي. له څو دقيقو وروسته يو کس چې دنرس چپنه يې اغوستې مولوي ثاقب ته په اشاره سره وايې چې راسه دوی دواده په نرس پسې له شا حرکت کوي. په لاندينې منزل کي يوه کلينيک ته چې دروازه يې قلف ده رسېږي. نرس دروازه خلاصوي او داخلېږي دلته له ډېرو زړو وسايلو پرته هيڅ هم نشته. نرس څوکارتنه وسايل له مخې ليږ لري کوي او ددوی ستر ګې په يوه کوچنۍ لکه درسي تخته لګېږي. دوی فکر کوي چې دا درسي تخته ده خو چې نرس ګوتې ورسره لګوي تخته ورخلاصېږي او دوی يوه دهلېز ته لاره پيداکوي چې ليږ مخکي ځي ګوري چې يو دباخه عمر لرونکی سړی به يوه نيمه مجلل دفتر کي ناست دی.

دی دمولوي ثاقب په ليدو له ځايه راولاړېږي اوله مولوي ثاقب سره په ډېره مينه پوښتنه کوي عبادالله هم ټينګ په غېږ کي نيسي او په مخ يې ښکولوي.

مولوي ثاقب: ډېر خوشحاله يم مېجر صايب چې بيا دي يروغ وينم. دوستان او کورنۍ موښه ده. راسره مي ورور عبادالله خاان دی او مېجر صيب پروېز خان دافغانستان تکړه دوست دی په فوځ کي، چې په موږ يې تل مهرباني کړې وه.

پروېزخان: داستاسي مهرباني ده. موږ سره ورونه يو. اسلامي احساس ما وادار وي چې له مسلمانو وروڼو سره ودرېږم.

پروېز خان دواړه مېلمانه دناستي کوټې ته رهنمايې کوي چې نالۍ(توشکې) هم پکي هواري دي. درې واړه په پستو نالينو کښېني او دافغانستان په داخلي ګرمو کيسو شروع کوي.

مولوي ثاقب: عبادالله جان غواي چې په تعليمي مرکز کي هم زده کړې وکړي او هم ټرېنينګ ويني.

پروېزخان: موږ يې په خدمت کي يو. ټول امکانات ورکوو له خيره سره.

پروېز خان له ډېر وخت خبرو کولو وروسته خپل موټروان ته زنګ وهي چې موټر

(c) ketabton.com: The Digital Library



تیار کړي چې دی چېري ځي. له څو دقیقو وروسته دباندې راوزي چې ناروغان هم تللي دي او هم تیاره شوې ده. دکلینیک په انګړ کې دامبولانس موټر چالان ولاړ دی. پرویز خان دموټر ړدرواره راخلاصوي او مولوي ثاقب ته اشاره کوي چې سپاره شئ.

پرویز خان: راځئ، راځئ راوخېژئ.

مولوي ثاقب موټر ته خېژي، ګوري چې څوکۍ یې کړې کړې دي. او دڅوکۍ شاته یو بل غټ سیټ دی چې حتی څلور کسه پکې ځاېږي. عباالله هم دمولوي صایب ثاقب څنګ ته دموټر دشا په سیټ کې کښېني. چوکۍ سموي تر څو پرویز خان دمخې په سیټ کې کښېني. پرویز خان هم په څوکۍ کښېني تاو موټر وان موټر روانوي. دکلي دکلینبک دروزه موټر ته خلاصوي. او موټر په یوه نامعلوم لوري ځي. دموټر په منځ کې هم دمولوي ثاقب او مېجر تر منځ دطالبانو دتریک او جنګ دستونزو تودې کیسې شروع دي. او مېجر صیب پرویز خاان وایې: اوس مهال دسولې خبري ډېري تودې دي، خو دحقاني صایب ګروپ دغه سوله نه مني. هغوی وایې چې جهاد ته ادامه ورکوو. دخارج =یانو فشار هم په مورږ باندې زیات شوی دی چې هغوی ته قناعت ورکړو، خو هغوی بیا جهاد ته شله دي.

مولوي ثاقب: ښه ده چې یو شمېر وروڼه دسولې په نامه په نظام کې داخل شي څکه هندیان په حکومت کې ډېر نفوذ لري او په پاکستان ورور او مسلماندولت پسې ډطر ناروا تبلیغات کوي، او ټلوال هم په دې تبلیغاتوکې له دوی سره شریک دي.

پرویزخان: تشویش مه کوه. اوس په ټلوالو کې هم دوستان لرو، احمد شاه مسغود وه چې له مورږ سره یې ډېر مخالفت کاوه. اوس سیاف له مورږ او زمورږ له دوستانو سره ډېره بربنده دښمني کوي. خو کوښښ کوو چې په احمد شاه مسعود او رباني پسې یې روان کړو. خو دعبدالله غوندي باهمته ځوانان کولاس شي چې د دوی څخه افغانستان خلاص کړي. د دوی موټریوې درې ته ننوزي چې دلاري دواړو خواوو ته یوازي ګڼه وني لیدل کېږي. په دره کې د اوږدې مصافې له طی کولو وروسته یواې

(c) ketabton.com: The Digital Library



ابادي ته رسېږي چي پکي ګڼ شمېر افراد چې نظامي جامې يې په تن دي، ليېدل کېږي او يوه زنجير دې ځاى ته دننوتلو لاره بنده کړې ده. دلته څوتنه مسلح کسان د دوى موټر دروي. پروېز خان: زه پروېز خان يم او دوى مي ملګري دي. سکرټريټ نمبر۲۷۹۰۳چراټ پيشاور. دپروېز خان دنوم او شفر له اورېدلو وروسته زنجير ورته خلاصوي او د درې دمنځ خواته حرکت کوي. څودقيقې وروسته بيا غټه دروازه ده چې د دوى موټر دروي.

پروېز خان: زه پروېز خان يم سکرټريټ نمبر ۲۷۹۰۳ چراټ پيشاور.

ساتونکي يې په خپل کمپيوټر کي دده نوم او شفر ګور او له څودقيقو وروسته دننوتلو اجازه ورکوي.

ددوى موټر ددرې د داخل په لوري حرکت کوي. له څو دقيقو مزل وروسته دموټرو يوه پارکينګ ته چ ېڅو عرادې موټرهم پکې ولاړ دي رسېږي. موټروان موټر دروي او پروېز خاان دوى دواړو ته وايې: داموټر له دې مخکې تللی نه شي. راځئ چې په بل موټر کي سپاره شو.

له امبو لانس موټر څخه راښکته کېږي او په يوه بل دوسيټه پيکپ(ډاټسون) موټر کې سپرېږي چې شيشې يې پردې هم لري. ددې موټر موټروان يو نظامي چې رسمي چامې يې په تن دي، دى او يوازي سلام کوي او بس. موټر روانوي او ټول کرار ناست دي. مټر له يوه ساعته ډېر مزل وروسته. يو ځاى دروي او موټروان دوى ته وايې: راورسېدو په خير.

پروېز خان له مولوي ثاقب او عبادالله سره يوځاى. له موټره راښکته کېږي او له دوو کساانو سره چې دوى ته منتظر دي پوښتنه کوي. وروسته بوه تعمير ته ننوزي. دشپې ډېره تياره او دلاري ستومااني ددې سبب شوې ده چې څوک شاوخواته ډېره توجه ونه کړي. دتعمير په منځ کي دوى دخوب کوټو ته رهنمايې کوي تتو هر يوه ته دجلا جلا کوټو کلياني ورکوي او همم ورته وته وااېي چې: ډوډۍ تياره ده، خپل

(c) ketabton.com: The Digital Library



شیان په خپلو کوټو کې کېږدئ او راځئ چې ډوډۍ وخورو.

هر یو خپلې کوټې ته ځي او اودس کوي. وروسته له څو دقیقو راوزي او ډوډۍ خوړلو ته ورځي. ډوډۍ له خوړلو وروسته بېرته دخوب کوټو ته سره ځي او دسهار دلمانځه تر نوخته ارام ویده کېږي. دسهار له اذانه وروسته، هغه رهنما شخص چې دشپې له دوی سره و دکوټو دروازې ورټکوي. دوی ټول راویښېږي اودسونه کوي اوپه یوه کوچنۍ کوټه کې د مولوي ثاقب په امامت دجماعت لمونځ اداکوي. دلمانځه له ادا کولو وروسته دوی له ساختمان نه دباندې رهنمایي کېږي. دباندې په دره کې ډېرې ونې ولاړې دي او هم یې هوا دافغانستان په څېر سړه نه ده. دعبادالله لپاره دا هوا او دره ډېره زړه راښکونکې ده.

مولوي ثاقب عبادال ته مخ وراړوي او وایې: فکر کوم دادره او هوادې ډېره خوښه شوه؟

عبادالله: ډېر ښکلی ځای دی. کیف یې راکړ.

مولوي ثاقب: ښایې په همدې مرکز کې درس او تعلیم وکړې.

عبادالله: خو دلته هیڅ افغان نشته.

مولوي ثاقب: اندېښنه مه کوه، یوڅه وخت به دلته یواازې درس درکړې بیا به دې له هغه وروسته دافغاني هلکانو له ګروپ سره یو ځای کړي.

دقدم هلو له اوږده مزله ورسته بېرته مرکز ته را ګرځي، دسهرار چاس یې ورته اماده دی او د دوی لارښو رکس دوی دسهار چای څښلو ته رابولي. دوی چایو ته ناست دي چې د دفتر نه دباندې تورو شیشو لندکروزر موټر دربېږي. دو یته دډوډۍ دخوړنځي له ښیښو ورمعلومېږي.

د دوی لار ښود کس له ځایه ولاړېږي تاو پروېزخان ته وایې؟ مشر مېجر صیب راغی. درې سره کسه به موټره راښکته کېږي او دساختمان خواته راځي. لارښود کس د دوی دښه راغلاست لپاره له کوټې څخه دباندې ور وزي ، وروسته له دوو

(c) ketabton.com: The Digital Library



دریو دقیقو دهو ډی خوړنځي ته راننوزي. له مولوي ثاقب او عبادالله سره روغبړ کوي او هغوی ته تعلیمي مر کزته ښه راغلاست وایي.

پرویزخان مولو ي ثاقب ته: اجازه ده چې څو منټه دمېجر صیب سره خصوي ګپ ولګوم؟

مولوي ثاقب: ولي نه، موږ خپل چای خورو او تاسي مو خپل ګپ ولګوئ.

پرویز خاان له مېجر سره دباندي وزي او دنورو له نظره لرې دعبادالله په اړه خبري ورسره کوي.

مېجر: داهلک ډېر برابر دی، چې تربیه ورکړو او دشیعه ګانوپه یوه مجلس ځان والوزوي.

پرویزخان: سمه خبره دي وکړه مېجر صیب نوله کومه ځایه یې پیل کړو؟

مېجر: دمولوي ثاقب کرایه او خرچه ورکړه، چې بېرتهه لاړشي، له تاسره یوځای. داهلک ولېږه دقهرمانانو تعلیمي مرکز ته. څونور افغانان هلکان هم هلته تعلیم کوي. چې دوه کسه یې په دې نیږدې وختونوکي له خیره سره دجنت خواته روان دي.

پرویزخان: سمه ده مېجر صیب. داهلک عبادالله نومېږي اودغزني ولایت دی. په طبعه ډېر ارام دی، خو یو ویډیویي سند یې هم دوستانو راته راوړی دی، چې پکي زموږ او ستاسو دوه کسان هغه بل کار ورسره کوي. له دې سند څخه به بیا دده له خوا د انکار په صورت کي دفشار په توګه کار واخلو.

مېجر: ډېر احتیاط وکړئ چې بادالله خپه نه شي.

پرویز خان: مېجر صیب نو راځئ چې دننه ورشو او له ندې کسانو سره هم څو مینټه تاسي وګورئ چې بیا موږ درنه رخصت کېږو.

پرویز خان او مېجر دکوټې دداخل خواته روان دي چې عبادالله او مولوي ثاقب له خوړنځي راوزي. دوی سره مخاامخ کېږي یاو پروېږ خان په خندا پوښتنه ځني کوي:

(c) ketabton.com: The Digital Library



لکه چې زړه موتنګ شو؟

مولوي ثاقب: نه، د دې سیمې هوا او طبیعت دعبادالله ډېر خوښ شوی دی.

مېجر: راځئ په دې څوکی ډډه ولګوو، هوا رښتیا هم ډېره ښه لګېږي.

دوی ټول په رنګه پلاستیکي څوکیو کښېني چې مخته یې په پلاستیکي مېز سربېره مخکې له مخکي له مېوې ډک لوښي ایښي دي.

مېجر: مولوي صایب ډېره مننه چې تاسو خپل زحمت وایست، تر څو چې دتاسو ملک دکفارو دلاسه ازاد شي او موږ هم دیوه همسایه په توګه کوښښ کوو چې خپل فرض  چې جهاد دی سرته رسوو. عبادالله غوندي ځوانان دي چې هم یې مداسلام بیرغ په خپل لاس کي نیولی دی او هم دخپل هیواد دخپلواکی او عزت ساتنه کوي. انشاء الله موږ هم ورسره خپله ورورولي کوو.

دلته دوی دڅلورو تر شپږو میاشتو پوري هم اسلامي یسبق وایې او هم رزمي تعلیمات کوي. بیا مشران، څه لزوم چې ولري دوی ته یې مخکې کوي. زه اورم چې له خیره عبادالله خان دسبف او تعلیم وروسته دغزني والي کېږي. او دایو مهمه او بااهمیته خبره ده چې ځوانان مسولیتونه په غاړه اخلي، ځکه چ ېدوی سم خدمت کولی شي.

دعبادالله خبره دوالي کېدو په اورېدو سره وغوړېده او له ځان سره ی ېفکر کاوه چ

ېکله چې کلي ته له لوکس موټر او با ډېګارډانو سره ولاړشي، پلار به یې څونه خوشحاله شي. ورور به یې څونه موټر وځغلوي او په کلي یکي ښایې د ډګروال لور هم ورکړي. له دې خیالو او فکرو سره یې په شونډو غوړه موسکا خپره شوه او مېجر ده ته په ډېر دقت کتل.

مېجر: تاسي یکولای شئ چې نن بېرته له خیره ولاړ شئ. موږ عبادالله خان ته سردننه دسبق شرایط اده کړي دي چې وخت یې بې ځایه تېر نه شي. مولوي انعام الله باجوړی یې استاذ دی، ده ته به سبق وایې یوه ګېنټه پس هغ هم دلته رارسېږي

(c) ketabton.com: The Digital Library



بیاعبادالله دسبق دځای خواته ورسره ځي.

تقریباً له یوه ساعت څخه وروسته دمولوي صایب اتعام الله موټر راورسېده. مولوي انعام االله چې له موټره ښکته شو، سپینه لنګۍ یې بر سر ده اتو دڅهار سدې څپلۍ یې په پښو دي. سترګي یې سرې سوې، ږیره یې هم سور رنګ لري. ټولوته یې له لري سلام ورواچاوه. او ټول له خپلو ځایونو ولاړ شول. له هریوه سره یې ډېر صمیمانه روغبړ وکړ او عبادالله یې تر نورو ډېر په غېږ ګ یټینګ کړ او ډېر په دوستانه انداز کي یې پوښتنه ورسره وکړه.

انعام الله: نه پوهېږم چې له دوستانو سره په پښتو خبري وکړم او که په پارسي؟

پروېزخان: مورږ پښتو خبري کوو خو زمورږ مېلمه عبادالله خان په پارسي هم پوهېږي.

انعام الله: زه مفتي انعام الله یم او ماته ویل شوي دي چې ورور عبادالله خان ته سبق ورکړم. اوس راغلی یم چې عبادالله خان له ځانه سره بوځم.

عبادالله: سلامت اوسې مفتي صایب. زه بلکل تیار یم دکوم وخت څخه سبق پیل کوو؟

مفتي انعام الله: له همدې یوسه یې پیل کوو د دوستانو سره خدای پاماني کوي او پروېز خان ته وایې: مورږ او تاسو دلته یو؟

پروېز خان: نه زه هم ځم خپل کار پسي، خو کله کله دي احوال اخلم.

امامفتي صایب انعام الله ستا مدرس دی. راځه چې زه او ته هم خدای پاماني وکړو. عبادالله او پروېز خان هم خدای پاماني سره اخلي او له انعام الله سره په موټر کې سپرېږي. دانعام الله موټر حرکت کوي اوله لرې فاصلې لا هم عبادالله سر له موټره ایستلی دی او دوی ته لاس دخدای پاماني په ډول ښوروي.

مفتي انعام الله: څه حال دي دی عبادالله خانه؟ پخیر راورسېدې؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



عبادالله: الحمدالله ښه یم. سلامت اوسې په خیر راورسېدم.

مفتي انعام الله: زه دنورستان یم او ددې ډېره عالقه لرم چې دهیواد په داخل کې له کفارو سره مخامخ جګړه وکړم. ولي دجهاد د دې ضرورت په اساس چې زه باید له افغانستان څخه بهر قهرمانو ځوانانو ته تعلیم ورکړم تر څو یې فکري او بدني وړتیا داسلامي مبارزې لپاره لا قوي شي، نه شم کولای چې په مخامخ جګړه کې ګډون وکړم. ځکه د دښمن جنګي تکتیکونه هره میاشت بدلېږي نو دوی هم باید نوې تکتییکونه زه کړي، تر څو په دې اسامي مبارزه کې برلاسي شي.

ما او تا به دلې دڅو میاشتو لپاره سره یو ځای یو او تر منځ به مو اړیکې انشاء الله ډېري صمیمانه او د ورورګلوي په فضا کې وي. زه ستاسي استاذنه یم ورور مویم. خدای مهربان دی ګوندي زه هم دهغه کوچني خدمت په اساس چې تاسي ته یې کوم، دمجشر په ورځ ستاسي په قطار کي راپورته شم.

دمفتي انعام الله دخبرو په دوام کي عبادالله په ډېره حیرانتیا وایې: ایا د دې امکان شته چې بهرنیان به له افغانستانه ووزي ؟

مفتي انعام الله: داد افغانستان د ځوانانو په غیرت او همت پوري اړه نلري چې دوی ذلت او غلامي قبلوي او که ددنیا او اخبرت وقار او عزت. که زموږ دباعزته ولسونو تاریخ ولولې هیڅ یو یې هم له قرباني پرته تر دې ځایه نه دی رسېدلی. حتی غیر مسلمان ملتونه. زموږ داګاڼدي او ورور هیواد پاکستان له دونه ډېرو ستونزو ستونزو او فقب سره سره چې لري یې، هم دمشرک هندپه مقابل کي دکشمیر دمجاهدینو د داعیې قاطعانه ملاتړ کوي او هم به افانستان کي دناټو په مقابل کي داسلامي امارت دمبارزې ملاتړ په ډېره مېړانه کوي. اوس خو مو ولیدل چې دټولي نړۍ سرکشې امریکا دطالبانو داسلامي تحریک دمبارزې په مقابل کي ماتي وخوړه، او دتېښتي لاره یې خپله کړې ده.

دابرم او عزت دپاکستاني انصارو وروڼو او دزړګونو ځوانانو داستشهاد او قربانیو

(c) ketabton.com: The Digital Library



په برکت زموږ په برخه شو. او موږ ددوی ډېر پوروړي یو ددوی د دې احساناتو په عوض کي سره له دې چې موږ دامیرالمومنین ملامحمد عمر له رحلت ځخه وروسته په اسلامي امارت په لیکو کي له ډېرو ستونزو سره لاس او ګرېوان شوو، خو بیا هم دطالبانو دتحریک عزتمن بیرغ تر اوسه هماغسی رپاند ولاړ دی. که څه هم له طالبانو سره زموږ دګروپ ګډه مبارزه لیږ لیږ له ستونزو سره مخ شوې ده، خو بیا هم موږ کوښښ کوو چې القاعده له داعش څخه لیري وساتو. ځکه دالقاعده په لیکو کي دمختلفو اسلامي سازمانو ځوانان دي خو داعشیان یوازي جنایتونه کوي او کومه بله مشیخصه داعیه نه لري.

عبادالله: مفتي صاحب، کله چې له افغانستان څخه دکفارو عساکر وور=زي له دې نورو ډلو سره به څه کوو؟

مفتي انعام الله: داخلي ډلې درې برخې لري:

۱ـ یو شمېر هغه موسسه یې ډلې دي چې دبهرنیانو په پیسو په حق او ناحقه نومونو فعالي شوي دي.

۲- یو شمېر هم زموږ هغه پټ ملګري دي چې هیڅ وخت له موږ سره نه جنګېدلي دي او نه یې هم سیاسي دښمني کړې ده. یوازي دسیاسي اجزابو په نامه دي. کله چې زموږ تحریک د دوهم ځل لپاره کابل فتح کړي نو داډلې منحل کېږي او دپخوا په څېر به له موږ سره همکاري کوي.

۳- یوازی درې یا څلور سیاسی ډلې دي چې له امارت سره دجګړو او دښمنیو پخوانی سابقه لري. داډلې اوس هم له موږ سره ښې نه دي، خو په لیکو کي یې درزونه پیداشوي دي. هغه پخوانی یووالی او حدت یې اوس نشته. رباني او مسعو هم داستشهادیانو په وسیله په خپلو کارو پسې ولاړل. د دوی ځینې قومندانان یازاړه شوي او یاهم بدنام شوي دي. خو هغه پخوانی اعتبار اوس نه لري. یوازي سیال یې اوس د ورټولېدو محور دی، چې هغه هم اوس بیخي سپین ږیری شوی دی او اوس یې

(c) ketabton.com: The Digital Library



فعالیتونه هم ډېر محدود شوي دي. ځکه نور نو مسعود او رباني نشته چې داسلامي امارت خلاف دسیاف لاس نیوی وکړي.

یو بل تې خطر داعش دی چې له تحریک سره سخته دښمني لري.

عبادالله: ولي دطالبانوتحریک له داغش سره نه جوړېږی؟

مفتي انعام الله: یو زیات شمېر داعشیان لومړی طالبان ول، خو دطالبانو تریک یوه لویه څپه وه چ طدانصارو وروڼو په همکاري زموږ درورو هیواد پاکستان په پوځ کي رامنځته شولو. دتحریک په لیکو کي ډېري جدي فکري خبرې نه شوې مطرح، ملګرو له ښارونو څخه دتحریک په شاراتګ او کویټې، پېښور او ایران ته په هجرت سره دا اختلاف لیږ علني او ښکاره شو.

دتحریک سپین ږیري مولوي صاحبان مذهبي او اهل تصوف دي او دتحریک ځوانان بیا دشهید اسامه بن لادن دفعالیت او همکاري په اساس داسلامی نړۍ په فکري حلقاتو کي جذب شوو. او ډېر له تصوف سره جوړ نه دي چې یو شمېر یې ورور ولاړل د داعش په نامه یې بیرغ پورته کړ. چې په مشرقي، فراه ولایت او شمالي ولایتونو کي یې ډېر پلوي پیداکړل. ځوځلې یې دامارت له مجاهدینو سره جګړې وکړې چي شرعاً د داعشیانو داجګړې دافغانستان داسلامي امارت پهه خلاف ښکاره بغاوت دی. دبغاوت په مقابل کي جګړه کول سوچه او افضل جهاد دی، خو داعشیان دطالبانو دتحریک په سپین ږیرو په عقیده کي قوي دي. ځوځلي یې په مباحثو او مشاجرو کي دناظرپه توګه حاضر وم، چې دامارت طالبانو ماتې خوړلې ده. زموږ عملیاتي ګروپ چې رهبري یې دحقاني صیب په ملګري کوي. له اسلامي امارت سره شرعي او سیاسي تعهد لرو، خو له داعشیانو سره هم کومه دښمني نه لرو. موږ یې داسلامي امارت له نورو ګروپونو سره ارتباطي پول هم یو.

دمفتي انعام الله او عبادالله تودوکیسو دونه جالب دوام وکړ چې نیږدې یې موټر له تعلیمي مرکز څخه تېر شوی و. مفتي انعام الله موټر دروي او عبادالله ته وایې: نیږدې

(c) ketabton.com: The Digital Library



وچې زموږ دمرکز له څلور لارې تېر شو.

ته صبر چې موټر راتاو کړم. دیوه باریک سړک خواته چ پله قیر شوې جادې څخه جلاشوی دی تاوېږي او څو دقیقې وروسته موټر دیوه مکتب مخته دروي. خپله له موټره ښکته کېږي او دمکتب دروازه ټکوي. کله چې دروازه خلاصېږي یو قوي او جګ سړی راوزي او به مفتي انعام الله ته سلام ور اچو ي او ژر دروازه خلاصوي تر څو دمفتي انعام الله موټر ورننوزي. موټر دمکتب منځ ته ننباسي ا وعبادالله ته وایي: راښکته شه اتله.

دوی دواړه ساختمان ته ننوزي اوممفتي انعام الله یو کاغذچې ددرس او نورو ځینو ورځنیوفعالیتونو مهال وېش دی عبادالله ته ورکوي او ورته وایې چ بزاځ لومړي به چای وخورو بیا به په دې لومړني څلور میاشتني مهال وېش عمل کوو له خیره سره.

دعبادالله چې ستر ګې په مهمال وېش ولګېدې ویې ویل: دادی په خیر ددرسو او رزمي ورزشونو تر څنګ ډرېوري، دسلو انداخت او له مین څخه ګټه اخیستل هم رازده کوئ؟

مفتي انعام الله: هو یو مباارز باید په دې ټولو شیانو وپوهېږي ځکه کله کله ضرورت ورته پېښېږي. نو سرله اوسه نورو ټولي خبرې دلومړۍ یوې میاشتي لپاره په همدې ځای پای ته رسوو، یوازې درس او تمرین شروع. سمه ده؟

عبادالله: سمه ده. زه تیار یم.

دیوې میاشتي لپاره هره ورځ دسهار له لمانځه وروسته دسهار ترچای پوري دزرمي ورزشو او جمناستیک تمرین کوي او دسهار له چای وروستته دغرمې تر یوولسو بجو دجهاد ایتونه عبادالله ته تدریسوي. وروسته له هغه بییا دغرمې دډوډۍ او ماسپښین دلمانځه وقفه کوي. دماسپښین له لمانځه وروسته دغونډۍ لمنې ته دنښي ویشتلو وسلو دزده کولو لپاره ځي دمازدیګر دلمانځه تر وخته پوري او دمازدیګر لمونځ هم اکثره وخت په هماغه ځای کي کوي. بیا دماښام تر لمانځه پوري وقفه کوي چې

(c) ketabton.com: The Digital Library



اغلباً په دې قفه کې ذکرونه او دورځنیو درسو تکرار کوي.دماسپښین له لمانځه وروسته ډېری یا داسلامي نړۍ خبرونه ګوريي او یا هم پهه افغانستان او عراق کې دبهرنیو نظامیانو دظلم ویډیو ګانې ګوري.

له یوې میاشتې وروسته، یوه شپه مفتی انعام الله دعبادلله دذهن دارزیابي لپاره له عبادالله څخه په کابل او غزني کې دشیعه وو دپرمختګ په هکله پوښتنه کوي چې داجوته کړي چې عبادالله یې په هکله څه نظر لري.

عبادالله: دهغوی ملاتړ ایران په مستقیم ډول کوي او رهبران یې هم په خپلو خلکو ډېر مهربان دي او زړه وربانددي سوځوي.

مفتي انعام الله: نه ټول یې داسې نه دي. ایران یې رهبرانو نو ته زوازي خر څه ورکوي، بل شی نه. اصل یخبره ددوی په منځ کې دهغو کوچنیو کافرانو ده چې له اسلام سره ډېره بده دښمني لري اوډېری مسییحیان شوي هم دي. هره ورځ داسلامي شعایرو په خلاف ناروا تبلیغ کوي.

عبادالله: والله څه ووایم؟ ټول دیوه باغ ګلان دي.

مفتي انعام الله له دې خبرو وروسته دې نتېجې ته ورسېد چې له عبادالله په دې برخه کې ژر کار نه اخیستل کېږي. بیایې مهال وېش یوڅه ورتغیروي او دیوې میاشتې لپاره دشپې له خوا دیوه شاعت لپاره دغرب ددې دوو وروستیو پېړیو دجنایتونو تاریخ تدریسوي چ ېغربیانو دمسلمتانانو دورکېدو اوددوی دځمکو دغصب لپاره یې څه ډول طرجې او پلانونه په کار واچول او په دې وروستیو شلو کلو نو کې څنګه ځیني رهبران دمشترک اسلامي هیواد د رامنځته کېدو په لاره کې خنډ وګرځېدل، چې په دې برخه کې زموږ ملګري او ورور هیواد پاکستان ډېري لویې قرباني ته حاضرو.

ټول پوځ او وسلې داتومي بم په ګډون دهمدې متحد اسلامي هیواد په واک کې و؛ چې په لومړیو کې به مو دافغانستان

او پاکستان له ادعا څخه شروع کوله او کشمیر به مو هم په زور له هندوانو څخه

(c) ketabton.com: The Digital Library



نیوه ددې جنګ په پایله کې ددې امکان و چې دبهارت مسلمانان هم له موږ سره یو ځای شوي وای او دبهارت ډېرې برخې مو له هندوانو څخه نیولې وای.

په بنګلدېش کې هم وضعیت زموږ په ګټه تغیر خوړ. داڅپه دنورو اسلامي هیوادونو په لوري هم تله ځیننو دسرو لښکرو په مقابل کې دجاد مدعیانو له دې ارمان سره خیانت وکړ او خدا یپاک طالبان ددې ماموریت لپاره پیداکړل. طالبان نو زموږ دپاکستاني انصارو وروڼو او عربو په همکاري په ډېره ښه توګه ټول ځایونه فتح کړل. مګر داحمد شاه مسعود له مړیني وروسته کله چې زموږ مشرانو دنړۍ دفتحې پلانونه وتړل یو ځل بیا دنړۍ دسیاست نقشې تغیر وکړ. ختی زموږ ځینو دوستانو چ

ې لهموږ سره تر اوسه لا په پټه همکاري کوي، هم په ظاهره کې زموږپه خلاف اعلامیه صادره کړه. او موږ ی پدټولو داجماع په اساس ترووریستان اعلان کړو. اشغالګر ځواکونه یې افغانستان ته راوستل. په هیڅ افغان نارینه او ښځینه یې رحم ونه کړ. افغان نارینه بندیانو ته یې په بندیخانو کې سپي ورخوشي کړل. ددې وطین په پتک لمنو ښځو یې تیري وکړل او دافغانستان ټول کنټرول یې یا په خپل لاس کې واخیست یایې خپلو غلامانو ته ورکړ.

دې تاریخي دریو په تعبادالله ډېر تاثیر وکړ او دهغه عقده یې دافغانستان ددولت او دناټو دنظامیتانو په مقابل کې ډېره راوپاروله ان تر دې چې د دې دوهمې میاشتې د درسو په ختمېدو سره چې په افغانستان کې هم هوا ورو ورو دپسرلي کېده، یوه شپه عبادالله مفتي انعام الله ته وویل: مفتي صایب زما لپاره داډېره دردناک حالت دی چې خدای پاک هر شي موږ ته راکړي دي خو دکفارو په مقابل کې دحرکت غیرت نه کوو.

مفتي اننعام الله: زه تا درک کوم، هر مسلمان ځوان باید همداسي احساس ولري. داسي شرایط او فرصتونه ډېر کم خلک په اختیار کې لري. موږ دنړۍ اوزمانې له نهترټولو قوي طواغیت سره لاس او ګرېوان یو. له ناټو سره جګړه کول هم دهر ملت

(c) ketabton.com: The Digital Library



کار نه دی. استشهاادیان له ناټو سره دمبارزې په سبب داسلامي امت دګوتې دالماسو غمي ګرځېدلي دي. زمموږ هیڅ باور او عقیده نه وه چې دداسي عزت او سرلوړي څښتنان دي شو، ولي اوس وینو چې ډېروو اسلامي هیوادو له اسلامي امارت سره دمرستي لاس یو کړی دی.

روسانو ایرانیانو، چیچینیانو چې په کابل باندي زموږ دحاکمیت د دوران دښمنان ول اوس ډېر نیږدې دوستان ګرځېدلي دي چې دا په موږ باندي دخدای پاک عنایت او توفیق دی. حتی دمزدور کابل دحکومت ځیني مشران لاپه پټه کي داسلامي امارت مجاهدینو ته پیسې او نور دضرورت ور توکي ورلېږي. داسلامي امارت اسیران دریژیم په زندانو کي داسلامي امارت د دښمنانو له ټول منافقت سره سره بیا هم ډېر باعزته او باغروره دي چې اکثریت یې له دریو تر څلوروو کلونو راپه دې خوا دکابل په دولت کي داسلامي امارت دنفوذ پر بنسټ ازاد شوي دي او تر اوسه پوري زموږ هیڅ بندي زموږ دبېرته ورتګ له وېري چانه دی اعدام کړی.

دوی دهمدې تو دې کیسې په حال کي دي چې انعام الله ته زنګ راځي، موبایل له جېبه راباسي او له مقابل لوري سره په موبایل کي خبرې شروع کوي.

انعام الله: بلې، السلام علیکم ورحمت الله... الحمدالله تاسي څنګه یاست؟

څه شی؟ رښتیا؟ څه وخت؟ څنګه داسي وشول؟ ولي زموږ انصاري ملګري متوجه نه و؟ نو څه بایدوکړو؟ حتمی،حتمي باید غچ واخلو. نواوس دخدای په امان وروسته خبري کوو.

مفتي انعام الله موبایل بندوي اوپه جېب کي یې اچوي. لاسونه سره سرویي(موښي) له ډېره درده ډګ ځګېروی یې خېژي او جاسوسانو ته ښکنځلي کوي.

عبادالله: خیر خو دی؟ ولي دونه په غوسه یې مفتي صایب؟

مفتي انعام الله: امیر المومنین اختر محمد منصور یې په شهادت رسولی کفارو.

عبادالله: څه شی؟ رښتیا؟ امیرالمومنین شهید شو؟ باید ارام کښې نه نو او انتقام

(c) ketabton.com: The Digital Library



واخلو.

مفتي انعام الله: باید دنیا وربانديي تنګه کړو. دوی نه پوهېږي چې دخدایی له لښکرو سره مقابله کول ناممکن دي. که مو په زرګونو ملګري شهیدان شي بیا هم مخلصین شته چې دابیرغ لوړ وساتي.

عبادالله: مفتي صایب، دغج اخیستلو لپاره باید څه وکړو؟ مفتي انعام الله: عجله شیطان کړې ده. باید په ډېر دقت یو ښه دځټک(چکش) واری وربانديي وکړو. بایدداسي ټک ورکړو چې دناټو ټول پلو یان دغم په ټغر کښېني. داتلانو او قهرمانانو یو ګروپ باید داکار وکړي نه یوکس.

مفتي انعام الله ددې ځوان ذهنیت کاملاً دې ته چمتو کړی دی چې په یوه حمله کي ګډون وکړي. او س ددې وار رارسېدلی دی چې هغه له هغه ګروپ سره معرفي کړي چې دوی په ګډه حمله کوي.

عبادالله: استاذ نن ورځ دسبق ویلو جوصله هم نشته، امکان لري چې درس ووایو؟

مفتي انعام الله: هو ولي نه؟ نو راځه چې یو ځای ته په چکر ولاړ شو ا وځیني دوستان ووینو چې لیږ دادزړه درد ورسره شریک کړو.

دوی دواړه تلو ته چمتو کېږي. انعام الله واسکټ اغوندي لنګۍ په سر کوي او عبادالله ته وایې: ښه دی چې ته هم لنګۍ پر سرکړې. خو ژر اماده شه!

عبادالله: زمالنګۍ تیاره ده دادی ژر اماده کېږم ترځو چې ته موټر چالانوې زه در رسېږم. مفتي انعام الله موټر دموټر اوبه او مبلایل چک کوي چې کم شوي نه وي. وروسته کله چې دی موټر چالانوي عبادالله دموټر دروازه خلاصوي دموټروان دځنګ په سیټ کي کښېني او مخ مفتي انعام الله ته وراړوي او وایي: استاذ ژر حرکت وکړه چې دنیا بیخ ییراباندي تنګېږي. داپه مسلمانانو باندي څه حال راغلی دی؟

مفتي انعام الله یوه دطالبانو ترانه چې دځانمرګي په هکله ده اوډېره پارونکې ده

(c) ketabton.com: The Digital Library



دموټر ټېپ ته وراچوي او بيا موټر روانوي. عبادالله يو په بل پسې ترانو ته په ډېر دقت غوږ نيولی دی او له هرو څو دقيقو وروسته سوړ اسويلی وکاږي.

عبادالله: استاذ دازموږ په مسلمانو خلکو څه ډول سريال راروان دی چې ختمېده نه لري. ټول جنګونه يوازي داسلامي نړۍ په خاوره دي. له يوې خوا کفارو دې ته ستر ګې نيولې دي چې څنګه مسلمانان برباد کړي له بلې خوا په ټولو اسلامي بلادو(ښارو) کي هيڅ داسي سياستمدار نه شو پيدا چې دخپل ملت غمخور وي. زه خو ډېر له دې ژوندده ستړی شوی يم. په مسلمانانو باندي دکفارو دظلمونو تر ليدلو خو باعزته مرګ ډېر غوره دی.

مفتي انعام الله: ستاټولې خبرې قبلوم، خو کفار ډېر پرمختللي نظامي وسايل لري چې موږ يې په مقابل کي جبهه يې جګړې نه شو کولی. حتی د دوی دغلامانو په مقابل کي چې اردو، پوليس او ملي امنيت دي هم جبهه يې جګړه نه شو کولی. يواز يوه لاره راپاتي ده او هغهن داده چې د دوی د دې ټول و امکاناتو په مقابل کي دايمان له جذبې او قوت څخه کار واخلو او د استشهادي شهيدانو کاروان ته ړوامم ورکړو.

ددې خبرې په اورېدو سره عبادالله په خبرو کي ډېر ځنډ کوي په سوچو اوفکرو کي ډوبيږي او له ځان سر هداکلمه ورو ورو تکراروي؛ استشهادي؛ استشهادي؛ استشهادي.

بياهم دواړه ارام ترانې ته غوږ نيسي ياو له څودقيقو ورسته مفتی انعام الله عبادالله ته ګوري، د عبادالله له ستر ګو اوښکي رواني دي او سترګې يې پټې نيولې دي. انعام الله نور ډاډه کيږي چې ښکار دامادە کېدو په حال کي دی. او ددې وخت دی چې داخل ته ورشي.

انعام الله خپله موټرواني کوي او عبادالله ته هيڅ غږ هم نه کوي. هغه پرېږدي چې تر څو يې ژړا ختمه کړي او په ارامه فضا کي فکر وکړي.

موټر يې مطلوب ځای ته رسيږي. انعام الله له جېبه موبايل راکاږي اوزنګ وهي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



له څو ثانیو وروسته یې مقابل لوری ځواب ورکوي. دوی یو له بل سره سلام علیک کوي او انعام الله ورته وایې: دملا رسول دکلي دسر په لاره کې یو.

انعام الله: سمه ده منظر یو، هو خپل موټر دی راسره.

وروسته له څو دقیقو یو ځوان په بایسیکل سپور رارسېږي او دوی ته په لاس اشاره کوي تر څو په ده پسې له شا ور روان شي . دوی ورو ورو په بایسیکل والا پسې له شاروانېږي او یوه باغ ته رسېږي. دباغ دروازه ورته خلاصوي او موټر دیوې ونې لاندې په یوه ګوښه کې دروي او دواړه له موټره راښکته کېږي. هماغه په بایسیکل سپور ځوان له دوی سره پوښتنه کوي او وایي: ستاسي موټر دي همدلته وي. تاسي په ماپسې راځئ چې یوه بل باغ ته ولاړ شو.

دوی په دې ځوان پسي له شا ور روانېږي، په باغو کې له څو عمومي اوڅو فرعي کوڅو تېرېږي او بلاخره یوه باغ ته رسېږي. چې دغوړو له دوه منیو اوسپنیزو ټیمونو څخه جوړه دروازه پکې اینبې ده. دروازه ټکوي. یو ځوانکی لهکړکۍ دوی په دروازه کي ویني او پوښتنه ځني کوي چې څوک یاست؟ له دوی سره راغلی ځوان ځان ور نیږد ې کوي او وایې: زه حکمت الله یم دملاسید ګل: انډیوال ۲۷۴۹۰ شیمشاد زما شفر دی.

هغه شفر په خپل موبایل کي لټوي اوله یوې لحظې وروسته دروازه ورخلاصوي. او دوی باغ ته ننوزي. چاچې دروازه خلاصه کړه، له دوی سره پوښتنه کوي او دوی دیوې ونې لاندي سیوري ته هوار فرش ته رهنمایي کي چې یو څوتنه ځوانان نور هم په همدې فرش له دوو دمنځني عمر لونکو کسانو سره ناست دي. دوی ټول له خپلو ځایونو راولاړېږي او په ډېر صمیمانه اومینه ناک ډو له انعام الله او عبادالله سره روغبړ کوي.

مفتي انعام الله دوی ته عبادالله ورمعرف یکنوي تاو ورته وایې چې دی دډېرو بااستعدادو او با تقوا چریانو له جملې څخه دی. همدارنګه انعام الله هغه دوه کسه

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې منځنی عمر لري او تورې لنګی یې په سر دي داسي معرفي کوي: مولانا صیب عبدالحلیم دښکي بدخشان ولایت څخه او زموږ دټولو استاد دی، مولوي صایب سرفراز خاان دوردګو ولایت دی، ډېر خوش طبع انو زموږ دستر ګو تور دی.

مولوي عبدالحلیم دنوموړي خبر بیرې کومي دوی ته مخ واړوي او وایې: شفیق الله جان زموږ دمجاهدو او ذکي چړیانو څخه او دبغلان ولایت، دواخان سیفي دقهرمان پرور ولایت کندهار څخه، ریاض احمد خان دانصارو مجاهدینو له جملې څخه دی او دښکلي پنجاب څخه، شوکت بایي دکراچۍ څخه، حمیدالله نارویي دبلوڅو مجاهدینو له جملې څخه. خپلو ملګرو ته مخ واړوي او مفتي انعام الله هغوی ته ورمعرفي کوي. دوی سره کښېني او دیوه او بل داحوال په پوښتلو شروع کوي. ورو ورو دافغانستان د اوسني وضعیت او دافغانستان ددولت دنظامي ځواکونو، طالبانو، ناټو او داعش ترمنځ دجګړې په هکله خبري شروع کوي.

مولوي عبدالحلیم: امریکایانو په جګړه کي ماتي وخوړه، یوازي داخپله ماتي نه ښکاره کوي که نه وو تیښتي ته ځان برابروي او دیوې بهانې په لټه کي دي.

مفتي انعام الله: سمه ده چې ماتي یې خوړلې ده، خو دامیرالمومنین ملا محمد عمر مجاهد له رحلت څخه وروسته زموږ لیکي هم ډېري متحدې پاتي نه شوې. زموږ ځیني ملګري او دوستان ددنیوي ګټو په خاطر دامارت دطالبانو په خلاف

لاس په کار شوي و او هره ورځ دتوطیې په فکر کي و.

مولوي سرفراز: که چېرته د داخلي ستونزو په هکله ډېر فکر وکړو شیطان مو په ذهنو کي نوري وسوسې هم اچوي. بهتره به دا وي چې دیوه داسي کار په اړه فکر وکړو چې هم مو دصف یووالی ورسره ټینګ شي او هم له دښمنه غچ پکي واخلو. داسي غچ ځني واخلو چې دطواغیت پښې په سپینه ماڼی کې ولړزېږي.

مفتي انعام الله: ګرانو دوستانو، زموږ لپاره دمبارزې شرایط ډېر حساس شوي دي. کفارمختلف چلونه اوتکتیکونه زموږ دورکېدو او منحرف کېدو لپاره په کار اچوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



له بله لوري زموږ دتحريک دطالبانو پهليکو کي هغه دتېرو کلونو صميميت شتون نه لري.

موږ او تاسي چې له انصاري ملګرو سره ښې اړيکي لرو او عرب مجاهدين هم له موږ اوتاسي سره ډېر ښه دي، ولي يو بنيادي او بنسټيز فکر نه کوو؟

مولوی عبدالحليم: په داس ييبوه حالت ک يځنګه بنيادي فکر کوې چ له يوې خوا په ځوولايتونو کې په جګړه لګيا يو او له بلې خوا زموږ اوستاسي ځينو ملګو داسلامي امارت دمجاهدينو دنظر خلاف له بهرنيانو سره په مذاکره شروع کړې ده.

مفتي انعام الله: دمذاکرې په اړه يې دوه نظرونه لرو:

۱- ښايې دماديانو فرېب يې خوړلي وي او غواړي چې قدرت ته ورسېږي ثروت تر لاسه کړي، او دټولو شهيدانو په وينو معامله وکړي او هم ديوې پټې معاملې په صورت کي زموږ دنورو هيوادونو مجاهدين لاس تړلي امريکايانو ته په لاس ورکړي.

۲- ښايې دساست په ډګر کې زموږ د دوستانو په مشوره يې په پوځ کي يوه داسي لاره ليکه برابره کړې وي چې زموږ مبارز بېته په نړيواله کچه مشروعيت ورکړي. لکه څنګه چي ديني مشروعيت لري. چې داکار زموږپه ګټه دی خوکه دقيق مځکي ولاړ شي، مګر دافانستان دولت کوښښ کوي چ پپه مختليفو ځايونو کي زموږ مرکزونه له منځه يو سي اوتر څنګ يې دې ته هم بايد متوجه شو چې دنوروهيوادونو دجاهدينو سرنوشت چې زموږ داسلامي امارت له مجاهدينوسره اوږه په اوږه جنګېدلي او درېدلي دي خراب نه شي.

مولوي سرفراز: زه په همدې خبرو ډېر باور نه لرم. که سوله وشي او ده مشترک دولت لپاره له نورو سياسي ډلو سره يوځاي کابل ته ولاړ شو حالت ډېرخرابېږي چې يو ځل هم د اسلامې امارت مجاهديو ښارونه ووينې نور بيا زموږ په خبره نه کوي او د شخصي ژوند د جوړولو په فکر کې غرق کېږي بهتره داده چې يوازې د ټول افغانستان د فتح په فکر کې شو او نوري ډلې ورکې کړو چې بيا زموږ په خلاف د جګړې کولو

(c) ketabton.com: The Digital Library



فرصت پیدا نه کړي.

حمیدالله نارویي: ستاسي دا رقم خبري زموږ زړنه ښخي را اچوي. موږ په دې فکر کې یو چې د بلوڅو په خاوره به هم د اسلامي امارت بیرغ درووو. زموږ په ښارونوکې په سوني مذهب بو باندې ډیر ظلم روان ده او څوک یې هیڅ غږ نه اوري.

مولوي سرفراز: نارویې وروره خپله شوله مو اوخوري او پرده مو وکړئ. د ایران دولت اوس د افغانستان داسلامي امارت ملګر دی اوده امارت رهبري اوس نه غواړي چې څوک دې په ایران کې جګړه وکړې.

دواخان سفي: ولې موږ هم باید خپله دنده ترسره کړو. خصوصاً په دې شپو او ورځوکې چې دولت ډیر مست دی او په هره سیمه کې د مجاهدینو په خلاف عملیات کوي.

شفیق الله : زموږ خلګو د دولت په خلاف جګړه شروع کړي ده او کندوزیانو هم خپله بیرغ پورته کړې ده. په کابل کې باید یو ډیر لوی کار وشي چې وزر یې ورمات کړو.

مفتي انعام الله: زما په نظر دا بهترین کاردي چې دې کافرانو ته سم د لوړې سویې ټکول ورکړو.

مولو رحیم: ټکول باید ونه دریږې. په هر حالت کې باید دوام وکړي. حتا که د اسلامي امارت رهبري سوله هم وکړي، موږ باید خپلو ټکولو ته دوام ورکړو ځکه ډیرو خلګو له دینه مخ اړولي دی اوله ورکېدو پرته یې بله لاره نشته.

مولوي سرفراز: زه هم موافق یم. هغه باغیرته ځوانان څوک دې چې د رسول الله حضورته ورشي او زموږ ټولو سلامونه ورته ورسوي، د څو دقیقو لپاره مجلس سکوت اختیارکړ او هر کس یواو بله ته ګورا!

دواخان سفي: زه او عباد الله ورور ځانونه چمتو کو او ان شاالله چې یوښه میړانه به کو!

(c) ketabton.com: The Digital Library



مفتي انعام الله: څه نظر لري عبادالله خانه؟ غواړي چې د جنتوسردارشي، د رسول الله دیدن وکړي او که په دې له غمواو له ګناهونو ډکه دنیا کې له موږ سره پاته شي؟

عبادالله: زه د اسلام په خاطر هرکارته چمتواو حاضر یم.

ریاض احمد: د عبادالله خان او دواخان ایمانداري او زړه ورتیا مې ډیره خوښه شوه. رښتیا چې افغانستان ډیر رشد او اتلان ځوانان لري. اوس په دې ډاډه شوم چې په کابل کې ده دوهم ځل لپاره د اسلامي امارت بېرغ رپیږي.

مولوی سرفراز: ریاض صایب، زموږ دې داوطلب استشهادي ځوانانوته څه لارښونه او وړاندیز لري؟

ریاض احمد: ښه ده چې دا دجنت سرداران چمتوشي او د عملیاتو نقشه ورته برابره کړو.

دواخان سفي: موږ اماده یو. تاسي خپله نقشه راوړئ. موږ بلکل حاضریو.

ریاض احمد: باید یو داسي مهم کار وکړي چې هم دښمن ته ضربه ورکړي او هم د اسلامي امارت خلاف سیاسي توطیو مخنیوی وکړي.

شفیق الله: باید د شش درک د برید نقشه چې څو ځلې مومخکې هم اقدام وربانديې وکړ خو ناکام شو؛ په کار واچو. شش درک په هره ګوښه کې یو هدف دی او هلته عملیات هیڅ خطا نه لري.

مولو عبدلحلیم: نو باید فرصت له لاسه ورنه کړو او د عملیاتو کارپه ډیر سرعت او دقت شروع کړو.

دواخان سیفي: نو ولي ډیره لټې کوئ؟ خپله برنامه باید ژرتطبیق کړو.

عبادالله: زه اوس لا خپل ځان په جنت کې وینم. کاملاً اماده یم چې دا کافران جهنم ته وروان کړم، په زور ده خدای.

ریاض احمد: نو نن مازدیګر د سفر لپاره چمتو والی ونیسئ پخیر. په لاره بلد

(c) ketabton.com: The Digital Library



کسان به تر هدفه ګام په ګام درسره وي.

شوکت بابي: زه هم تر سرحده درسره ځم، چې لېږ ترلېږه خو دپروردګار په حضور کي ستاسي استشهاديانو هم سفر وګڼل شم. ډېر مي زړه کېږي چې له تاسي سره په دې شهادت طلبانه عملياتو کي ګډون وکړم. خو دلته هم ضرورت دی چې بايد دجبهې شا درته مديريت او کنټرول کړم تر څو نور ځوانان هم ستاسي په څېر ستاسي په لاره ولاړ شي. ډوډۍ په يوه ګل لرونکي دستر خوان کي ورته ږدي او يو دمنځني عمر اشپز ټولوته غږ ورکوي چې ډوډۍ تياره ده. راځئ له خيره سره....

په کراره په ډوډۍ خوړلو شروع کوي. دډوډۍ خوړلو په وخت کي شفيق الله عبادالله ته مخ وراړوي او وايي: يوه استشهادي خور هم له تاسی سره چمتوده تر څو له تاسي سره په دې دخير په امر کي ګډون وکړي. هغه بايد له نيږدې ووينئ.

عبادالله: زه ډېر نه پېږم خو هر څنګه چې مشران لازم بولي زه په خدمت کي يم.

مفتي انعام الله: ځوانانو تاسي لېږ ارام وکړئ چې په لاره ستړي نه شئ.

مولوي عبدالحليم: رياض احمد، او شوکت بابي دباندي سره راوزي او دانور هر يوپه يوه ګوښه کي دراز غزېږي. دمازديګر داذان غږ دوی ټول له خوبه راويښوي او عبادالله په بيړه دتشناب په لور داوداسه لپاره ځي. وروسته له اوداسه ټول راځي او په مولوي عبدالحليم پسي له شا دجماعت لمونځ کوي او مولوي عبدالحليم مخ دعبادالله خان او دواخان سيفي خواته وراړوي او دعاپه لوړ غږ په دې ډول وايي: خدايه! دا دوه ځوانان چي په دې نيږدې ورځو کي ستاسيي حضور ته درځي، ستا حضور ته يې موږ شفيع کوو. چې زموږ هيواد له کفارو خلاص کړي او اسلامي قلمرو ته په نړۍ کي پراختيا ورکړې.

خدايه!موږ ډېر ګناهګار يو خو دامبارک ځوانان مو ډېرښه تربيه کړي دي. تر څو ستا د دين بيرغ لوړوساتي.

خدايه! زموږ انصاريي ملګروته ستا مهرباني او عنايت ور په نصيب کړې ترڅو په

(c) ketabton.com: The Digital Library



افغانستان کي زموږ دمسلمانانو تر کامیابي پوري داسلامي امارت تر څنګ ودرېږي.

ذوالجلاله! هر څوک چې په قلم، قدم او درهم باندي له موږ سره همکاري کوي استاد لایزال نعمت تر سیوري لاندي ځای ورکړې.

یا الله! ددې دووو استشهادي او ګل ګل ځوانانو مور، پلار او خپلوانو ته بدراو احد دشهیدانو په صف کي ځایورکړې.

آمین یارب العالمین!

مولوي سرفراز: نو لېږ ژر ژر کارونه شروع کوو په خیر. یو ځل هغه استشهادي خور وینو او خبري یې اورو چې هغه څه ویل لري.

مفتی انعام الله: ډېره ښه خبره دي وکړه مولوي صایب. بسم الله!

ټول له خپلو ځایونو راپورته کېږي او دخپلو موټرو په لوري ځي. په موټرو کي سپرېږي او دمخې موټر درياض احمد خان دی. دشل دقيقه يې مزل وروسته دامهات المومنين مدرسې ته رسېږي. رياض احمد خان له موټره راښکته کېږي او نورو ته په لاس اشاره کوي چې څوک له موټره راښکته نه شي.

رياض احمد مدرسې ته ننوزي او له څو دقيقو وروسته بېرته دباندي راوزي. اوعبادالله ته وايې چې راځئ چې ځو په خير، خوښدي راځي.

موټر وان حرکت کويې او لنډي کوتل ته نېږدې يو دکم وخت لپاره درېږي. له دوی سره دوه موټره نور هم يوځای کېږي چې په يوه موټر کې دوې ځواني ښځې ناستي دي او بل موټر هم امنيتي دی. خو داسي ملکي جامې يې په تن دي.

رياض احمد له يوه کس سره چې امنيتي موټر دمخي په سيټ کي ناست دی خبري کوي او نورو موټرو ته هم دحرکت دستور ورکوي. دوی ټول لواړګي ته رسېږي او هلته يوې کوټې ته دهغه موټروان له لوري چې ښخې پکي سپرې وي، رهنمايې کېږي. ټول دمېلمانه دکوټې په صالون کي سره کښېني. مولوي سرفراز مخ دعبادالله او دواخان لوري ته واړوي او وايې: داډېر دخوشحالي ځای دی چې تاسي دحضرت

(c) ketabton.com: The Digital Library



محمد مصطفی حضور ته ورځي او په یاد ولرئ چې زموږ ګناهګارانو سلام هم محمد رسول الله ته ورسوئ. تاسي خو پوهېږئ چې پیري او ضعیفي د دې سبب شوې ده چې ستاسې ځوانانو غوندي قوت او توانایې نه لرو. خو بیا هم پهد ېلهېرخوشحاله یو چې له تاسي اتلانو سره تر دې ځایه هم سفره شوو.

ریاض احمد: اوبل دخوښي خبر دادی چې زموږ دوې خوېندي همله عبادالله او دواخان سره دجهاد عزم لري. غواړي چې له شهادت نه مخکي ددې دوو ځوانانو په عقد کي وي. تر څو له دوی سره یوځای جنت ته ولاړ شي.

دمجلس فضا څو دقیقې سکوت کېږي. وروسته له هغه انعام الله دعبادالله او دواخان څېرو ته ګوري انو له ریاض احمد څخه پوښتنه کوي: ددې دوو خویندو په هکله لیږ ډېر وغږېږه چې زموږ ځوانان له هغوی سره ښه وپېژني.

ریاض احمد: زموږ داخور ماه جبینه نومېږي او دسوات ته اودا بله خور بخت بي بي نومېږي او دمردان ده.دوی دواړ ې زموږ دمدرس ښې انجوني وې او دایو کال کېږي چې داستشهاد لپاره یې نوم لیکنه کړې ده او لحظې شماري.

ماه جبینه: ډېره خوشحاله یم چې په دې نوراني اجماع کي له تاسي مشرانو سره یم. ما او بخت بي بي خپل ټول ژوند اسلام ته وقف کړی دی. او چمتو یو چې دخپلو مسلمانانو دعزت په خاطر خپل ځانو نه قرباني کړو. البته دا دشرم ځای نه بولم چې موږ هره یوه په خپله رضا یو له دې رشیدو ځوانانو سره چې داستشهاد اراده یې کړې ده دنکاح عقد وکړو. دې لپاره چې هم دلارې په اوږدوکي یو او بل سره نامحرم نه یو او هم له دنیا مجرد ولاړ نه شو.

مولوي عبدالحلیم: ډېره ښه خبره دي وکړه لورې تاسي واقعاً شرعې خبره وکړه، خدای پاک مو دمحشر په ورځ دبي بی تر ټیکري لاندي راپورته کړه.

بخت بي بي: زه هم د دې طرف داره یم چې شرعي نکاح وکړو تر څو یو او بل سره محرم شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



عبادالله: که دمشرانو اجازه وي زه غواړم چې له ماه جبیینې سره نکاح وکړم.

دواخان: نو زه هم دبخت بي بي سره واده کوم.

مفتي انعام الله: نو ځوانانو ولاړ شئ حما مونه وکړئ او پاک کالي واغوندئ چې همدا اوس مو دنکاح دعقد مراسم دایر کړو.

دپاکو کالیو له اغوستلو او چمتو کېدو له اظهاره ورسته دنکاح دعقد لپاره دعبادالله او ماه جبینې دنکاح خطبه عبدالحلیم وایې اود دواخان او بخت بي بي دنکاح خطبه مولوي سرفراز وایي.

له دې دواړو ځوانانو سره ددې دوو انجونو دنکاح له عقده وروسته مولوي سرفراز دواخان سیفي او عبادالله ته مخ وراړوي او وایې: ډېر ددې دنیا دخوندو نو په فکر کې مه کېږئ کوښښ وکړئ چې ددې دنیا په جنجالو نو کې تر راګېرېدومخکې جنت ته ولاړشئ او هلته موله دې مېرمنو سره یوځای نوی ژوند شروع کړئ.

ماه جبینه: مولوي صاییه موږ هره لحظه دشهادت انتظار کوو خو صبر وکړئ چې په خیر داخل ته ولاړ شو.

عبادالله او دواخان له خپلو مېرمنو سره خپلو کوټو ته ځي تر ځو دمتاهلي ژوند تجربه کړي. دسهار داذانونو غږ دوی ټول راویښوي. دواړه مېړونه او مېرمنې یې غوسلونه کوي او ورسته له هغه دمتاهلي دژوند دلومړني سهار لمونځ دانعام الله په امامت اداکوي. دسهار دلمانځه له دعا ورسته ریاض احمد ټولو مقتدیانو ته مخ واړاوي اووایې: داځلور بختوراناڼ چې دوه نیې ښځینه اودوه یې نارینه دي الله ج لایق ګڼلي دي چې دجنت سرداران شي که څه هم موږ او تاسي ټول داسي عظیمي خوشبختي ته منتظر یو، خو داچې دې ځلورو وکولای شول چې په بریالیتوب دې مرحلې ته ځانونه ورسوي، یوازي ددوی هڅې او استعداد نه دی، بلکه په دوی او کورنیو باندي یې دغفور او رحیم ذات ډېر نه ختمېدونکی مرحمت او مهرباني وه

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې دوی هریو کولای شي چې دپروردګار په حضور کي دخپلو کورنیو دغړیو او دهمفکره دوستانو شفاعت وکړي. انشاء الله چې دا څلور ته مبارک استشهادیان به دخپلې مهرباني تاو لطف له مخې دپروردګار په حضور کي زموږ او ستاسي شفاعت هم کوي. نو راځئ چ طد دې عزیزانو د وداع او خدای په امان یلپاره دسهار تر چایو مخکي دټولو مېلمنو او دوستانو په ګډون یو دقرانکریم ختم وکړویو تر څو د دې څلورو دجنت دسردارانو سفر له خوښیو ډک واوسي.

دسهار داتو بجو په شاوخاکي یې دقرانکریم دختم دعاوویله او له هغغه وروسته یې دسهار چای وخوړ او دسفر لپاره یې چمتووالی ونیو.

مولوي سرفراز: ځوانانو، زه له تاسي سره داوغانستتن داخل ه ځم اوتاسي له دانورو ملګرو سره په همدې ځای خدای پاماني وکړ.

دواخان سیفي:سمه ده مولوي صایب، نور نو دوستانو موږ ته دعا وکړئ. انشاءالله چې ډېر ژر به هدف ته ورسېږو.

عبادالله: خو تر اوسه موږ ته هدف چا مشخص نه کړ؟

مولوي عبدالحلیم: هدف به وروستی لاړښود ملګری، چې له تاسي سره به وي تاسي ته درښیې. ډاډه اوسئ. خپله هرشی درته مشخص کوي.

عبادالله، دواخان سیفي، ما جبینه او بخت بي بي له مولوي سرفراز سره یوځای له ټولو دوستانو خدای پاماني را اخلي پ دوه سیټه پیکپ موټر کي چې دباندي ولاړ دی سپر ېږي او موټر دتوزخم دمرزي ګذرګاه په لاره روانېږي.

په لارهه ګي یوه اوبل ته په ډېره حیرانتیا ګوزي او هریو فکرکوي چې نور به لاځه کېږي.

ماه جبینه: پوهېږئ؟ ددنیا ژوندډېر ستونزمن شوی او هره ورځ په دې دنیا کي داسي کارونه کېږي چې دانیان په حیث شرمېږم. په همدې اوغانستان کي خارجي اشغالګر هره ورځ ب ګناه مسلمانان په شهادت رسوي. داسي بې ناموسه شرکتونهه

(c) ketabton.com: The Digital Library



دي چې افغاني بېچاره او ښايسته انجوني دخارجيانو مرکزونو ته ورې تر څو دپيسو په بدل کي له هغو انجونو څخه نروا ګټه واخلي. قسم په والله چې ستاسي دخلکو دعزت په خاطر مي پښتو او فارسي ذده کړه تر څو ددې کافرانو په ضد يوداسي بنيادي کار وکړم چې ددط کفارو لپاره عبرت وګرځي.

مولوي سرفراز: خورې تاسي سم واياست. ستاسي غيرت دقدر وړدی. ستاسي انصارو خلکو غيرت او مېړانه د ټول امت وياړ دی. موږ هم مبارزې او قرباني ته تيار ځوانان لرو چې په دې څو وروستيو کلونو کي يې په اشغالګرو باندي رښا ورځې دتيارو شپو په څېر کړې دي.

عبادالله: دوستانو، دخدای په لاره کي تلل يوازي په الله ج توکل ته ضرورت لري. اوله پروردګاره په دې لاره کي دتوفيق غوښتونکي يو تر څو دکفارو په خلتاف يو داسي کار وکړوچې پکي دالله ج رضا حاصله شي.

موټروان موټر دروي او دوی ټوبو ته وايې: ستړي مه شئ، له دې هاخوا زموږ موټر تللی نه شي نو تاسو خپله لاړ شئ. ها خوا دافغانستان موټر شته.

ټول له موټره راښکته کېږي او بکسونه اوږو تهاچوي او په بېړه دمرز په لوري روانېږي.

مولوي سرفراز: ودرېږئ، چېري تېز تېز خئ؟ دالاره هغو کسانو ده چې پاسپورت لري؛ صبر وکړئ چې ما همغږي کړې ده دمسجد دې خواته راځئ.

ټول دمسجد ددېوال خواته ګوښې ته څو دقيقې درېږي چې يو کس دمنځني عمر کس چې تورې چامې يې په تمن دي له موټره راښکته کېږي اوله ولوي سرفراز سره ډېره ګرمه پوښتنه کوي. او ممولوي سرفراز دوی هريو هاه ته معرفي کوي او ديوه او بل سره په پوښتنو او ګروېږنو شروع کوي.

مولوی سرفراز: حاجي عنايت الله شينواريی، زما له ډېرو صميمي ملګرو څخه دی چې له کلونو راپه دېخوا د دووو وروڼو په څېر ملګري يو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



حاجي عنایت الله: سلامت اوسې مولوي صایب، ته خپله زما دستر ګو تور یې مور ټول په تاباندي ویاړو.

دواخان سیفي: حاجي صایب عنایت الله خانه تاسي په همدې سیمه کي ژوندکوئ؟

حاجي عنایت الله: نه زه په لوړاګي کې ژوندکوم خو دلته دترانسپورټي خدماتو دفتر لرم. زیني تجاران چه ګمرکی اسناد اونور کاغذونه یی سم نه وی مونږ ورته جورو.

عبادالله: څنګه له سرحده تېر شو؟

حاجي عنایت الله: تاسي ټول زما دفتر ته راشئ. وطن ته د بېرته راګرځېدو سند درته جوړوم چې تر هدفه په ډاډه زړه ولا شئ. یوه پیاله چای هم له ماسره وخورئ.

حاجي عنایت الله مخته مخته روانېږی اوټول دده له شاپه لاره روان دي . سرحدي دروازې ته نیږدې دیوه سرای په دوهم منزل کي یوه دفتر ته ننوزي چې دوه اداري ماموی==رین کاري مېز شاته ناست دي او یو دمنځني عمر سړی مېلمنو ته چای راوړي.

حاجي عنایت الله: خوبندو، تاس دې دځنګ دفتر ته ولاړي شې چې زموږ دمېلمانه کوټه ده. دلته نامحرم خلک تګ راتګ کوي.

بخ بي بي او ماه چبینه دمېلمانه کوټې ته ننوزي. عبادالله هم غواړي چې له خپلې مېرمنې سره یوځای دمېلمانه کوټې ته ننوزي خو ماه جبینه ورته وایې: مه را ننوزه چ طیوه بله ښځه هم ده.

عبادالله بېرته دفتر ته راګرځي او حاجي عنایت په شوخي هغه ته وایې: ځوانه دلته بیخي ډاډ٥اوسه موږ قبایلي خلک یو اوهیڅوک دبل چاناموس ته کتلی لانه شي.

وطن ته دبېرته راګرځېدو(برګشت) د ورقو له چمتو کېدو ورسته لیږ لیږ دتګ لپاره جمتو والي نیسي خو حاجي عنایت الله له جېبه موبایل راکاږي او یوه کس ته دموټر

(c) ketabton.com: The Digital Library



درالېږلو لپاره پیغام لیږي.

حاجي عنایت الله: تر څو دقیقو پوري چې موټر رترېږي دتورخم د دروازې خواته ورو ورو حبکت کوو چې هه زمام ملګری سرګردان نه شي.

عبادالله او دواخان له خپلو ځیونو راولاړېږي او خپلو مېرمنو ته هم غږ ورکوي.

حاجې عنایت الله: تاسي ښکته شئ ملګرو له شا مو تور سرې(سیاه سرې) را رواني دي.

هر کس خپل بکس راپه اوږه کوي او دتورخم ددروازې په لوري ځي. دتورخم سرحدي سرتېری چې دحاجي عنایت الله غوندي ستر ګې یې دي، هه ته په احترام او شیطانت امېز ډول سلام ور اچوي او ورته وایي: بیاد یهم مبارک وي شېخ صیب. دوستانو ته جنتونه غواړم.

حاجي عنایت یوازې دسر په ښورولو او تبسم دسرحدي سرتېري ځواب ورکوي. له سرحدي حوېلۍ څخه دافغانستتن ددروازې خواته نیږدې کېږ یاو عبادالله له لري دافغانستان خلک او موټر ویني او په خوشحالي ماه جبینې ته وایې: هاغه دی زموږ هیواد. وګوره څونه ښکی دی. عجب رستورانتونه لري.

مولوي سرفراز: عبادالله بجیه پام دي وي چې په ښځو موځوک پوه نه شي چې پاکستانی دی. هیواد ته دبېرته راګرځېدو پهورقو کي یې هویت افغانی لیکل شوی دی.

ماه جبیینه: زړه مو ډآډه اوسه مولوي صایب. موږ نه شي پېژندلای.

حاجي عنایت الله شینواری له ټولو سره خدای پامااني کوي او ممولوي سرفراز ته وایې: دافغانستان له دخولي دروازې لیږ لرې یو فلاینکوچ موټر درته منتظر دی. دموټران نوم یې سیداجان دی. صبر وکړئ چې یو ځای بعکس نموپه موبایل وتاخلم او په واټساپ یې ورته ولېږم.

مولوي سرفراز: ترډېره دې ژوندی یې شینوتاری صایب، ته خو دټول تحریک

(c) ketabton.com: The Digital Library



دسترګو نور يې.هر وخت جې مو بېرته دولت ونيو ته دتورخم دګمرک ريس يې په خير.

ټول دلاسوپه ښورولو سره ورور ورو له حاجي عنايت الله لرې کېږي او افغانستان ته داخلېدونکي دروازې مخې ته رسېږي. افغاني سرحدي سرتېري ته يې هيواد ته دبېرته راګرځېدو دورقي هب ښوولو ره دننوتو اجازه تر لاسه کړه. لېږ لرې يې په فلاينکوچ موټر ستر ګې لګېږي چې د دوی په ورنيږدې کېدو سره موټرواان له موټر هراښکته کېږي او دوی ته ورغږ کوي: سترې مه شئ ؛ زه سيدا جان يم.

مولوي سرفراز: او موټروانه وروړنه څنګه يې؟ بيا مي هم دا دی په خير وليدلې او لادونه دي ښه دي؟

سيداجان: سلامت اوسې ملا صايب. موږ ټول ښه يو، ستاسي دعاګاني دي. تاسي په خير راغلاست؟ ملګري او دوستان هم ښه دي؟ په خير راورسېداست؟

سيداجان له ټولو سره پوښتنه وکړه او بکسونه يې دموټر په شا کی کېښودل او مخ يې دمولوي خواته وروااړاوه او ويې ويل: مولوي صايب، لاره لېږ اوږده ده، خويندوتهووايه چې په کوم سېټ کي خوشحاله دي؟

مولوي سرفراز: زما په زړه خوکه وي، هره يوه دي دخپل خاوند ترڅنګ کښېني.

بخت بي بي: سمه ده مولوي صايب. هره يوه به دخپل محرم تر څنګ کښېنو چې په لاره کي کوم ضرورت پيښ نه شي يا مو زړه بد نه شي په موټرکي.

ټول په موټر کي سپرېږ ي او سيداجان دسفر ددعا په ويلو مموټر ته حرکت ورکوي. دجادې دواړو خواوته منظرې ټولو ته ډېري جالبې وې. دجادې چپط خواته له تورخم څخه لېږ لرې چې ټول ځايونه وچ دي، څو شنې ونې ليدل کېږي او عبادالله په ډېره حيرانتيا له موټروانه پوښتننه کوي: سيداجان استاذ، په دې وچه سيمه کي داوني څه کوي؟

مولوي سرفراز غوښتل چې ژر ځواب ورکړي، خو سيداجان وويل: څوکاله مخکې دلته دسياف قرارګاه وه. په هغه وخت کي زه او مولوي صايب سر فراز په

(c) ketabton.com: The Digital Library



جلال اباد ښار کي و، او زه دمولوي صايب موټر وان وم. ملا صايب هم زموږ دټولي قطعي سياسي آمر و. خدای خوشته ښه کش او فش يې درلود. داسي دصايب منصب درشې به يې اغوستې وه چې ځل اوبل به کېده. بيا يې د ډاکټر نجيب په خلاف کودتاه وکړه، خو نه پوهېږم چې څه رقم يې راز افشاشوی و، او روسته له دې چې د دفاع وزير صايب هم له کابله پاستان ته مهاجر شو. موږ ټول پېښور ته ولاړو چ ېکيسه ډېره اوږده نه شي، داقرارګاه داتحاديانو وه، او ډېرې اوږدې اوږدې ښمڅې يې جوړې کړې وې. داسي ويل کېدل چې سياف دتنظيم ټول مالونه دلته او ځاځيو ته انتقال کړي و، او حتی دغره په سر کي يې لاپوسته جوړه کړې وه. دلته يې ژوره څا کښلې وه او لهه دې ځايه يې وبه(اوبه) وړې. ډېر لوی لوی خيالونه يې ليدل. هغه دلته څاه کښلې وه او ويل به يې چې څوک دپاکستاني وروڼو له تهاڼې نه اوبه رانه وړي، ډېر بخيل انسان و.

نه يې غوښتل چې پاکستانيان داوغانستان عسکرو ته داوبو ورکولو په ثواب کي شريک شي. بيا داځای همداسي ورنه پاتي شو او داسلامي تحريک طالبانو ټول شيانن خراب کړل. يوازي همدا څاه پا تي ده چې خلک اوبه ورنه وڅښي.

مولوي سرفراز: سيداجانه، دفلم غوندي د کيسه ټکي په ټکي ورته وکړه. پرېږده چې داسيمي ووينی و خوندورنه واخلي.

دواخان سيفي: دسياف په باره کي زموږ استادانو هم ښه نظر نه درلود. هغه کوم ځل دپير صايب سره جنګ هم کړی و.

بخت بي بي: ولي په اوغانستان کي له پاکستانيانو سره دښمني زياته ده؟ پ هموږ خو داوغانستان حلک له ځانه هم ډېر ګران دي.

مولوي سرفراز: ځيني خاينين شته چې له پاکستان سره دښمني کوي. که داخاينان نه وای والي به اوس له دونه ډېو ستونزو سره مخ و. موږ ټول مسلمانان يو او يو مرام لرو. څونه به ښه و چې يودولت مو درلودای، يو قوي اسلامي هيواد موجوږ کړی وای

(c) ketabton.com: The Digital Library



او اسلامي بيرغ مو په ډهلي، بخارا، او سمر قند کي درولي واى.

سيداجان: اجازه ده چې دتراني يوه کيسه ورواچوم؟

عبادالله: ورواېې چوه استاذ چې واېې ورو او ليږ مو فکر بلې خواته واوړي. طالباني ترانه دموټر په ټيپ کي ارامه کي چالانه ده او په موټر کي سپاره کسان هم ليږليږ خوب وړي دی خو مولوي سرفراز له سيدا جان سره دمخ په سيټ کي ويښ دی. دريکشو دهارن غږونه ټول راويښوي. کله چې متوجه کېږي ګوري چې دښارپه منځ کي دي او لاره هم ډېره مزدحمه ده. رکشې به سړک داسي تېزي رواني دي لکه د درياب ماهيان. درکشې هارنونه دې ښار ته نوي داخل شوى افراد ډېر په عذابوي.

عبادالله: چې رته راورسېدو استاذ؟

سيداجان: په جلال اباد ښار کي يو.

عبادالله: دا دکبير کاريز سيمه چېرته ده؟

سيداجان: څو دقيقې مخکي له کبير کاريز څخه راتېر شو. تاسي ويده واست.

عبادالله: زمان دپلار يو ډېر صميمي ملګرى دکبير کاريز دی او پلار مي راته ويلي و چې هر وخت جلال اباد ته ولاړې يو ځل دهغوى احوال واخله.

سيداجان: غوسه دي نه ورته راځي لالا. دکبير کاريز خلک دتحريک له غړو سره ښه چلند نه کوي انو ډېرى يې له امنيت سره همکاري کوي. هيڅ ښه نه ده چې ويې وينې.

ماه جبينه: څه يې کوې عبادجانه چې وينې يې، ددې خلکو له ليدو تېر شه. استاذ ډرايور داخلک ښه پېژني.

سيداجان: ملګرو دمېلمستون مخې ته مو راورسېداست. تاسي راښکته شئ په خير چې زه ولاړ شم اوستاسي دخوراک لپاره يو شى راوړم.

مولوي سرفراز: دننه څوک شته؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



سیدا جان: هو شته دوکیل صایب اشپز تل دلې وي. خو ښایې یوازې دځان لپاره یې ډوډۍ پخ کړې وي. او ماهم نه ورته وویل چې موږ درځو او ډوډۍ مونه ده خوړلې.

بخت بي بي: نو لیږ اوغانی قابلي هم درسره راوړه چې زما ډېره خوښه ده.

دواخان سیفي: لکه چې موږ ټول قابلي غواړو.

عبادالله: زه هم قابلي خورم.

مولوي سرفراز: سیدا جان استاذ ټولو ته وطني قابلي راوړه چې درې خوراکه سیخ کباب هم ورسره وي چې دمیدان ښار دکباب په یاد کي یې وخورم. په میدان ښار پسې ډېر خپه شوی یم. ارمان چي تللی نه شم.

سیدا جان ځي او له نیم ساعت وروسته بېرته راګرځي. دوی ټول په کوټه کي ځای په ځای شوي دي. او یوازي مولوي سرفراز په صالون کي له اشپز سره ناست دی او کیسې کوي.

سیداجان: اشپز وروره څه حال دي دی؟ زه نه رانوتم او ولاړم چې مېلمنو ته لیږ ډوډۍ راوړم. پوهېدم چې تا ډېره ډوډۍ نه ده پخه کو=ړې اوماهم زنګ ونه واهه چې په حمت نه شې.

اشپز: ډېره ناځواني دي وکړه: سیداجان استاذ. زه دخلکو خدمتګار یم. وکیلل صایب ماته ویلي دي چې تل ستاسي دمېلمنو خدمت وکړم.

سیدا جان: نو همدا ډوډۍ دزواخله او په غوریانو کي یې واچوه چې سړېږي.

مولوي صایب هم دوستانو ته غږ ورکوي.

مولوي سر فراز: هلکان ستړي شوي دي. ډوډۍ راوړئ چې هر یو یې له خپلې ښخې سره ډوډۍ وخوري.

سیداجان: ملا صایب عجبه خبره دي وکړه والله. داد یزههه او اشپز هم ژر ژر

(c) ketabton.com: The Digital Library



شیان تیاروو. ډوډۍ خوري، لمونځ کوي او ټول یوه سترګه خوب ورته کوي چې ستړیا یې له منځه ولاړه شي.

مازدیګر لمانځه ته راپورته کېږي او مولوي سرفراز عبادالله او دواخان له ځانه سره دباندې ښارته بیایي. دماښام لمونځ هم په جامع مسجد کې په ښار کی کوي او وروسته بېرته مېللمستون ته راګرځي. کله چې مېلمستوون ته رارسېږي ګوري چې څو لوکس ماډل موټران دمېلمستون شاته ولاړ دي او په کوڅه کې ډېر مسلح کسان هم لیدل کېږي.

ددې وضعیت په لیدو سره عبادالله ډېر وېرېږي، خو یو له باډیګارډانو غږ کوي: مولوي ستړی مه شې پخیر راغلې؟

مولوي سرفراز له هغه سره پوښتنه کوي او دوه مېلمانه هم ورته معرفي کوي. اوهم هغه دې مېلمنوته معرفي کوي چې ملنګ جان دوکیل صیب ورور دی.

ملنګ جان: مولوي صایب مهرباني وکړئ دننه درځئ. وکیل صایب مو پوښتنه کوله.

ټول مېلمستون ته ننوزي او دصالون په منځ کي سیداجان له وکیل صیب سره ناست دی او کیسې کوي.

مولوي سرفراز: السلام علیکم ورحمت الله، څه حال دي دی جناب وکیل صاحب؟

وکیل: وعلیکم السلام قارمان او مبارز مولوي صایب. په خیر راورسېدې؟ ډېر درپسې خپه شوی وم.

مولوي سرفراز: وکیل صایب عبادالله خان او دواخان زموږ د دوستانو له ډلې څخه دي چې دواړه له ماسره په دې سفر کي دي، البته ښخې یې هم ورسره دي.

وکیل: نام خدا، دادووه ځوانان خو دشمشاد ونې دښاخونه دي. ودرېږه چې ټینګ یې په غېږ کې ونیسم چې دمحشر په ورځ زما بیچاره شفاعت هم وکړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



عبادالله: سلامت اوسې وکیل صایب، تاسي خلکوته ډېر خدمت کوئ. ښایې شفاعت ته مو ضرورت نه وي او ددې نېکو اعمالو په اساس جنت ت ولاړ شئ.

وکیل: داوطن او اسلام په موږ ډېر حق بري خو ددې کقارو په مقابل کي مولاسونه تړلي دي. ددې اشغالګرو په مقابل کي هیڅ غټ کار نه شو کولای.

مولوي سر فراز: وکیل صایب محترم، تاسي تحریک ته ډېر خدمتونه کړي دي چې خدای پاک به ددې اعمالوسل برابره ثوابونه درکړي. ته داشغالګرو په مقابل کي د ګمنام سرتېري په مثال مبارزه کوې.

وکیل: ملګرو دکابل لاره هره ورخ ډېره تلاشي لري. راځئ چې همدا اوس زما په موټر کې له ماسره یو ځای حرکت وکړو په خیر.

عبادالله د دواخان او سرفراز خواته داسي ګوري لکه ډېري پوښتنې چي یې په ذهن کي وي. او غواړي چي نظر یې واوربدل شي.

مولوي سرفراز: وکیل صایب ښه پوهېږي چې دلاری وضعیت څنګه دی؟ خویندو ته هم احوال ورکړئ چې حرکت وکړو په خیر تر څو چې سهار کېږي، کابل ته ورسېږو.

عبادالله او دواخان ولاړو او له څودقیقو وروسته یې له ښخو سره یوځای له کوټو راووتل.

وکیل: خوېندو ستړي مه شئ؟ خددای دي وکړي چې ډېري به نه یاست ستړې شوې؟

بخت بي بي: سلامت اوسې وروره.

مولوي سرفراز: نو راځئ وکیل صایب حرکت وکړو په خیر.

وکیل: زه چمتو یم. تاسي مو خپل لوازم هلکانو ته ورکړئ چې په موټر کي یې ځای په ځای کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ټول له مې لمستون څخه زاوزي او له سيداجان سره خدای په امانی کوي.

مولوي سرفراز له وکيل سره په موټر کې سپرېږي چې له خپله کيل موټروانی کوي او بل څوک په موټر کې نشته ورسره. عبادالله يې له خپلې ښځې سره په لنډ کروزر او دواخان له خپلې ښځې سره په پيکپ موټر کې سپرېږي. موټرو دکابل په لوري حرکت وکړ او په دونه تېز سرعت ځي لکه الوزي چې.

وکيل مولوي سرفراز ته مخ ور واړاوه او ويې ويل: مولوي صايب پلان راته لېږل شوی دی چې سهار بايد عملي شي.

مولوي سرفراز: وکيل صايب ته خو نام خدا په عملياتو باندي تر سلو کسو منصب دارانو هم ښه بلد شوی يې.

وکيل: داد هغو پوځيانو ملګرو لطف دی چې زحمت يې راسره کښلی او ښه زده کړه يي راکړې ده. بله دا چې که يې زحمت نه وای راسره کښلی زه وکيل کېدای هم نه شوای.يوميليون ډالر يې ماه په خپل لاس راولېږل. چې مصرف يې کړم او خپلو سيالانو ته ماتي ورکړم او بلاخره وکيل شم.

مولوي سرفراز: وکيل صايب محترم ددې ټوو دوستانو دوظيفو په هکله يې هم خبر درکړی دی که نه؟

وکيل: پوځيانو ملګرو ټول شيان راته ويلي دي. عبادالله استشهادي دی؛ دواخان له لرې کنټرولونکی دی؛ چې که چېرته په هر دليل سويچ کار ونه کړي هغه عبادالله په توپانچه ولي. ماه جبينه هم له لرې دصحنې فلم ډکوي او بخت بي بي هم دواخان ته په سل متره فاصله کې نيږدې درېږي؛ چې که چېرته دواخان ونيسي ياکومه بله خبره وشي نو عاجل عبادالله په توپانچه ولي!

مولوي سرفراز: بيخي سمه ده وکيل صايب محترم. ماته يې هم ټول شيان ويلي دي خو عبادالله هيڅ په دې خبرو پوه نه دی. هغه فکر کوي چې دوی څلور سره يوځای استشهادي کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



وکیل داخبره یې هم مراته ایمېل کړې وه او حتی یوه ویډیو یې هم راته لېږلې وه چې که چېرته عبادالله مرتد شي او یایې نه غوښتل چې عملیات سرته ورسوي نو هغه ویډیو یې ورښکاره کړم.

مولوي سرفراز: زه یې له ویډیو دقیق نه یم خبر. ویډیو کي څه شی دي؟

وکیل: هی هی مولوي صایب، ندي ده لیدلې ویډیو؟ له عبادالله سره داسي چپه او راسته دابل کار کوي چې خدای دې نه درویني. ما فکر کاوه چې تایې هم خوند لیدلی دی.

مولوي سرفراز: نه با با زه داکلونه کېږي چې له دې کارو مې توبه کښلې ده اوس ناروغ یم. شکر ناروغي لرم او هیڅ قدرت راپکي پاتي نه دی.

وکیل: مولوي صایب، زه خبر یم چې په ځواني کي ډېر شوقي او مست وې؟ په قطعه کي دي څو ځلي دمجاهدینو په خلاف درقص محفل جوړ کړی و.

مولو ي سرفراز: هغه وخت خو ناپوهې او ځواني وه نو، وروسته چې مهاجر شوو او مدرسې ته ولاړو بیا له دې کارو ډېر لري ګرځېدو.

دوی کیسه کوله چې متوجه شو نیږدې شوي و او مولوي سرفراز ته یې وویل: مولوي صاییب به کیسوو داسی ګرم راغل یو چې ماهیپر ته راورسېدلو. لیږ په کراره به ولاړشو چې دسهار لا ډېر لرې دی تر اوسه.

مولوي سرفراز: خیر دی. دښار منځ ته درځئ، دسهار لمونځ ستاپهه مېلمستون کي کوو او له لمر ختو سره سم دعملیاتو په شروع اقدام کوو.

وکیل: ښه خبره دې وکړه مولوي صایب، خو زموږ هغه همغږی کش باید دهدف دباندي دراوتلو موقع دقیقه کړي تر څو موږ اقدام ورباندي وکړو او هدف هم خطانه شي.

دسهار له اذانه مخکي ښارته ننوزي او دښار مرکز ته نارسیده یوې ګوښې ته دوکیل مېلمستون ته ورځي ترڅو دسهار لمنځونه هلته وکړي. مېلمستون ته له رسېدو سره لا

(c) ketabton.com: The Digital Library



دسهار اذان ته ډېر وخت پاتي دی.

مولوي سرفراز: ملګرو دلمانځه تروخته پوري ویده شئ چې په لاره هم ستړ او ستومانه شوئ.

عبادالله: خیر یوسې مولوي صایب، چې بیخي مې ستر ګې له بې خوبي نه خلاصېږي څو دقیقې به ویده شو بیا موته راویښ کړه مخکي تر دې چې لمونځ قضا شي.

مولوي سرفراز: سمه ده، ورشئ ویده شئ.

ټول دوکیل په ګډون مختلفو کوټو ته ننوتل او ویده شول.

عبادالله او ماه جبینه هم مفشنې او ښکلې کوټې ته رهنمایي شول چې دوه کسیز دخوب تخت هم پکي ایښی دی. دواړه سره ویده شول تر څو دا دګډون وروستی خوب ه په دنیا کي تجربه کړي.

ماه جبینه: زما عبادجانه راسه چې سره پرېوزو چې بل ځل به یو بل په جنت کي سره وینو. که څه هم دادنیا ډېره بې وفاده خو لیږ ترلیږه خوند خو به یې وګورو.

عبادالله: لیږ لیږ درسره عادت شوی یم او نه پوهېږم څه وکړم؟ یوې خواته ست مینه او بلې خواته جنت، حیران یم.

ماه جبینه لاس په عبادالله باندي اچوي او ورته وایي: ګرانه، ته په دې سفرکي یوازي نه یې، تر اخیري سلګۍ درسره یمه او نه دي پرېږدم چې یوازي جنت ته ولاړ شې،باید یوځای اوسو.

عبادالله: زما زړه، هره لحظه مي مور اوټوله کورنۍ رایادېږي،پلار مي هیڅ له ستر ګونه لرې کېږي.پهدې باور لرم چې باید داشغالګرو په خلاف جهاد وکړو، خو دکورنۍ له مینې هم باید ستر ګې پټې نه کړو.

ماه جبینه: زړګیه، مخکې له دې چې ویده شو راځه چې له یوه اوبله خوند واخلو

(c) ketabton.com: The Digital Library



تر څو له دې دنیا بې برخې ولاړنه شو.

عبادالله او ماه جبینه یو او بل په غېږه کې ټینګ نیسي، خو اندېښنو اووېرې دعبادالله په ستر ګو کې کور جوړکړی دی او په غمو او اندېښنو کې ډوب دی.

ورو ورو دواړه ویده کېږي.

ددروازې ټک ټک داړه ویښوي، عبادالله په بیړه دکوټې دروازه خلاصوي اوستر ګې یې په مولوي سرفراز لګېږي چې لېږ غوسه هم دی.

مولوي سرفراز: سهار لمانځه ته نه یو راپورته شوي اوس نانوخته شوی دی. ژرکوئ چې ولاړ شو.

عباالله چورتمن ولاړ دی او نه پوهېږي چې څه ووایې.

مولوي سرفراز: ولي پټه خوله یې؟ ژر کوه چې ځو په خیر ملګري مورږ ته منتظر دي.

عبادالله په بیړه دماه جبینې خوا ته ځي او هغه ښوروي: ماه جبینې، ماه جبینې جګه شه چې ناوخته شوی دی.

ماه جبینه چې لېږ وېرېدلې ده له خوبه راپورته کېږي اوپه خپل ځای کې کښېني. رنګ یې الوتی او عبادالله ته ګوري، دعبادالله سر دځان خواته ورکشوي اوهغه په غېږ کې نیسي. نابېره یې داجمله له خولې وزي: افسوس دخلکو په ځوانو زامنو چې ځې او ښکاره ده چې په برخلیک یې څه کېږي.

بیاهم دکوټې دروازه ټکېږي او مولوي سرفراز د دروازې له شاغږ ورکوي: څه شوئ ځوانانو؟

عبادالله: دادی ژر دروزو مولوي صایب.

ژر ژر ځانونه چمتو کوي او ماه جبینه عبادالله ته وایې: ګرانه باید غسلونه مو کړي وای، خو......

(c) ketabton.com: The Digital Library



بيا هم دمولوي سرفراز غږ د دوی تر غوږو کېږي چې وايې: ژر کوئ زما خوږو چې ډېر وخت نه لرو.

عبادالله ژر تشناب ته ځي تر څو مخ ومينځي او ماه جبينه له کوټې دباندې راوزي. ماه جبينه په غوسه مولوي سرفراز ته ګوريي او ورو وايې: خدای پاک د دې ټولو شيانو پوښتنه درنه کوي.

مولوي سرفراز هم ورو ماه جبينې ته وايې: فکر کوم چې ماموريت دې له ياده وتلی دی؟ ما اوتا بايد خپل کاروکړو، نه داچې په نورو زړه وسوځوو.

عبادالله مخ ژر ژر په لمنه وچوي اوپه بېړه له دمولوي سرفراز خواته راځي اووايي: مولوي صايب چمتو يو.

مولوي سرفراز: ژر کوئ چې دوا خان او بخت بي بي په موټر کې موږ ته منتظر دي.

په بېړه دحوېلۍ نه دباندې راوزي ګوري چې ملګري يې په يوه لنډه کروزر موټر کې ناست دي او يو ټونس موټر خالي ولاړ دی، يوازې موټروان دی پکې.

مولوي سرفراز: تاسي ناوخته کړل نو بايد په همدې موټر کې کښېنئ. دموټر په منځ کې ټول شيان شته او دموټر موټروان دعملياتو قومندان دی. دهغه خبرو ته سل په سلو کې غوږ ونيسئ اوعمل ورباندي وکړئ. موږ هم دهغه پلان په اساس چې له موټروان سره دی عمل کوو تر څو داسلامي تحريک لپاره په دنيا کې يوه ښه لاسته راوړنه شي اوپه اخيرت کې تر ټولو زياته لاسته راوړنه زموږ او ستاسي لپاره شي.

ماه جبينه او عبادالله په ټونس کې سپرېږي. اومولوي سرفراز په لنډ کروزر موټر کې له نورو سره ځي. موټروان حرکت کوي له يوه او بل سره فاصله لري خو ديوه او بل له سترګو نه پناه کېږي. وروسته له څو دقيقو څخه موټروان عبادالله ته وايې: عبادالله وروره دلاس دڅنګ په بکس کې دې دوه دانې واسکټونه دي، راويې باسه هغه غټ واسکټ چې زرغون رنګ لري، هغه دنارينه وو لپاره دی ته يې واغونده او

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه بل تور رنګ چې لري او لیږ سپک دی هغه دې خورته ورکړه.

عبادالله د بکس له منځه دواړه واسکټان راباسي، زرغون واسکټ یې په لاس کې نیولی اوحیران دی چې څنګه یې واغوندي.

موټروان: ډېر چرت مه وهه وروره، تر زېر پراهني لاندي یې واغونده چې ونه لیدل شي.

عبادالله: زېرپراهني کاږي واسکټ اغوندي اوبېرته زېرپراهني اغوندي. خو ماه جبینه بیا یوازي کمیس کاږي او په زېر پراهني باندي سربېره واسکټ اغوندي اوبېرته کمیس اغوندي.

موټروان په ډېر دقت موټر څلور لارې ته نیږدې کوي اوموبایل ته یې پیغام راځي. پیغام لولي او په موټر تېزوي له څلورلارې لرې کېږي اودنظامیانو دیوه قراول خولې ته موټر ورنیږدې کوي.

موټروان: ماه جبینې خورې ته ژربښکته شه او موقعیت ونیسه.

ماه جبینه عبادالله په مخ مچوي او له موټره ښکته کېږي او په بېړه ځان مطلوب ځای ته رسوي. موټر هم لیږ مخکې ځي.

موټروان: عبادالله وروره ته هم ښکته شه چټک ځان دقراول مخې ته ورسوه او دخلکو په منځ کې ودرېږه. دواسکټ ښې اړخ ته لاس ور وغځوه یوه نازکه رشمه په لاس درځي، دبسم الله په ویلو سره هغه دځان خواته درکش کړه.

عبادالله ژر ژر له موټره ښکته کېږي خو پښې یې سستي کوي او هر لحظه په دې فکرکې دی چې څه به وشي. دمکتب ماشومان ویني چې چټک چټک دمکتب خواته روان دي څو غیر حاضر نه شي. دوه سپین ږیري هم سړک ججارو کوي تر څو سړک پاک شي او ښار ښکلی ښکاره شي. دشړک یوې ګوښې ته یو تنکی ځوان ویني چې دسپېلنو ډبلی یې په لاس کې دی او هر سړی او موټر چې ویني نوخواته یې ورځي او سپېلني ورته دودوي چې ترڅو یو څو روپۍ ورته ورکړي. د یوې

(c) ketabton.com: The Digital Library



سوالګرې ښځې غږ هم اوري چې فریاد کوي((ورورجانه ماشومان مي ډوډۍ نه لري، دخدای په خاطر مرسته راسره وکړئ.))

داصحنه په عبادالله باندي دونه تاثیر کوي چې هیڅ په دې نه پوهېږي چې څه وکړي. هري خواته حیران حیران ګوري. په دې وخت کي یې دسترګوپه وړاندي دیوې نظامي قطعې خواته دټانګونو یو کاروان روان دی او غواړي چې په خلکو غږ وکړي چې لري شئ. خو ده ته دمفتي انعام الله داخبره وریادېږي چې ورته ویلي یې وه چې مونږ ته دیوه خارجي مرګ مهم دی که لسګونه افغانان له منځه ورسره ولاړ شي هم پروانه لري. \

عبادالله په چټکۍ لاس دواسکټ یوه اړخ ته لاندي وړي او رشمه کشوي. له لیږ لرې فاصلې څخه ماه جبینه چې دکېمرو لینزونه یې دکالو په مختلفو نقطو کي اویوه بله کېمره چې په بکس کي یې ځای په ځای شوې وه او دوه لینزونهه یې دباندي سره وصل و، خو دچا نه ورته پام کېدل صحنه په دقت څارله.

کل چې یې عبادالله ولید چې لاس یې لاندي اړخ ته یووړ، سمدستي یې ځان دهغه ډېرین دېوال شاته غورځار کړ چې دایې څنګ ته ولاړه وه او دیوې ډېري مهیبې او وېرونکې چاودنې غږ یې غوږونه ور درانه کړل. له څو دقیقو ورسته له ځایه راولاړېږي، ګوري چې چیغو، نارو او دامبولانسونو الارموهره خو اپه سر اخیستې ده. دې هم خپل بکس له سمینټې دېواله راواخیست او دواقعې دمحل خواته یې ور منډه کړه. البته منډه یې په داسي انداز کي اخیستې ده چې دکالو کېمرې یې د واقعې دمحل او صحنې سمه ویډیو وکړي.

کله چې دعبادالله دجسد ټوټو ته ور رسېږي ګوري چې دعبادالله دسر او غاړې یوه ټوټه پرته ده او دود ځني پورته کېږي. دهغه دسوځېدلې غوښي بوی انسان ډېر په عذابوي دجسد بلې خواته سوالګره ښځه په وینو لړلې پرته ده او دتل لپاره داولادو دډوډۍ له غمه بې غمه شوې وه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه تنکي ځوان چې سپېلني یې دودول چیغي وهلې او ویل یې: وای خدایه پښه مي څه شوه. ددې نازک ځوان دواړې پښې پرې شوې وې او کالي یې داسي په وینو لت پت و لکه په وینو کي چې یې غوټه وهلې وي.

دځو ماشومانو جسدونه هم پراته و، چې ځودقیقې مخکي یې دمکتب پاکي جامې په تن وې، خو اوس داسي معلومېدل چې دفابریکې کارکونکي دي او دډېرو په سکرو سوځېدلي دي.

دهغو سپین ږیرو دتنو چې مخکي یې سړک جارو کاوه، یوازي څو ټوټې غوښې په سړک معلومېدې. دځو نویو متعلیمو ځوانانو نارې هم له دوکانه راوتې چې ټپیان شوي و. هغه سرتېري چې څو دقیقې وړاندي په پهره ولاړ ول، اوس یې هیڅ نښې نه معلومېږي چ یڅه شول،یوازي دانسانانو دغوښو ځیني ټوټې وې چې هري خواته پرتې وې او یا هم په \ونو پېیې راځړېدې.

ماه جبینې دصحنې له عکاسي کولو وروسته کرار کرار صحنه پرېښوده او د وکیل د مېلمستون په لوري روانه شوه. له نیم ساعت پلي مزل وروسته ځان دمېلمستون مخې ته رسوي. دمېلمستونن مخې ته مولوي سرفراز ولاړ دی. ماه جبینه مولوي سرفراز ته سلام وراچوي، مېلمستون ته ننوزي او په بیړه دتعمیر منځ ته ځي، ګوري چې دواخان ماه جبینې ته په له خندا ډکه خوله وایي: ستړي مه شې قارمانې!

ماه جبینه: سلامت اوسئ، خو زما دزړه محبوبهم ولاړ له عبادالله مخکي مي هم له څو نورو استشهادیانو سره نکاح کړې وه خو یو یې هم د مظلوم عبادالله په اندازه راته ګران نه و!

مولوي سرفراز هم راننوزي او ډېره په قهقه خندا دخپلې بریا مبارکیاني یوه او بل ته وایي.

په همدې وخت کي وکیل هم کور ته راننوزي او او له لرې په ډېره خوشحاله څېره دمولوي سرفراز خواته راځي او وایې: مبارک دي وي مولوي صایب. لکه چې کافرانو

(c) ketabton.com: The Digital Library



ته ښه ډېر تاوان ورسېده. ژر ټلويزيون روښانه کړه چې خبرونه واورو تر نيم ساعت وروسته مو ستاسي لپاره يو په زړه پورې محفل جوړ کړی دی چې ډېره مشهوره سندرغاړې به سندرې پکې وايي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**